# فهرس


فهرس 3
د لوی او مهربان الله په سپېڅلي نامه 1
په احادیثو کې د وخت اهمیت 5
د محرم د میاشتې اهمیت 12
د عاشورا د ورځې د روژې اهمیت 13
د عاشورا د روژې سره بله روژه نیول 15
د رجب د میاشتې اهمیت 17
د شعبان دمیاشتې اهمیت 19
د شعبان د پنځلسمې شپې (شب برات) اهمیت 21
د رمضان اهمیت 22
د رمضان د اولې شپې اهمیت 23
رمضان گناهونه ختموي 27
په رمضان کې د عمرې اهمیت 29
په رمضان کې د شپې مونځ او تراویح 29
په رمضان کې غوره عمل اعتکاف 30
په رمضان کې صدقه 31
پېشمنی هم غوره وخت دی 31
د روژه ماتي په وخت کې دعا قبلیږي 33
د رمضان د وروستیو لسو ورځو اهمیت 34
د لیلة القدر اهمیت 37
د وړوکي اختر د ورځې اهمیت 44
د شوال د شپږو ورځو د روژو اهمیت 47

مسئلې ........................................................ 50
د ذی الحجې د میاشتې اهمیت.................................. 52
د عرفات د ورځې اهمیت ....................................... 54
د لوی اختر د ورځې اهمیت ................................... 61
د لوی اختر ورځ په اسلام کې.................................. 63
په عید کې د کفارو مخالفت.................................... 64
په عید کې خوشحالي کول ..................................... 65
نوې او یا وینځلې جامې آغوستل.............................. 68
د اختر په ورځ د غریبانو سره مرسته کول .................. 71
د اختر په ورځ عفو کول ....................................... 73
د ایام بیض اهمیت............................................... 76
د جمعې د ورځې اهمیت......................................... 79
د جُمعې په ورځ په یو ساعت کې دعا قبلیږي................ 83
د جُمعې په ورځ سورة کهف خاص ثواب لري................. 86
د جُمعې په ورځ جهنم تر نورو ورځو یخ وي ................ 86
د جُمعې په ورځ خاص مونځ دی................................ 87
د جُمعې ورځ د هفتې عید دی.................................. 90
د جمعې په ورځ خیرات کول غوره دي......................... 91
د دوشنبې او پنجشنبې د ورځو اهمیت........................ 92
د شپې د آخرې برخې اهمیت ................................... 94
د شپې د مانځه اهمیت......................................... 96
د سحر وختي اهمیت............................................. 113
آیة الکرسي ..................................................... 122
سورة الاخلاص او معوذتین..................................... 122
د سحر د مونځ اهمیت........................................... 133

د سحر مونځ منافقينو ته ډېر سخت دی........................134
د سحر مونځ کونکو ته زيری........................................135
لمړی زيری.................................................................135
دوهم زيری................................................................136
دريم زيری.................................................................137
څلورم زيری...............................................................139
پنځم زيری.................................................................140
شپږم زيری.................................................................141
اوم زيری...................................................................143
آتم زېری...................................................................144
نهم زېری..................................................................145
لسم زيری..................................................................146
لمړی فايده...............................................................147
دوهمه فايده.............................................................148
دريمه فايده..............................................................149
د ځاښت د وخت اهميت................................................152
د ځاښت مونځ لويه صدقه..............................................155
د ځاښت مانځه ته لوی غنيمت ويل شوی دی.......................156
د ځاښت د مانځه وخت..................................................160
د ځاښت د مانځه رکعتونه..............................................160
د ماسپښين د وخت اهميت..............................................162
د ماسپښين د مانځه نه وروسته دعا قبليږي.........................163
د مازيګر نه وړاندې وخت...............................................164
د مازيګر د وخت اهميت.................................................165
د ماښام د وخت اهميت..................................................169

د ماسخوتن د وخت اهمیت......................................................170
ددعاء د قبلېدلو وختونه......................................................171
۱. د اذان او اقامت په مینځ کې......................................................172
۲. د شپې مینځ......................................................174
۳. د سجدې په وخت کې......................................................176
٤. د مانځه په اخر کې......................................................177
٥. د جُمعې د خطبې د شروع نه د مانځه تر ختم پورې
......................................................184
٦. د جُمعې د ورځې اخري ساعت......................................................185
۷. د شپې آخري برخه......................................................189
۸. د شپې د را وېښېدلو په وخت......................................................191
۹. د چا په غیاب کې ورته دعاء کول......................................................192
۱۰. د باران په وخت کې او د جهاد په وخت کې.....193
۱۱. د رمضان په میاشت کې......................................................193
۱۲. د روژه ماتي وخت......................................................195
۱۳. د فرض مانځه نه وروسته......................................................196
۱٤. د اوداسه او دوه رکعته مونځ نه وروسته.......197
۱٥. د زم زم اوبو د څښلو په وخت کې......................................................197
۱٦ . په اوداسه ویده کېدلو او د شپې د را پاڅېدلو په وخت......................................................198
۱۷. په لا اله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين سره دعاء کول......................................................198
۱۸ . د بیمار د پوښتنې یا مړي ته د ورتلو په وخت
......................................................199
۱۹. د حمد او ثناء او درود نه وروسته......................................................200
۲۰. د عرفات ورځ......................................................201
۲۱. د ذکر په مجلس کې......................................................202

۲۲. د مصیبت په وخت کې ........................................ 206
۲۳. د پوره یقین په وخت کې ........................................ 206
۲٤. د مظلومیت په وخت کې ........................................ 207
۲٥. د پلار دعاء زوی ته ........................................ 209
۲٦. د زوی دعاء پلار ته ........................................ 210
ماخذونه ........................................ 210
د مؤلف چاپ شوي آثار ........................................ 214

# د لوی او مهربان الله په سپېڅلي نامه

الحمدلله ربِّ العالمين حمدًا كثيرًا مباركًا طيِّبًا فيه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أنَّ محمَّدًا عبده ورسوله، أمَّا بعد؛

رسول الله د وخت د اهمیت په اړه فرمايي :

لاَ تَزُولُ قَدَمَا ابْنِ آدَمَ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عِنْدِ رَبِّهِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ: عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ، وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلاَهُ، وَمَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَا أَنْفَقَهُ، وَمَاذَا عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ . 1

ترجمه : د قیامت په ورځ به بنده تر هغه وخته پورې په خپل ځای ولاړ وي (حساب به یې نه وي ختم) چې ترڅو له ده څخه د پنځو شیانو په اړه پوښتنه شوې نه وي دده د عمر نه چې په څه کې یې تېر کړو ، دده له ځواني نه چې په څه کې یې زړه کړه ، دده له مال څخه چې له کومه یې پیدا کړو او په څه کې یې مصرف کړو، او دا چې ده په هغه څه کې چې دی وربانديې پوهېدو څه عمل وکولو.

1 رواه الترمذي

چې کله دا حديث تاسې لولئ او هغه کسان چې په عربي متن نه پوهيږي هغوی چې ددې حديث ترجمه ګوري نو آيا تاسې ته په زړه کې دا سوال درځي چې له بنده څخه به دا پوښتنه کونکی څوک وي؟

ځواب يې ښکاره دی چې دا پوښتنه کونکی الله دی چا چې انسان ته ژوند عمر او وخت ورکړی دی ترڅو يې د الله په عبادت او په آخرت کې د ابدي ژوند د ښه کولو لپاره مصرف کړي .

او که مونږ خپل ګريوان ته سر ښکته کړو د هغه ذات په وړاندې چې له هغه څخه هيڅ شی په زمکه او اسمانونو کې پټ نه دي هغه ته به څه ځواب ورکوو؟ نو ددې پوښتنو ځواب انسان بايد په دنيا کې له ځان سره ولري رسول الله اول عمر ياد کړی دی ځکه چې دا ډير مهم دی او دا څه يو نعمت نه بلکه نعمتونه دي هر نفس چې انسان يو ځل اخلي هغه تېر شي دوهم ځل نفس اخيستل او يا نفس پرېښودل دا هريو بېل بېل نعمت دی که الله انسان ته د نفس (ساه) اخيستلو او يا نفس بېرته پرېښودلو اجازه او وخت ورنه کړي نو انسان مړ کيږي ددې امله هر نفس اخيستل او هر نفس پرېښودل بېل بېل نعمت دی او د همدې نه زمونږ عمر جوړدی او د همدې تسلسل په نتيجه کې مونږ ژوندي يو او بيا ثانيې ، دقيقې، ساعتونه، ورځې، هفتې ، مياشتې او کلونه تېروو چې همدا زمونږ عمر دی .

د حضرت حسن بصري نه روايت شوى دى هغه فرمايل :

**ما من يوم ينشق فجره إلا وينادى يا ابن آدم أنا خلق جديد وعلى عملك شهيد فتزود منى فإني إذا مضيت لا أعود إلى يوم القيامة .**

ترجمه : د هرې ورځې چې سبا را خيږي هغه بنده ته اواز کوي اى د آدم زويه زه يو نوى مخلوق يم او ستا په عملونو باندې ګواه يم زما څخه د ځان لپاره توښه برابره کړه بېشکه چې زه يو ځل لاړمه بيا تر قيامته پورې بېرته نه را ګرځم .

حضرت ابن مسعود فرمايي :

**ما ندمت على شيء ندمى على يوم غربت شمسه نقص فيه أجلى ولم يزد فيه عملي .**

ترجمه : زه په هېڅ شي دومره نه پښېمانه (خفه) کېږم لکه په هغه ورځ چې د هغې لمر پريوزي (تېره شي) د هغې په وجه زما عمر کم شي لکن زما عمل پکې زياد نشي .

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله فرمايل :

ما من میت یموت إلا ندم قالوا و ما ندامته ؟ قال:إن کان محسنا ندم إن لا یکون ازداد و إن کان مسیئا ندم إن لا یکون استعتب. 1

ترجمه : له دنیا څخه چې هر څوک مړ شي هغه پښېمانه کیږي صحابه وو پوښتنه وکړله چې پښېماني به یې څه وي (په څه شي به پښېمانه کیږي؟) رسول الله ورته وفرمایل: که چېرته نېک وي نو پدې به پښېمانه وي چې ولې یې زیاد عمل ونه کولو او که عمل یې خراب وي نو پدې به پښېمانه وي چې ولې نېک نه وو .

[1] رواه الترمذي

# په احادیثو کې د وخت اهمیت

رسول الله فرمايي :

اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَك قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ . 1

ترجمه : د پنځو شیانو څخه وړاندې پنځه شیان غنیمت وشماره ځواني له زوړ والي څخه وړاندې، صحت له بیماري څخه وړاندې ، مالداري له غربت څخه وړاندې، فارغ والی د مصروفیت څخه وړاندې، ژوند له خپل مرګ نه وړاندې.

پدې حدیث کې رسول الله مونږ ته دا ښکاره کړې چې باید تاسې پدې دنیا کې په هېڅ وخت باندې غره نه شئ دا هر وخت تېرېدونکي دی ددې امله چې کله تاسې په راحت کې یاست نو د زحمت د وخت لپاره پکې تیاری وکوئ پداسې حالت کې چې تاسې ځوانان یاست دا ځواني نعمت او غنیمت و ګڼئ او دومره زیات نېک اعمال پکې وکوئ چې څومره ستاسې په وس وي پدې پسې به بیا داسې وخت در باندې راځي چې بیا به تاسې زاړه شوي یاست په بدن کې به مو زور نه وي ډېر وخت عبادت به نشئ کولئ ډول ډول بېماریانې به مو په ځان کې وي او اوس چې کوم کارونه کولئ شئ بیا به دومره

[1] رواه الحاکم عن ابن عباس

درڅخه نه کیږي همدارنګه کله چې تاسې جوړ یاست او هېڅ ډول بیماري مو په ځان کې نه وي نو دا حالت غنیمت و ګڼئ او مخکې له دې چې تاسې بیمار شئ نو نېک عملونه وکوئ نو چې کله بیمارشئ بیا به مو ټول هغه کارونه په وس پوره نه وي چې اوس یې تاسې کولئ شئ کله چې تاسې مالدار یاست نو تر هغه حالت څخه تاسې ډېر او په ښه ډول نېک اعمال کولئ شئ چې ستاسې لاس تنګ شي بیا به تاسې هېڅ ډول مالي عبادتونه نشئ کولی نو چې اوس مو لاس چلیږي دا غنیمت وشمارئ او فایده ترې پورته کړئ او د خپل آخرت لپاره څه وکوئ او چې تاسې اوس فارغ یاست څه کار مو نه وي نو ددې وخت نه فایده پورته کړئ یو وخت به داسې راشي چې تاسې به عبادت کول غواړئ بیا به مو څه ذمه واریانې او کارونه وي چې تاسې به د الله ذکر ته نه پریږدي او نه به ددې وخت درکوي چې تاسې عبادت وکوئ نو اوس دا خلاصېدل خپل غنیمت و ګڼئ او بالآخره اوس تاسې ژوندي یاست الله تاسې ته ژوند درکړی دی پدې کې تاسې د اختیار خاوندان یاست هرڅه کولئ شئ لږ وخت وروسته به تاسې مړه شئ بیا به تاسې هېڅ نشئ کولی هلته به بیا ډېر خلک ووایي چې ای ربه مونږ بېرته دنیا ته وګرځوه مونږ به نېک عملونه وکوو لکن داسې به نه کیږي دا موقع به له لاسه وتلې وي نو رسول الله ځکه فرمایي چې له مرګ نه وړاندې دا خپل وخت غنیمت و ګڼئ او فایده ورڅخه پورته کړئ .

او دا پورته ياد کړل شوي ښه حالتونه ټول د الله نعمتونه دي الله چې په دنيا کې انسان ته هر نعمت ورکوي نو په آخرت کې به د هغه نعمت په اړه ورڅخه پوښتنه کيږي نو ددې نکتې له مخې نېکبخت انسان يوازې او يوازې هغه کس دی چې د الله دا نعمتونه په ښه توګه مصرف کړي او داسې څه پکې وکوي چې دده په آخرت کې په ښه راشي او په دنيا کې له ځان سره فکر وکوي چې الله به په آخرت کې لما څخه ددې نعمت په اړه پوښتنه کوي زه به ورته څه ځواب وايم او الله هغه پوښتنه کونکی دی چې هيڅ شی د هغه نه پټ نه دي او د هغه په وړاندې يوازې او يوازې هغه ځواب ځای نيسي چې رښتونی او له هر ډول شک او ترديد څخه لرې وي .

رسول الله فرمايي:

## نعمتان مغبون فيهما كثير من الناس الصحة والفراغ. 1

ترجمه : دوه نعمتونه دي چې د هغې په اړه اکثر خلک په نقصان او تاوان کې دي (يعني چې د څه لپاره دي په هغه کې يې نه مصرفوي او په سمه توګه له هغه نعمتونو څخه کار نشي اخستلی) يو صحت او بل فارغ والی دی .

معنی دا چې وخت يو قيمتي شی دی او لوی نعمت دی چې هرڅوک يې هغه وخت په قدر پوهيږي کله چې دا نعمت ورڅخه واخيستل شي په يو وخت کې به

[1] رواه البخاري

يو څوک ددې اميد کوي چې کاش ماته يوه دقيقه ددې لپاره راکړل شوې واى چې ما پکې الله ته رجوع کړې واى او الله مې پکې ياد کړى واى لکن نه به ورکوله کيږي او اوس چې د هر چا سره وخت شته خو څوک ترينه سمه فايده نه پورته کوي او په پورتني حديث کې همدې خبرې ته اشاره ده چې فرمايي اکثر خلک ددې په اړه په نقصان او تاوان کې دي .

حضرت خزيمة بن ثابت فرمايي ما د حضرت عمر څخه واوريدل چې زما پلار ته يې فرمايل : پدې زمکه کې د ولې نهال نه ايږدې؟ زما پلار ورته وويل : زه بوډا سړى يم سبا مړ کيږم حضرت عمر ورته وويل : نه ته عزم وکوه او نهال کيږده بيا ما حضرت عمر وليدو چې زما د پلار سره يې نهال کېښودل .[1]

په پورتني حديث کې حضرت عمر د حضرت خزيمه بن ثابت پلار ته ور وښودل چې د مرګ له ويرې خپل وخت داسې مه تېروه چې ته پکې عمل نشې کولى بلکه که هرڅو ستا په نظر کې ستا سره لږ وخت دى د هغه څخه فايده پورته کړه او استعمال يې کړه او کار ورڅخه واخله او بيا يې ددې لپاره چې هغه ته حوصله ورکړې نو يې پخپله هم ورسره د نهال کولو کار وکولو .

[1] رواه الطبراني

حضرت ابو الدرداء د كعبې مخې ته ودرېد او له خلكو څخه يې پوښتنه وكوله : په تاسې كې داسې نه ده چې څوک د سفر اراده لري توښه ورته برابروي؟ خلكو ورته وويل : هو! بيا ده مبارک ورته وويل نو بيا د آخرت سفر ستاسې تر ټولو نه اوږد سفر دی .

خلكو ورته وويل : مونږ ته يې توښه وښايه

ده مبارک وفرمايل :

حجوا حجة لعظائم الأمور, وصلوا ركعتين في ظلمة الليل لوحشة القبور, وصوموا يوما شديدا حره لطول يوم النشور.

ترجمه : حج وكوئ د لويو كارونو لپاره او په تياره شپه كې دوه ركعته مونځ وكوئ د قبرونو د وحشت د لرې كولو د پاره او د سختې ګرمۍ په ورځ كې روژه ونيسي د قيامت د اوږدې ورځې لپاره (چې هغه درته اسانه شي)

د حضرت ابي هريره نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله فرمايل :

أعذر الله إلى امرئ أخر أجله حتى بلغه ستين سنة . 1

ترجمه : الله د انسان عذر ختم كړو چې هغه ته يې شپېته كاله عمر وركړو (ددې عذر اوس نشي

[1] صحيح البخاري

ویلی چې لما سره د عبادت کولو لپاره وخت نه وو او یا زه له دنیا څخه زر مړ کړل شوم) .

رسول الله فرمایي :

إِنْ قَامَتِ السَّاعَةُ وَبِيَدِ أَحَدِكُمْ فَسِيلَةٌ، فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا تَقُومَ حَتَّى يَغْرِسَهَا فَلْيَفْعَلْ . 1

ترجمه : که په تاسې باندې قیامت په داسې حالت کې راغلو چې ستاسې د یو کس په لاس کې نیالګی وو نو که دده سره دومره وخت وو چې د قیامت د شروع کېدلو څخه وړاندې یې هغه نیال کولی شول نو نیال د کړي .

په حدیث کې رسول الله مونږ ته نصیحت کوي چې د وخت نه باید تاسې فایده پورته کړئ او دا فکر ونه کوئ چې وخت لږ دی .

ددېنه وړاندې به ستاسې لاسونو ته ددې کتاب نه مخکنی رساله (د وخت اهمیت لمړی برخه) در رسېدلې وي په هغه رساله کې مونږ د قرآن کریم د آیتونو په رڼا کې د وخت په اهمیت باندې خبرې کړې وې او پدې رساله کې ستاسې فام هغه مبارکو وختونو ته را ګرځوم چې زیات اهمیت لري او د هغه اهمیت ته رسول الله په مختلفو احادیثو کې اشاره کړې ده او څرنګه چې په همدې او نورو مختلفو موضوعاتو باندې قرآني دلا ئل ددې نه په وړاندې رساله کې تېر شوي دي نو

1 صحیح البخاري

بیا یې نه راګرځوم او یوازې او یوازې په احادیثو سره ښکلا ورکوم کېدای شي ددې رسالې د لوست نه وروسته چا ته د وختونو اهمیتونه ور ښکاره شي او کوښښ وکوي چې له کوم وخت نه فایده پورته کړي نو شروع کوم د محرم د میاشتې له اهمیت نه او بیا تاسې او دا رساله سره پرېږدم امید دی ستاسې د ډېرې فایدې وړ به وګرځي .

# د محرم د مياشتې اهميت

الله د محرم مياشتې ته بهتري ورکړېده او دا يې يوه غوره مياشت ګرځولې ده ددې د فضيلت په اړه يو حديث دى :

حضرت ابو ذر فرمايي ما له رسول الله څخه پوښتنه وکوله چې کومه شپه او کومه مياشت غوره ده رسول الله راته وفرمايل :

خير الليلِ جوفُهُ، وأفضلُ الأشهرِ شهرُ الله الذي تدعونهُ المحرَّم . 1

ترجمه : په شپه کې غوره وخت د شپې نيمايي دى او غوره مياشت د الله مياشت ده چې تاسې ورته محرم واياست .

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله فرمايل :

أفضل الصيام بعد رمضان شهر الله المحرم، وأفضل الصلاة بعد الفريضة صلاة الليل . 2

ترجمه : د رمضان څخه وروسته غوره روژه د محرم ده او د فرضو نه وروسته غوره مونځ د شپې مونځ دى .

---

[1] النسائي
[2] صحيح مسلم

امام ابن رجب فرمايي : رسول الله په پورتني حديث کې محرم ته شهر الله (د الله مياشت) ويلي دي او دا هم د محرم د مياشتې په زيات عزت او قدر باندې دلالت کوي ځکه الله ته په مخلوقاتو کې يوازې د هغه شي اضافت کيږي چې هغه ډير خاص او د لوی قدر وړ وي او په يو بل ځای کې الله د روژې نسبت هم ځان ته کړی دی الله هلته د روژې په اړه فرمايلي دي چې روژه زما لپاره ده او زه د هغې اجر او بدله ورکوم نو دلته چې د محرم د مياشتې نسبت هم الله ته شوی دی او د روژې د عبادت نسبت هم الله ته شوی دی نو دا ډيره مناسبه خبره ده چې ډيرې نفلي روژې په همدې مياشت کې ونيول شي .

## د عاشورا د ورځې د روژې اهميت

په محرم کې يوه ورځ ده عاشورا چې د محرم د مياشتې په لسم راځي او په اسلامي تاريخ کې يوه مهمه ورځ ده او له اسلام څخه وړاندې هم ددې زيات قدر کېدو پدې ورځ باندې روژه نيول يو خاص فضيلت لري ددې ورځې د روژې په اړه حدېث دی چې د رسول الله نه د عرفات د ورځې د روژې په اړه پوښتنه وشوه رسول الله وفرمايل : **يكفر السنة الماضية والباقية** (يعني د يو کال تېر او يوه راتلونکي کال گناهونه معاف کوي) او کله چې د

عاشورا د ورځې د روژې په اړه ورځخه پوښتنه وشوه نو رسول الله وفرمایل : **صوم يوم عاشوراء يكفر سنة ماضية** (یعني د یوه تېر شوي کال ګناهونه معاف کوي) .

امام نووي ددې حدیث د معنی په اړه فرمایي چې دا او داسې نور هم ډېر احادیث دي لکه چې راغلي دي چې یوه جمعه تر بلې جُمعې پورې او یو مونځ تر بل مونځ پورې ټول ګناهونه معاف کوي ددې احادیثو مطلب دا وي چې ټول واړه ګناهونه معاف کوي او پدې کې تقدیر وي ( الا الکبائر)

قاضي عیاض ددې حدیث د معنی په اړه فرمایي : دا چې د ټولو ګناهونه بښل یادیږي دا صرف واړه ګناهونه وي او لوی ګناهونه یا په توبه او یا د الله په رحمت سره بښل کیږي .

# د عاشورا د روژې سره بله روژه نیول

زمونږ اسلام هر وخت مونږ له کفارو سره د مشابهت کولو څخه منع کوي او په هرڅه کې چې د هغوی سره مشابهت وي اسلام مونږ ته د هغه کار له کولو څخه منع کوي که هغه خوراک ، څښاک ناسته ولاړه لباس او هر شی وي حتی په عبادت کې هم څرنګه چې یهودو به هم د عاشورا د ورځې روژه نیوله نو که مسلمانان هم د عاشورا روژه ونیسي نو د هغوی سره مشابهت راځي ددې امله اسلام مونږ ته امر کوي چې مونږ به دوه ورځې روژه نیسو یا به ورسره یولسمه روژه کوو او یا به ورسره نهمه روژه کوو او رسول الله ﷺ پدې اړه فرمایلي دي :

## لئن عِشتُ إلى قابل لأصُومنَّ التاسع

ترجمه : که زه تر راتلونکي عاشورا پورې پاتې شوم نو زه به نهمه هم ورسره روژه کوم .

د عاشورا د روژې په اړه امام ابن قیم فرمایي :

د عاشورا په روژه کې درې مرتبې دي :

۱. تر ټولو نه غوره مرتبه

غوره مرتبه داده چې انسان درې ورځې روژه ونیسي نهمه ، لسمه او یولسمه

الف : غوره مرتبه داځکه ده چې انسان درى ورځې روژه ونسي ۹، ۱۰ او ۱۱ نو دا درى ورځې روژه شي او ضروري خبره ده چې درى ورځې روژه تر يوه او يا دوه ورځو نه غوره ده او پدې اړه يو حديث هم راغلى دى رسول الله فرمايي:

صوموا يومًا قبله ويومًا بعده .1

ترجمه : يوه ورځ ترې وړاندې روژه ونيسي او يوه ورځ ترې وروسته روژه ونيسئ .

ب: دا درى ورځې چې روژه ونيول شي پدې سره انسان مطمئن هم شي ځکه لسم د مياشتې کله په شک کې وي ځکه د مياشتې را ختل په يقيني توګه نشي معلومېدلى چې کله راختلې وه نو چې انسان دا درى ورځې روژه ونيسي نو که مياشت يوه ورځ وروسته او يا مخکې هم راختلې وي له شک نه وزي .

۲ . دوهمه مرتبه داده چې انسان د نهم او لسم روژه ونيسي

الف : دا ځکه غوره ده چې لږ وړاندې ښکاره حديث ورباندې تېر شو رسول الله فرمايل که زه تر بل عاشور پورې پاتې شوم زه به نهم هم ورسره روژه کوم .

ب : حضرت عبدالله ابن عباس به فرمايل :

---

1 صحيح مسلم

صوموا التاسع والعاشر، خالفوا اليهود.[1]

ترجمه : د نهم او لسم روژه ونيسئ له يهودو سره مخالفت وکوئ .

٣. دريمه مرتبه داده چې انسان صرف د عاشور ورځ روژه ونيسي

ددې په فضيلت کې هم احاديث راغلي دي او رسول ﷲ هم پدې ورځ روژه نيولې ده لکن علماوو ددې امله چې پدې ورځ يهود روژه نيسي نو صرف ددې ورځې روژه نيول مکروه ګڼلي دي .

## د رجب د مياشتې اهميت

رجب هم يو له هغو مبارکو مياشتو څخه ده چې ﷲ د حرام په مياشتو کې ګڼلې ده او په احاديثو کې ددې مياشتې هم ډېر زيات فضائل بيان شوي دي حضرت انس ابن مالک فرمايي رسول ﷲ ددې مياشتې په اړه فرمايل :

خيرة االله من الشهور شهر رجب وهو شهر االله عز وجل من عظم شهر رجب فقد عظم أمر االله ومن عظم أمرالله أدخله جنات النعيم وأوجب له رضوانه الأكبر وشعبان شهري فمن عظم شهر شعبان فقد عظم أمري ومن عظم

[1] صحيح الترمذي

أمري كنت له فرطا وذخرا يوم القيامة وشهر رمضان شهر أمتي فمن عظم شهر رمضان وعظم حرمته ولم ينتهكه و صام نهاره وقام ليله وحفظ جوارحه خرج من رمضان وليس عليه ذنب .

ترجمه : د الله په میاشتو کې غوره میاشت د رجب ده دا د الله میاشت ده چا چې د رجب د میاشتې تعظیم وکولو ده د الله د امر تعظیم وکولو او چا چې د الله د امر تعظیم وکولو الله به هغه جنتونو ته ننباسي او هغه ته به خپله لویه رضا واجبه کړي او شعبان زما میاشت ده چا چې د شعبان د میاشتې تعظیم وکولو ده زما د امر تعظیم وکولو او چا چې زما د امر تعظیم وکولو د قیامت په ورځ به دده لپاره فراخي وي او د رمضان میاشت زما د امت میاشت ده چا چې د رمضان د میاشتې تعظیم وکولو او د هغې د حرمت تعظیم یې وکولو او د هغې حرمت یې سپک ونه ګڼلو او د هغې د ورځې روژه یې ونیوله او د شپې یې پکې مونځ وکولو او خپل اندامونه یې پکې وساتل دا به پداسې ډول له رمضان څخه وزي چې دده هیڅ ګناه نه وي .

د رجب (چې مونږ ورته بزرګه وایو) پدې کې روژه خاص ثواب لري پدې اړه حضرت انس ابن مالک فرمایي :

قال رسول االله صلىاالله عليه وسلم إن في الجنة نهرا يقا ل له رجب أشد بياضا من اللبن وأحلى من العسل من صام من رجب يوما سقاه االله من ذلك النهر

ترجمه : رسول الله فرمايل بېشکه په جنت کې يو نهر دى هغه ته رجب ويل کيږي اوبه يې تر شودو څخه ډېرې سپينې دي او تر شهدو نه خوږې دي چا چې د رجب په مياشت کې روژه ونيوله الله به ددې نهر څخه اوبه ورکوي .

حضرت انس ابن مالک فرمايي:

كان رسول االله صلى االله عليه وسلم إذا دخل رجب قال اللهم بارك لنا في رجب وشعبان وبلغنا رمضان.

ترجمه : کله به چې رجب را داخل شو رسول الله به فرمايل اى الله مونږ ته په رجب او شعبان کې برکت واچوه او مونږ رمضان ته ور ورسوه .

## د شعبان دمياشتې اهميت

په رجب پسې وروسته د شعبان مياشت راځي دا هم مبارکه مياشت ده په احاديثو کې يې ذکر زيات راغلى دى حضرت ابي سلمه فرمايي ما د حضرت عائشې نه په شعبان کې د رسول الله د روژې په اړه پوښتنه وکوله دې مبارکې راته وويل :

کان یصوم حتى نقول قد صام ویفطر حتى نقول قد أفطر ولم أره صام من شهر قط أکثر من صیامه شعبان کان یصوم شعبان کله إلا قلیلا

ترجمه : رسول الله به پدې میاشت کې روژه نیوله چې کله به مونږ ویل بس دده نوره روژه شوه او کله به یې نه هم نیوله چې مونږ به ویل دی نور روژه نه نیسي خو د شعبان نه بغیر مونږ رسول الله په بله میاشت کې (د رمضان نه بغیر) زیاته روژه نیوونکی نه وو لیدلی بغیر د یو څو ورځو نه نوره به یې ټوله شعبان میاشت په روژه تېروله .

امام بیهقي یو حدیث نقل کړی دی چې حضرت عائشه فرمایي :

أحب الشهور إلى رسول االله صلى االله علیه وسلم أن یصومه شعبان ثم یصله برمضان

ترجمه : رسول الله ته د روژې لپاره تر ټولو نه محبوبه میاشت د شعبان وه بیا به یې په رمضان پورې (په روژه نیولو کې) پیوسته کوله .

حضرت انس ابن مالک فرمایي :

قیل یا رسول االله أي الصوم أفضل قال صوم شعبان

تعظيما لرمضان قال فأي الصدقة أفضل قال صدقة في رمضان

ترجمه : وويل شول چې يا رسول الله ﷺ كومه روژه غوره ده؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د شعبان روژه د رمضان د تعظيم لپاره بيا پوښتنه كونكي ورته وويل كومه صدقه غوره ده رسول الله ﷺ ورته وفرمايل په رمضان كې صدقه .

## د شعبان د پنځلسمې شپې (شب برات) اهميت

دا هم مباركه او د قدر وړ شپه ده او ددې شپې رڼا كول (په عبادت ذكر او تلاوت سره ويښه تېرول) د لوى ثواب لامل ګرځي او پدې اړه رسول الله ﷺ فرمايي :

إذا كانت ليلة النصف من شعبان فقوموا ليلَها وصوموا نهارها [1]

ترجمه : كله چې د شعبان د پنځلسم شپه وي نو د شپې يې قيام وكوئ او د ورځې يې روژه ونيسئ .

1 . ابن ماجه

رسول الله ﷺ چې ددې شپې په فضيلت باندې ښه خبر وو نو ځکه يې امت ته نصيحت کړی دی چې ددې شپې د اهميت څخه فايده پورته کړئ او ګټه ورڅخه واخلئ او څرنګه چې ددې شپې هره لحظه قيمتي ده مه يې پرېږدئ چې ضائع شي .

## د رمضان اهميت

د جنت دروازې پکې خلاصيږي

حضرت انس ﷺ فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

**هذا شهر رمضان جاءكم تفتح فيه أبواب الجنة وتغلق فيه أبواب النار وتسلسل فيه الشياطين.** [1]

ترجمه : دا مياشت ده چې تاسې ته راغلې ده پدې کې د جنت دروازې خلاصيږي او د جهنم دروازې پکې بنديږي او شيطانان پکې تړل کيږي .

[1] النسائ

# د رمضان د اولې شپې اهميت

د حضرت ابي هريره نه روايت دى هغه فرمايي رسول الله فرمايل :

**إذا كان أول ليلة من شهر رمضان صفدت الشياطين ومردة الجن ، وغلقت أبواب النار فلم يفتح منها باب ، وفتحت أبواب الجنة فلم يغلق منها باب ، وينادى مناد كل ليلة : يا باغي الخير أقبل ويا باغي الشر أقصر ، ولله عتقاء من النار وذلك كل ليلة.** [1]

ترجمه : کله چې د رمضان د مياشتې اوله شپه شي شيطانان او بد پېريان وتړل شي او د جهنم دروازې وتړل شي بيا ترې هېڅ دروازه نه خلاصيږي او د جنت دروازې خلاصې شي بيا ترينه هېڅ دروازه نه بنديږي او يو اواز کونکى هره ورځ اواز کوي او وايي :

اى د خير نه بغاوت کونکى بېرته مخ را واړوه (خير ته رجوع وکوه) او اى د شر لور ته بغاوت کونکيه (بد عمل کونکيه) کوتاهي وکوه (په خپلو بدو عملونو کې کمښت راوله) او الله د شپې څه کسان له اور نه ازادوي (بښنه ورته کوي) او دا په رمضان کې هره شپه وي .

[1] اخرجه احمد

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله فرمايل :

أتاكم شهر رمضان شهر مبارك فرض الله عليكم صيامه تفتح فيه أبواب الجنة ،وتغلق فيه أبواب الجحيم ، وتغل فيه مردة الشياطين ، وفيه ليلة خير من ألف شهر من حُرم خيرها فقد حُرم. [1]

ترجمه : تاسې ته يوه مياشت راغلې ده مباركه ده الله په تاسې باندې فرض کړېده د هغې روژه په هغې کې د جنت دروازې خلاصيږي او د جهنم دروازې بنديږي او پدې کې شيطانان تړل کيږي او پدې کې يوه شپه ده چې تر زرو مياشتو څخه غوره ده څوک چې د هغې د خير نه محروم شول هغه محروم شول (له هر ډول خير نه) .

[1] سنن النسائ

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله فرمايل :

إذا دخل شهر رمضان فتحت أبواب الجنة وغلقت أبواب جهنم وسلسلت الشياطين. [1]

ترجمه : كله چې د رمضان مياشت داخله شي نو د جنت دروازې خلاصې كړل شي او د جهنم دروازې بندې كړل شي او شيطانان وتړل شي .

ددې حديث په تفسير كې امام قاضي عياض فرمايي :

دا چې په حديث كې راغلي دي چې د جنت دروازې خلاصيږي او د دوزخ بنديږي او شيطانان تړل كيږي كېداى شي ظاهري معنى يې مراد وي او د رمضان په احترام د جنت دروازې خلاصيږي او د دوزخ تړل كيږي او شيطانان تړل كيږي ترڅو مسلمانانو ته ضرر ، تكليف ونه رسوي او هغوى ته وسوسې ور وا نه اچوي او كېداى شي ظاهري معنى يې مطلب نه وي بلكه د حديث معنى دا وي چې دا ډېره د خير او بركت مياشت ده د عملونو ثوابونه پكې ډېر وي او د شيطانانو د تړل كېدو نه مطلب دا وي چې پدې مياشت كې د هغوى په مسلمانانو باندې ډېر وس نه رسيږي ځكه په روژه او نېكو عملونو سره د مسلمانانو باطني قوت زيات شي او د الله لور ته ور نېږدې شي نو د شيطان وسوسې وربانديې په اسانه تاثير نشي كولى .

---

[1] صحيح البخار

او کېدای شي چې د جنت د دروازو د خلاصېدلو نه مطلب دا وي چې الله په دې میاشت کې مسلمانانو ته د جنتونو یعني د نېکو عملونو دروازې خلاصوي پدې وخت کې په عامه توګه مسلمانان تر نورو ورځو څخه زیات نېک عملونه کوي لکه د ورځې روژه د شپې تروایح او نور ختمونه او دا توفیق ټول د الله له لوري دوی ته ورکول کیږي نو دا نېک عملونه انسان جنت ته داخلوي ددې امله له دوی څخه تعبیر د جنت د دروازو په خلاصېدلو سره شوی دی او بد عملونه چې جهنم ته د انسان د تللو سبب او لامل کیږي نو پدې میاشت کې په عام ډول مسلمانان ځان ورڅخه ساتي نو دا داسې ده لکه د جهنم دروازې چې د خلکو لپاره بندې کړل شي .[1]

[1] شرح صحیح مسلم للنووي

# رمضان ګناهونه ختموي

حضرت ابو هريره فرمايي :

أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يقول "الصلواتُ الخمسُ ، والجمعةُ إلى الجمعةِ ، ورمضانُ إلى رمضانَ ، مكفِّراتُ ما بينهنَّ إذا اجتَنَبَ الكبائر. [1]

ترجمه : رسول الله به فرمایل : پنځه مونځونه ، جُمعه تر جُمعې او رمضان تر رمضان پورې د دوی په مینځ کې د ګناهونو ختمونکي دي ترڅو چې د دوی په مینځ کې د لویو ګناهونو څخه ځان وساتل شي .

ددې حدیث په تفسیر کې امام مناوي فرمايي چې د يوې جمعې مونځ هغه ګناهونه ختموي چې د بلې جُمعې د مانځه نه وروسته شوي همدارنګه پنځه مونځونه او همدارنګه د رمضان روژه ټولې هغه ګناهونه ختموي چې د تېرې روژې نه وروسته شوې وې خو په یو شرط چې پدې وخت کې انسان د لویو ګناهونو څخه ځان ساتلی وي صرف واړه ګناهونه یې کړې وي هغه به الله ورته معاف کوي او پاتې شوه که یو انسان پدې مینځ کې لوی ګناهونه کړې

[1] صحيح مسلم

وي بيا ددې حديث له مخې هغه تر بښنې لاندې نشي راتلى. [1]

ځکه چې لوى ګناهونه يا په توبه او د الله نه په بښنه غوښتلو سره او يا د الله په خاص رحمت سره بښل کيږي .

حضرت عمار ابن ياسر فرمايي :

أن النبي صلى الله عليه وسلم صعد المنبر فقال : آمين . آمين . آمين ، ثم قال : من أدرك والديه أو أحدهما فلم يغفر له فأبعده الله ، قولوا : آمين . ومن أدرك رمضان فلم يغفر له فأبعده الله ، قولوا : آمين . ومن ذكرت عنده فلم يصل علي فأبعده الله ، قولوا : آمين. [2]

ترجمه : رسول الله منبر ته وختلو او ويې فرمايل (آمين ، آمين ، آمين) بيا يې وفرمايل چا چې خپل دواړه مور او پلار ژوندي موندل او بيا هم د هغې نه وروسته ده ته بښنه ونه شوه (ده له هغوى سره داسې نېک ژوند ونه کولو چې دهغې له امله دده ګناهونه و بښل شي او د هغوى خدمت ونه کوي او د هغوى دعاء وانخلي) الله د هغه لرې کړي تاسې وواياست آمين څوک چې رمضان ته ورسېدل ا و هغه ته بښنه ونه شوه هغه دې الله

---

1 التيسير بشرح الجامع الصغي

2 أخرجه الحافظ ابن شاهين فى فضائل رمضا

لرې کړي تاسې وایاست آمین له چا سره چې زه یاد کړل شوم او هغه په ما باندې درود ونه وایي هغه د الله لرې کړي تاسې وایاست آمین .

# په رمضان کې د عمرې اهمیت

حضرت عبدالله ابن عباس فرمایي :

**قال رسول الله صلى الله عليه وسلم عُمرة في رمضان تعدل حَجَّةً.** [1]

ترجمه : رسول الله فرمایل په رمضان کې عمره د حج سره (په ثواب کې) برابره ده .

امام مناوي ددې حدیث په اړه فرمایي رسول الله فرمایلي دي چې په رمضان کې عمره د حج سره برابره ده د رسول الله مطلب دادی چې ددې ثواب زیات دی او دا یې مطلب نه دی چې دا لکه حج داسې ده چې په چا باندې حج فرض وي نو پدې سره به فرضیت ورڅخه ساقط شي . [2]

# په رمضان کې د شپې مونځ او تراویح

1 صحیح مسل

2 التیسیر بشرح الجامع الصغي

حضرت ابو هريره فرمايي چې رسول الله فرمايل :

من قام رمضان إيمانا واحتسابا ، غفر له ما تقدم من ذنبه.[1]

ترجمه : چا چې د ايمان او احتساب سره (پداسې توګه چې پدې قيام سره يې غرض صرف د الله رضا وي او خلکو ته ور ښکاره کول نه وي يعني د پوره اخلاص سره وي چې مطلب يې يوازې د الله رضا وي) د رمضان د شپو قيام وکولو د هغه چې څومره مخکني ګناهونه دي ورته معاف به کړل شي .

ددې حديث په تفسير کې هم علماء کرام فرمايي چې دا واړه ګناهونه يادوي او کوم چې لوی ګناهونه دي هغه به په توبه ، استغفار او د الله په رحمت سره بښل کيږي .[2]

## په رمضان کې غوره عمل اعتکاف

حضرت عائشه فرمايي :

[1] صحيح البخار

[2] الديباج على مسل

أن النبي صلى الله عليه وسلم ، كان يعتكف العشر الأواخر من رمضان حتى توفاه الله ، ثم اعتكف أزواجه من بعده. [1]

ترجمه : رسول الله ﷺ به اعتکاف کاوه په وروستنيو لسو د رمضان د مياشتې کې تر وفات پورې بيا د هغه نه وروسته به د هغه بيبيانو په آخرو لسو د رمضان کې اعتکاف کاوه .

## په رمضان کې صدقه

په رمضان کې صدقه ورکول تر نورو وختونو ډېره زيات ثواب لري او رسول الله ﷺ به په رمضان کې ډېره صدقه کوله پدې اړه يو حديث دى :

كان النبي صلى الله عليه وسلم أجود الناس بالخير، وكان أجود ما يكون في رمضان حين يلقاه جبريل . [2]

ترجمه : رسول الله ﷺ په خير کې تر ټولو خلکو نه زيات سخي وو او په رمضان کې به نور هم زيات سخي شو چې کله به له ده سره جبريل ملاقات وکولو .

## پښېمنى هم غوره وخت دى

1 صحيح البخاري
2 صحيح البخار

رسول الله د پېشمني ذکر هم کړی دی حضرت ابو سعید الخدري فرمایي رسول الله فرمایل :

السَّحور أكْلُهُ بركة، فلا تَدَعُوهُ ولو يَجْرَعَ أحَدُكُم جُرعة من ماء، فإنَّ اللّٰه عزّ وجلّ وملائكته يُصلون على المُتسحِّرين .[1]

ترجمه : د پیشمني په خوراک کې برکت دی نو هغه مه پرېږدئ اګر که یو ستاسې په هغه وخت کې یو غړپ اوبه هم څښي ځکه الله او د هغه ملائکې په هغه کسانو رحمت لیږي چې هغوی پېشمنی کوي .

[1] مسند امام احمد ابن حنب

# د روژه ماتي په وخت کې دعا قبليږي

د روژه ماتي وخت يو غوره وخت دی او پدې وخت کې دعا قبليږي رسول الله ﷺ پدې اړه فرمايي :

**ثلاثة لا تُردُّ دعوتهم: الإمام العادل، والصَّائم حين يُفطر، ودعوة المظلوم.** [1]

ترجمه : درى کسان دي چې د هغوی دعاء نه رد کيږي (ضرور قبليږي) يو عادل امام ، هغه روژه لرونکی چې روژه ماتوي، او د مظلوم دعاء .

---

[1] الترمذ

# د رمضان د وروستیو لسو ورځو اهمیت

په رمضان کې وروستنۍ لس ورځې د خاص فضلیت لرونکې ورځې دي او د هغې په فضلیت کې خاص روایتونه راغلي دي پدې اړه حضرت عائشه فرمایي : أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يجتهد في العشر الأواخر مالا يجتهد في غيرها.[1]

ترجمه : رسول الله ﷺ به په آخرو لسو کې (په عبادت کې) دومره کوښښ کاوه چې په نورو ورځو کې به يې نه کاوه .

په بل ځای کې حضرت عائشه فرمایي :

كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا دخل العشر شد مئزره وأحيا ليله وأيقظ أهله.[2]

ترجمه : رسول الله ﷺ به وو چې کله آخري لس ورځې به را داخلې شوې نو دی به له خپلو بيبيانو څخه ګوښه شو د هغې ورځو شپې به يې ژوندۍ کړې (په عبادت او مانځه سره) او خپل اهل به يې هم پدې شپو کې را ويښولو ترڅو له ده سره په

[1] صحيح مسلم
[2] صحيح مسلم

عبادت کې شریک شي او لدې قیمتي شپو څخه او قیمتي شیبو څخه فایده پورته کړي .

نو د رمضان آخرنی لس ورځې هغه ورځې دي چې رسول الله ﷺ به پدې ورځو کې په عبادتونو او نېکو کارونو کې دومره زیار ویسته چې په نورو ورځو کې یې پدې اندازه باندې نه ویسته پدې عبادتونو کې به رسول الله ﷺ هر ډول عبادت زیات کاوه که هغه به مونځ وو که به تلاوت وو که به صدقه ورکول او یا بل نېک کاروو او دا هغه لس ورځې دي چې پدې کې یوه شپه د لیلة القدر ده چا چې په هغې کې مونځ یا بل عبادت وکولو داسې ده لکه زر میاشتې یې چې کړی وي نو ددې امله به هم رسول الله ﷺ ټوله شپه په ویښه تېروله او په زړه ، ژبه او اندامونو سره به دالله په عبادت او ذکر کې مصروف وو بل لکه په پورتني حدیث کې چې راغلي دي رسول الله ﷺ به پدې شپو کې خپل اهل له خوب نه را ویښولو ترڅو له ده سره په عبادت کې شریک شي او له دې قیمتي وخت څخه دوی هم استفاده وکوي د حدیث دا برخه هم ددې ورځو په فضلیت باندې ځانګړی دلالت کوي او د همدې نه ښکاره کیږي چې رسول الله ﷺ ته ور ښکاره شوې وه چې دا ډېر غوره وخت دی ځکه یې اهل ورته را پاڅولو ددې امله باید انسان هم کوښښ وکوي چې ددې وخت څخه فایده پورته کړي او څه معلومه ده چې پدې شپو کې انسان عبادت ته را پاڅیږي او د الله په وړاندې د دعاء لاس

پورته کړي او هغه دعاء یې قبوله شي د یو ساعت له امله الله ورته ددنیا او آخرت نیکبختي ور په برخه کړي علماء کرام فرمایي ددې حدیث نه مونږ ته څو سبقونه په لاس راځي.

الف: باید پدې شپو کې زیات کوښښ وکوو چې ویښ پاتې شو او پدې مبارکو شپو کې د الله د رحمت غوښتنه وکوو لکه رسول الله ﷺ به چې کولو او دا شپې په تلاوت عبادت او د الله په ذکر سره منورې کړو مونږ یوازې نه بلکه خپل اهل هم ورته را ویښ کړو لکه رسول الله ﷺ به چې کولو ترڅو زمونږ د کور ټول اهل لدې قیمتي وخت څخه برخه من شي حضرت سفیان ثوري به فرمایل:

أحب إلي إذا دخل العشر الأواخر أن يتهجد بالليل ويجتهد.

ترجمه: زما خوښیږي چې کله د روژې آخري لس شپې شي چې انسان تهجد وکوي او د الله په عبادت کې زیات کوښښ وکوي.

او پدې شپو کې انسان باید خامخا د ماسخوتن مونځ په جومات کې په امام پسې وکوي پدې کې د ټولې شپې د قیام ثواب دی رسول الله ﷺ فرمایي:

إنه من صلى مع الإمام حتى ينصرف كتب له قيام ليلة.[1]

[1] رواه السن

ترجمه : شان دادى چا چې مونځ وكولو له امام سره او بيا كور ته لاړو نو د شپې د قيام ثواب ورته ليكل كيږي .

ب : بايد پدې شپو كې د ليلة القدر لټون وكول شي

# د ليلة القدر اهميت

د ليلة القدر ذكر په قرآن كريم كې راغلى دى دا هغه شپه ده چې الله پدې شپه كې حضرت جبريل ته امر وكولو چې قران د لوح محفوظ نه د دنيا اسمان ته را ښكته كړي چې بيا د هغه ځاى څخه د حالا تو او د وخت د ضروورياتو مطابق په رسول الله ﷺ نازل كېدلو او په رسول الله ﷺ باندې چې د وحى نازلېدل هم شروع شول د سورة علق په پنځو آيتونو باندې يې شروع وشوه دا شروع هم په همدې شپه كې وه الله فرمايي چې پدې كې عبادت كول د زرو مياشتو له عبادت څخه غوره دي چې هره شپه څوک عبادت كوي نو اميد دى چې د هغه شپې سره سمون وخوري چې په كومه كې عبادت تر زرو مياشتو څخه غوره دى د زرو مياشتو څخه چې كلونه جوړ شي نو دا ٨٣ كاله او څلور مياشتې جوړوي امام نخعي فرمايي چې پدې شپه عبادت د ٨٣ كلونو او څلورو مياشتو سره برابر نه دى بلكه الله فرمايلي دي چې تردې لا هم غوره

دی او رسول الله ﷺ د ليلة القدر په اړه فرمايي :

# من قام ليلة القدر إيماناً واحتساباً غفر ما تقدم من ذنبه. [1]

ترجمه : چا چې د ليلة القدر په شپه کې د ايمان او اخلاص سره قيام وکولو نو الله به ورته تېر شوي ټول ګناهونه معاف کړي .

د ليلة القدر د شپې په اړه د حضرت عائشې يو حديث دی هغه رسول الله ﷺ ته وويل :

# يا رسول الله، أرأيت إن علمت أي ليلة ليلة القدر ما أقول فيها؟

ترجمه : يا رسول الله ﷺ که زه پوه شم چې دا ليلة القدر شپه ده زه پکې څه ووايم؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

# قولي: اللهم إنك عفو كريم تحب العفو فاعف عني. [2]

ترجمه ووايه ای الله ته بښنه کونکی او کريم يې ستا عفوه او بښنه کول خوښيږي ماته بښنه وکوه .

---

[1] متفق علي
[2] رواه الترمذ

او د اکثر حدیثونو له مخې دا مبارکه شپه د رمضان په آخري لسو شپوکې ده ددې په اړه په یو حدیث کې رسول الله ﷺ فرمايي :

تحروا ليلة القدر في العشر الأواخر من رمضان . [1]

ترجمه : و لټوئ ليلة القدر په آخرو لسو شپو د رمضان کې .

او بيا په آخرو لسو شپوې کې تر جفت نه يې زيات احتمال په تاق شپو کې دی رسول الله ﷺ فرمايي :

تحروا ليلة القدر في الوتر من العشر الأواخر من رمضان. [2]

ترجمه : لټون وکړئ د ليلة القدر په تاق شپو د آخرو لسو کې د رمضان .

او د رمضان په آخرو لسو شپو کې په تاق شپو کې بيا ډېر احتمال د روژې د ۲۷ شپه ده حضرت ابی ابن کعب فرمايي :

والله إني لأعلم أي ليلة هي الليلة التي أمرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم بقيامها هي ليلة سبع وعشرين . [3]

---

1 متفق عليه

2 صحيح البخار

3 رواه مسل

ترجمه : زما د قسم په الله وي زه پوهېږم چې كومه شپه وه چې رسول الله ﷺ مونږ ته د هغې د قيام په اړه امر كړی وو هغه د رمضان د اوه ويشتم شپه وه .

د رمضان د آخرو لسو شپو په تاق شپو كې دا ورځ معينه نه ده چې هر كال په يوه شپه باندې وي بلكه بدليږي كله به دا شپه په ٢١ كله په ٢٣ او داسې ٢٥ او ٢٧ يا ٢٩ باندې وي امام ابن حجر چې پدې خبره مختلف اقوال نقل كړي دي چې ليلة القدر څه وخت ده بيا يې ورپسې شا ته ويلي دي صحيح خبره داده چې د رمضان د اخرو لسو شپو په تاق شپو كې ده او دا چې پټه ساتلې شوېده ددې د حكمت په اړه علماء فرمايي چې لټون يې وشي او كه چېرته معلومه وي نو بيا به خلك صرف په هغه شپه كې عبادت كوي او بيا به يې نه كوي اوس چې معلومه نه ده نو هغه كسان چې پدې شپه كې يې د عبادت كولو شوق وي نو هغوی به د رمضان په اخرو لسو ټولو شپو كې په خاصه توګه په تاق شپو كې زيات كوښښ كوي .

حضرت انس هم د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وكوله چې دا ليلة القدر شپه څه وخت وي؟ رسول الله ﷺ ورته ځواب ورنه كړو بلكه ورته يې وويل :

"لولا أن يترك الناس الصلاة إلا تلك الليلة لأخبرتك. [1]

[1] كتاب ليلة القدر لعبد الرحيم العراقي

ترجمه : که خلکو ددې شپې نه بغیر په نورو شپو کې مونځ نه پرېښودی نو ما به درته ښودلې وه .

د لیلة القدر لپاره څه نښې ښودل شوې دي رسول الله ﷺ هم څه نښې ښودلې دي او ځینې علماوو هم لټون کړی دی په هغې کې ځینې نښې ورسره راځي او ځینې ورپسې وروسته ښکاره کیږي چې ورسره راځي هغه نښې دادي چې پدې شپه کې رڼا وي ، د مسلمان سړي په زړه کې یو ډول اطمنان وي ، پدې شپه کې سخت باد نه وي ، او ددې په سبا ځینې نښې ښکاره کیږي چې یوه نښه یې داوي چې لمر به پداسې حالت کې راخیږي چې سور به ښکاره کیږي او ډېره رڼا به نه کوي پدې اړه د حضرت ابی ابن کعب یو حدیث هم دی هغه فرمایي :

أخبرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم: أنها تطلع يومئذٍ لا شعاع لها .[1]

ترجمه : مونږ ته رسول الله ﷺ خبر راکړو چې پدې ورځ باندې لمر داسې را پورته کیږي چې شعاع به نه لري .

لکن دا ټولې علامې دي ضروري نه دي چې دا به خامخا ښکاره کیږي ځکه پدې دومره لویه دنیا کې ضروري نه ده چې په یوه شپه کې دې موسم او هوا په یو ډول وي په دنیا کې مختلف ځایونه وي او

[1] رواه مسلم

مختلف ډوله هوا وي کله په یو وخت داسې وي چې د دنیا په یو طرف کې خلک د باران لپاره مونځ کوي او په بل ځای کې خلک د الله نه غواړي چې باران ودروي او داسې نور فرقونه وي نو ددې امله دا نښې که ولیدل هم شي نو یقین نه پیدا کوي او که ونه لیدل هم شي ددې معنی دا نه وي چې پدې کال کې لیلة القدر نه وه .

که د چا وس وي نو پدې ورځو کې د اعتکاف وکوي اعتکاف د دنیا له کارونو څخه ځان یوازې د الله عبادت ته خلاصول دي چې انسان په جومات کې صرف ددې لپاره کیني چې د الله رضا حاصله کړي او پدې لسو ورځو کې د دنیا له کارونو څخه بالکل خپله رابطه قطع کړي او له الله سره خپل تعلق قوي کړي او رسول الله ﷺ چې څو پورې ژوندی وو دا اعتکاف به یې کولو حضرت عائشه فرمایي :

كان النبي صلى الله عليه وسلم يعتكف العشر الأواخر من رمضان حتى توفاه الله عز وجل ثم اعتكف أزواجه من بعده .[1]

ترجمه : رسول الله ﷺ وو چې په آخرو لسو ورځو د رمضان کې به یې اعتکاف کاوه تردې چې الله وفات

[1] صحیح البخاري و مسل

کړو او بيا د هغه نه وروسته به دده بيبيانو اعتکاف کاوه .

امام احمد فرمايي چې د رمضان په آخرو لسو شپو کې اعتکاف سنت دی او پدې اړه ماته هېڅ د علماوو اختلاف نه دی معلوم (چې څوک ددې اعتکاف سنت والی نه مني) .

# د وړوکي اختر د ورځې اهميت

د وړوکي اختر ورځ په مسلمانانو باندې د يوې مياشتې فرضي روژې نيولو څخه وروسته راځي مباركه او د خير او بركت نه ډكه ورځ ده ددې ورځې په اړه حضرت سعيد بن اوس الانصاري د خپل پلار نه روايت كوي هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايل :

إذا كان يوم عيد الفطر وقفت الملائكة على أبواب الطريق فنادوا : اغدوا يا معشر المسلمين إلى رب كريم يمن بالخير ثم يثيب عليه الجزيل ، لقد أمرتم بقيام الليل فقمتم ، وأمرتم بصيام النهار فصمتم وأطعتم ربكم فاقبضوا جوائزكم ، فإذا صلوا نادى مناد : ألا إن ربكم قد غفر لكم فارجعوا راشدين إلى رحالكم ، فهو يوم الجائزة ويسمى ذلك اليوم في السماء يوم الجائزة - " وفي رواية : " رب رحيم " بدل " رب كريم " - فقال : " قد غفرت لكم ذنوبكم كلها . [1]

ترجمه : كله چې د وړوكي اختر ورځ وي ملائكې په لارو كې و دريږي او اواز كوي رجوع وكوئ اى

[1] رواه الطبران

مسلمانانو هسې رب کریم ته چې په خیر باندې احسان کوي او بیا د هغې په بدل کې ښه ثواب ورکوي تاسې ته د شپې په مانځه باندې امر شوی وو تاسې هغه امر په ځای کړو او تاسې ته په رژه باندې امر شوی وو تاسې روژه ونیوله تاسې د خپل رب اطاعت وکولو اوس خپل ثوابونه واخلئ کله چې دوی مونځ وکوي یو اواز کونکی اواز وکوي خبر دار چې ستاسې رب ① تاسې ته بښنه وکوله خپلو ځایونو ته راشدین ستانه شئ او دا (د وړوکي اختر ورځ) د جائزو ورځ ده او په اسمان کې دې ورځې ته یوم الجائزه (د جائزې ورځ) ویل کیږي په یو روایت کې د رب کریم په ځای رب رحیم راغلی دی نو الله ① خلکو ته ووایې چې ما تاسې ته ستاسې ټول ګناهونه بښلي دي .

حضرت انس فرمايي :

قدم رسول الله -صلى الله عليه وسلم- المدينة ولهم يومان يلعبون فيهما فقال: ما هذان اليومان؟ قالوا: كنا نلعب فيهما في الجاهلية فقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- إن الله قد أبدلكم بهما خيرا منهما يوم الأضحى ويوم الفطر.

رسول الله ﷺ مديني منورې ته راغلو او دلته د خلکو دوه ورځې وې په هغو کې به يې لوبې کولې رسول الله ﷺ ورته وويل : دا ورځې د څه دي؟ دوی ورته وويل دا دوه ورځې دي مونږ به د جاهليت په وخت کې (د اسلام نه پخوا) په دې ورځو کې لوبې کولې رسول الله ﷺ ورته وويل اوس الله هغه تاسې ته په نورو غوره ورځو باندې بدلې کړې دي يوه د لوی اختر او يوه د وړوکي اختر ورځ ده .

# د شوال د شپږو ورځو د روژو اهميت

د شوال په مياشت کې (د وړوکي اختر په مياشت کې) شپږ ورځې روژه نيول هم سنت دي حضرت ابو ايوب انصاري فرمايي رسول الله فرمايل :

**من صام رمضان ثم أتبعه ستا من شوال كان كصيام الدهر.**[1] ترجمه : چا چې د رمضان روژه ونيوله او بيا يې شپږ ورځې نورې د شوال ورپسې کړې دا داسې ده لکه ده چې ټول عمر روژه نيولې وي .

حضرت امام ابن قدامه په المغني کې نقل کړي دي چې د اکثر علماوو له نظره دا شپږ ورځې روژه مستحب ده لکن د جمهور فقهاوو او د څلورو مذهبونو له علماوو څخه نقل شوي دي چې دا سنت دي .

په يو بل روايت کې دي چې رسول الله نور هم ددې وضاحت کوي چې دا روژې د ټول عمر د روژو سره ولې برابرې دي رسول الله فرمايي :

**جعل الله الحسنة بعشر أمثالها فشهر بعشرة أشهر وصيام ستة أيام تمام السنة**[2]

---

1 رواه مسلم

2 **النسائي وابن ماجة**

ترجمه : الله یوه نیکي په لس چنده قبلوي (په لس چنده ثواب یې ورکوي) نو یوه میاشت لس میاشتې شوې (یعني دری ورځې د یوې میاشت په ځای شوې) نو چې ورپسې شپږ ورځې نورې هم ونیول شي نو دا دولس میاشتې شوې (او ۱۲ میاشتې پوره کال وي) .

امام ابن رجب ددې شپږو ورځو د روژو فایدې بیانوي او فرمایي :

الف : لکه په پورتني حدیث کې چې تېر شول چې دا شپږ ورځې روژه چې انسان نیسي الله ورته د ټول عمر د روژې ثواب ورکوي .

ب : د شعبان او شوال روژې (د رمضان د روژې نه وړاندې او وروسته) داسې دي لکه سنت مونځ د فرض مونځ نه وړاندې او وروسته او په هغه سنت مونځ باندې د هغه نقصانونو جبیره کیږي او ځای نیول کیږي چې کوم نقصان په فرض مانځه کې شوی وي داسې دا روژې هم هغه نقصانونه پوره کوي چې کوم له مونږ نه د فرضي روژې د رمضان کې شوی وي .

ج : د شوال په میاشت کې چې بنده بیا روژې ونیسي ددې نښه ده چې الله یې د رمضان روژې قبولې کړې دي ځکه الله چې د کوم بنده نېک عمل قبول کړي ورپسې د بل نېک عمل توفیق ورکوي .

د : هغه کسان چې د رمضان روژې یې په سمه توګه نیولې وي الله ورته د اختر په ورځ مغفرت نصیب

کوي او د اختر په ورځ ورته ثوابونه ورکوي نو د اختر نه وروسته بيا روژې نيول ددې لوى نعمت شکريه اداء کول دي او د انسان لپاره د ګناهونو تر بښنې او د الله تر اجر نه لوى نعمت بيا بل نشته نو شکر يې ويستل په کار دي رسول الله به تر دومره ځنډه په مانځه ولاړ وو چې قدمونه مبارک به يې وپړسېدل چې کله ورځخه پوښتنه وشوه چې ته ولې دومره تکليف وباسې الله خو تاته په قرآن کريم کې ويلي دي چې تاته ستا پخواني او وروستني ښښل شوي دي؟ نو رسول الله ورته وفرمايل : **أفلا أكون عبداً شكورا**؟ (ولې ماته نه دي په کار چې د الله شکر ويستونکى بنده شم؟) .

او اکثر سلف (پخواني علماء ) به چې د شپې مانځه ته پاڅېدل نو ددې شپې سبا به يې روژه ونيوله او دا روژه به يې د شپې مونځ ته د پاڅېدلو د توفيق شکريه ويستله .

## مسئلې

١. کله چې اختر تېر شي چې څه مشکل نه وي نو دا روژې زر ورپسې نیول مستحب دي ځکه الله فرمايي چې د نیکي په کار کې جلدي کوئ الله فرمايي :

وَسَارِعُواْ إِلَى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ.[1]

ترجمه : او په چټکی سره لاړ شی (لوري د) مغفرت ته له رب ستاسې نه او جنت ته چې د هغې فراخوالی لکه د اسمانونو او زمکې دومره دی تیار کړل شوی دی د متقیانو لپاره .

او په بل ځای کې الله فرمايي :

سَابِقُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاء وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِ اللَّه وَرُسُلِهِ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّه يُؤْتِيهِ مَن يَشَاء وَ اللَّه ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ. 2

ترجمه: په تېزۍ سره لاړ شئ (لوري د) بښنې ستاسې د رب ته او جنت ته چې فراخوالی يې لکه د فراخوالي د اسمانونو او زمکې دومره دی د هغه کسانو لپاره تیار شوی دی چې په الله او د

---

1 آل عمران
2 الحدید

هغه په رسولانو یې ایمان راوړی وي دا د الله فضل دی چې چا ته یې خوښه شي هغه ته یې ورکوي او الله د لوی فضل خاوند دی.

۲. د روژې نیوونکي خوښه ده که یې په یو ځای نیسي او که د شوال په میاشت کې یې بیلې بیلې پوره کوي ځکه رسول الله صرف ویلي دي چې چا د رمضان روژې ونیولې او بیا یې د شوال په میاشت کې هم شپږ پسې ونیولې نو دا د اسې ده لکه د ټول عمر روژه او رسول الله دا نه دي ویلي چې دا روژې باید سره بیلې بیلې وي او که په یو ځای وي.

۳. هغه څوک چې په یو کال کې دا روژې ونیسي په هغه باندې لازمه نه ده چې باید په بل کال کې یې هم ونیسي لکن مستحب ده رسول الله هم فرمایي:

## أحب الأعمال إلى الله أدومها وإن قل [1]

ترجمه: الله ته په عملونو کې هغه عمل محبوب دی چې هغه هر وخت کیږي اګر که لږ هم وي.

٤. که چا پدې شپږو روژو کې یو څو ونیولې او نورې یې بیا نشوای نیولی نو څه زور وربانديې نشته او نه وربانديې څه ګناه شته چې ده شپږ ولې پوره نه کړي رسول الله فرمایي:

[1] رواه البخاري

الصائم المتطوع أمير نفسه إن شاء صام وإن شاء أفطر .

ترجمه : نفلي روژه نيونکی د خپل ځان امير دی که يې خوښه وي روژه د ونيسي او که يې خوښه وي روژه د ماته کړي .

٥. په چا باندې چې د رمضان د روژي څه قضايي پاتې وي نو غوره خبره ده چې اول هغه پوره کړي ځکه هغه په ده فرض دي او دا شپږ روژې دده لپاره نفل دي .

## د ذی الحجې د مياشتې اهميت

ذی الحجة د اسلامي او عربي کال دولسمه مياشت ده دا هم مبارکه مياشت ده په فضيلت کې يې مختلف احاديث راغلي دي او پدې کې د اولو لسو ورځو خاص فضائل ذکر شوي دي او په قرآن کريم کې چې الله ويلي دي (و ليال عشر) د هغې د تفسير په اړه هم علماء کرام فرمايي چې مراد ترېنه لس ورځې اولې د ذی الحجې دي حضرت عبدالله ابن عباس ددې په اړه يو حديث نقل کوي هغه فرمايي :

أن النبي صلى الله عليه وسلم قال : ما العمل في أيام أفضل من هذه العشر قالوا: ولا الجهاد؟ قال: ولا الجهاد إلا رجل خرج يخاطر بنفسه وماله فلم يرجع بشيء.[1]

ترجمه : بېشکه رسول الله وفرمايل: پدې ورځو کې له عمل څخه بل کوم عمل هم غوره نشته . صحابه وو پوښتنه وکول چې جهاد هم نه؟ رسول الله ورته وويل هو جهاد هم نه مګر دا چې يو سړى له خپل ځان او مال هرشي سره د الله په لاره کې ووزي او بيا هېڅ شى هم بېرته را نه وړي (دده ځان او مال ټول د الله په لاره کې مصرف شي) .

د حضرت عبد الله ابن عباس څخه پورتنى حديث حضرت سعيد ابن جُبير نقل کړى دى د هغه به په محرم کې دا حال وو چې :

إذا دخلت العشر اجتهد اجتهادا حتى ما يكاد يقدر عليه.[2]

ترجمه : کله به چې د ذى الحجې اولې لس شپې را شروع شوې ده به په نېکو کارونو کې دومره زيار ويسته چې (نېږدې به وو چې تر وس به يې بېرون شي (يعني چې څومره به يې وس وو همدومره زيار به يې ويسته)

له حضرت سعيد ابن جُبير به فرمايل :

1 صحيح البخاري
2 رواه الدارمي باسناد حس

لا تطفئوا سرجكم ليالي العشر.

ترجمه : د ذى الحجې په لسو شپو کې خپل څراغونه مه وژنئ (مطلب به يې دا وو چې تلاوت کوئ او د شپې مونځ کوئ) .

د ذى الحجې د لسو ورځو د خاص فضيلت په اړه امام ابن رجب فرمايي :

لما كان الله سبحانه قد وضع في نفوس عباده المؤمنين حنينا إلى مشاهدة بيته الحرام، وليس كل أحد قادرا على مشاهدته كل عام، فرض على المستطيع الحج مرة واحدة في عمره ، وجعل موسم العشر مشتركا بين السائرين والقاعدين .[1]

ترجمه : څرنګه چې الله د مسلمانانو بندګانو په زړه کې د بيت الله د کتلو لپاره يو ډول شوق ايښى دى او هرڅوک هر کال نشي کولى چې بيت الله وويني نو په عمر کې يې يو ځل په وس لرونکو خلکو حج فرض کړى دى او د هغې نه بغير (څوک چې ثواب ګټل غواړي او بهتري ته ځان رسول غواړي) لس ورځې د حج موسم يې د ټولو خلکو په مينځ کې هر چېرته چې وي شريکې کړې دي .

## د عرفات د ورځې اهميت

[1] لطائف المعارف

د عرفات ورځ هغه ورځ ده چې په صبا یې لوی اختر وي دا هم مبارکه ورځ ده هغ کسان چې ﷲ ورته د حج ښه قسمت ورکړی وي هغوی پدې ورځ باندې د عرفات په محدود او معلوم میدان کې را ټولیږي او ټوله ورځ د ﷲ حضورته سوالونه ، عرضونه او دعا ګانې کوي او د خپل ټول عمر د ګناهونو بښنه غواړي او پدې ځای کې چې څوک ونه دریږي حج یې نه کیږي ددې ورځې هم زیات فضیلتونه په حدیثونو کې راغلي دي رسول ﷲ ددې ورځې په اړه فرمایي :

صيام يوم عرفة ، أحتسب على الله أن يكفر السنة التي قبله ، والسنة التي بعده. [1]

د عرفات د ورځې روژه زه د ﷲ نه امید کوم چې د یوه تیر او یوه راتلونکي کال د ګناهونو کفاره شي .

[1] رواه مسلم

ددې حديث په تفسير کې امام ابن قيم فرمايي :

ځينې خلک پدې غره شي چې د عاشور روژه د يو کال ګناهونه ختموي او د عرفات د ورځې روژه د دوو کلونو ګناهونه ختموي خو دا غره شوي کسان پدې نه دی خبر چې فرضي مونځ او يا د رمضان روژه لدې نفلي روژو څخه غوره دي همداسې د رمضان په اړه راغلي چې د يو رمضان څخه تر بل رمضان پورې ګناهونه ختموي همدارنګه يوه جُمعه تر بلې پورې ګناهونه ختموي ددې ټولو حديثونو مطلب دادی چې واړه ګناهونه ختموي چې لوی ګناهونه ورسره نه وي شوي او پاتې شوه لوی ګناهونه هغه يا الله ته د پاک زړه نه د کلک عزم په توبه سره ختميږي او يا د الله په خاص رحمت سره .[1]

او هغه کسان چې حج کوي او پدې ورځ په عرفات باندې دريږي د هغوی لپاره د روژې نيول مستحب او غوره نه دي ګڼل شوي پدې اړه يو حديث دی :

روت أم الفضل بنت الحارث رضي الله عنهما أنها أرسلت إلى النبي صلى الله عليه وسلم بقدح لبن ، وهو واقف على بعيره بعرفة ، فشرب.[2].

[1] الداء و الدوا
[2] رواه مسل

روايت کړی دی حضرت ام الفضل بنت الحارث چې دي رسول الله ته د شودو يو جام ور ولېږلو او هغه په خپله اوښه باندې په عرفات کې ولاړ وو نو د هغه شودو نه يې څښاک وکولو (يعني که چېرته پدې ورځ باندې روژه نيول غوره کار وای نو رسول الله به خامخا روژه نيولې وه) .

رسول الله ددې ورځې د دعاء په اړه هم فرمايلي دي چې دا د عاء لپاره غوره ورځ ده رسول الله فرمايي :

خير الدعاء دعاء يوم عرفة وخير ما قلت أنا والنبيون من قبلي : لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير.[1]

ترجمه : غوره دعاء د عرفات دعاء ده او پدې مهال غوره دعا هغه ده چې ما او هغه نبيانو ويلې ده چې لما څخه وړاندې وو او هغه داده (نشته ريښتونی معبود مګر الله دی هغه يو دی شريک نلري ده لره بادشاهي ده او هم ده لره په حقه سره حمد دی او دی په هرشي باندې قادر دی .

د عرفات ورځ مبارکه ورځ ده او په فضيلت باندې يې ډېر احاديث راغلي دي حضرت عايشه فرمايي رسول الله فرمايل :

[1] رواه مالك والترمذي

ما من يوم أكثر من أن يعتق الله فيه عبدا من النار من يوم عرفة، وإنه ليدنو ثم يباهي بهم الملائكة، فيقول : ما أراد هؤلاء.[1]

ترجمه : د عرفات د ورځې نه بغير بل په یوه ورځ کې هم د الله په وړاندې له اور نه زيات ازادېدونکي نشته او بيشکه شان دادی چې ور نږدې شي بيا ملائکې وربانديې ا واز وکوي او وايي دا يې نه دي مطلب .

د حضرت جابر بن عبد الله نه روایت دی هغه فرمايي رسول الله فرمايل :

مَا مِنْ يَوْمٍ أَفْضَلُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ ، يَنْزِلُ اللَّهُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُبَاهِي بِأَهْلِ الأَرْضِ أَهْلَ السَّمَاءِ ، فَيَقُولُ :انْظُرُوا إِلَى عِبَادِي شُعْثًا غُبْرًا ضَاحِينَ جَاءُوا مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ، لَمْ يَرَوْا رَحْمَتِي ، وَلَمْ يَرَوْا عَذَابِي ، فَلَمْ أَرَ يَوْمًا أَكْثَرَ عَتِيقًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ .[2]

ترجمه : د عرفات تر ورځې نه غوره ورځ نشته الله پدې ورځ کې د زمکې اسمان ته (بلا كيفه) را ښکته کيږي او د زمکې د ا هل په اړه د اسمان اهل ته وايي وګورئ زما بندګانو ته ببر سري له

---

1 رواه مسلم

2 رواه ابن حبان وهو صحي

هر ځای نه را ټول شوي دي زما رحمت غواړي او زما عذاب يې هم تر اوسه نه دی ليدلی نو د عرفات د ورځې نه زيات په يوه ورځ کې هم له اور څخه خلاصېدونکي خلک نشته .

حضرت عمر ته يو يهودي راغلو ورته يې وفرمايل :

ای امير المؤمنين ستاسې په کتاب (قرآن کريم) کې يو آيت دی که داسې آيت چېرته په مونږ يهودو باندې را نازل شوی وای نو په کومه ورځ چې نازل وای هغه به مو د عيد ورځ ګرځولې وه حضرت عمر ورته وويل کوم آيت ؟ هغه يهودي ورته وويل دا آيت : اليوم أكملت لكم دينكم وأتممت عليكم نعمتي ورضيت لكم الإسلام دينا

حضرت عمر فرمايي : مونږ ته هم ددې آيت د نزول ورځ او ځای معلوم دي (مونږ يې هم قدر کوو او هغه ورځ له مونږ څخه هم هېره نه ده) رسول الله په عرفات باندې د جُمعې په ورځ ولاړ وو چې دا آيت وربانديې نازل شو .

د عرفات ورځې ته هم په يو حديث کې عيد ويل شوی دی رسول الله فرمايي :

يوم عرفة ويوم النحر وأيام منى عيدنا أهل الإسلام. [1]

[1] رواه ابو داو

ترجمه : د عرفات ورځ د حلالې ورځ (د لوی اختر ورځ) او د منی ورځې زمونږ د مسلمانانو عید دی .

# د لوی اختر د ورځې اهمیت

د لوی اختر ورځ هم له غوره او ستایل شویو ورځو څخه ده او د ځینې علماوو له نظره د دنیا د ټولو ورځو څخه غوره ورځ همدا ده رسول الله ﷺ ددې په اړه فرمایي :

إِنَّ أَعْظَمَ الأَيَّامِ عِنْدَ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمُ النَّحْرِ ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ. [1]

ترجمه : د الله په وړاندې په ورځو کې غوره ورځ د لوی اختر ورځ ده او بیا د یولسم ورځ ده (د یولسم ورځې ته یوم القر وایي ځکه حاجیان پدې ورځ باندې په منی کې قرار کوي او پاتې کیږي) .

او دا د تشریق د ورځو اوله ورځ ده رسول الله ﷺ د تشریق د ورځو په اړه فرمایي :

أَيَّامُ التَّشْرِيقِ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ وَذِكْرٍ لِلَّهِ. [2]

ترجمه : د تشریق ورځې د خوراک څښاک او د الله د ذکر ورځې دي .

په بل ځای کې رسول الله ﷺ فرمایي :

---

1 رواه ابو داو
2 رواه مسل

يَوْمُ عَرَفَةَ وَيَوْمُ النَّحْرِ وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ عِيدُنَا أَهْلَ الإِسْلاَمِ، وَهِيَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ. [1]

ترجمه : د عرفات ورځ د لوى اختر ورځ او د تشريق ورځې زمونږ د مسلمانانو عيد دى او هغه د خوراک څښاک ورځې دي .

لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ د اختر ورځې ته د خوراک او څښاک ورځ ويلې ده نو ددې امله پدې ورځ باندې روژه نيول ناروا دي او که انسان ټول کال هم روژه نيسي نو د اختر په ورځ به يې ماتوي .

حضرت عائشه فرمايي :

أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضي الله عنه دَخَلَ عَلَيْهَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا يَوْمَ فِطْرٍ أَوْ أَضْحًى وَعِنْدَهَا قَيْنَتَانِ تُغَنِّيَانِ بِمَا تَقَاذَفَتْ الْأَنْصَارُ يَوْمَ بُعَاثٍ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ مِزْمَارُ الشَّيْطَانِ مَرَّتَيْنِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُمَا يَا أَبَا بَكْرٍ إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا وَإِنَّ عِيدَنَا هَذَا الْيَوْم. [2]

ترجمه : حضرت ابو بکر ددې کوټې ته ورغلو او رسول الله ﷺ له دې سره په کوټه کې وو دا د وړکي که د لوى اختر ورځ وه او لدې سره دوې ماشومې

---

[1] رواه ابو داود
[2] صحيح البخاري و مسل

وې چې د انصارو د یوم بعاث (د رسول الله ﷺ نه وړاندې په مدینه کې یو لوی مشهور جنګ) په اړه یې سندرې ویلې حضرت ابو بکر دوه ځله وویل د شیطان اواز ... رسول الله ﷺ ورته وویل ابابکره پرې ئې ږده د هر قوم یو عید وي او دا زمونږ عید دی .

## د لوی اختر ورځ په اسلام کې

څرنګه چې د رسول الله ﷺ نه وړاندې هم عیدونه موجود وو داسې ورځې وې چې خلکو به په هغې کې خوشحالي کوله او هغه ورځې هم د دوی تر یو موسم پورې تړلې وې لکه د کال نوې ورځ د دوی عید وو او پدې ورځ به د اسلام نه مخکې خلکو خوشحالي کوله نو کله چې اسلام راغلو نو خلکو ته یې د هغه دوه جاهلي ورځو په ځای دوه اسلامي ورځې د خوشحالۍ لپاره ورکړې او دا دوه ورځې یې د عبادتونو د موسمونو څخه وروسته ورکړې چې یوه ورځ یې د روژې د عبادت نه وروسته د وړوکي اختر ورکړه او بله یې د حج د عظیم عبادت په آخر کې د لوی اختر ورکړه او پدې اړه حضرت ابو هریره فرمایي :

قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة ولهم يومان يلعبون فيهما فقال "ما هذان اليومان"؟ قالوا كنا نلعب فيهما

في الجاهلية فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم " إن الله قد أبدلكم بهما خيرا منهما يوم الأضحى ويوم الفطر" [1]

ترجمه : رسول الله ﷺ مدینې منورې ته راغلو دلته د دوی دوه ورځې وې چې دوی به پکې لوبې کولې رسول الله ﷺ له دوی نه پوښتنه وکوله چې دا دوه ورځې د څه دي ؟ دوی ورته وویل دا دوه ورځې دي چې مونږ به په جاهلیت کې پدې ورځو کې لوبې کولې نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل بیېشکه اوس الله تاسې ته لدې دوو ورځو نه غوره ورځې درکړې دي یوه د لوی اختر ورځ ده او بله د وړوکي اختر .

او د لوی اختر د ورځې په فضیلت کې صرف یو حدیث بس دی چې رسول الله ﷺ حضرت ابو بکر صدیق ته فرمایل :

يا أبا بكر، إن لكل قوم عيدا، وهذا عيدنا" [2]

ترجمه : ای ابا بکره بېشکه د هر قوم لپاره عید وي او دا زمونږ عید دی .

## په عید کې د کفارو مخالفت

په اسلام کې هرځای مونږ ته نصحیت کیږي چې له هغه شیانو ځخه ځان وساتو چې کفار په هغه آخته

[1] أبي داود
[2] متفق علي

وي په جامه کې، لباس کې، عبادت کې، ناسته ولاړه او هرڅه کې مونږ ته اسلام امر کوي چې د کفارو متابعت مه کوئ او هغه څه مه کوئ چې کفار يې کوي او هغه کسان چې په څه نه څه کې ځان د کفارو سره مشابه کوي رسول الله ﷺ په هغوی باندې لعنت ويلی دی او چې کله يهود ددېنه خبر شول چې رسول الله ﷺ خپلو صحابه وو ته زمونږ د جاهليت د عيدونو په ځای نور عيدونه ورکړل او دوی به نور هغه د خپلو عبادتونو څخه وروسته لمانځي او زمونږ په عيدونو به هغوی خوشحالي نه کوي نو يې ووېل :

ما يريد هذا الرجل أن يدع شيئا من أمرنا إلا خالفنا فيه"[1].

ترجمه : دا سړی (رسول الله ﷺ) څه کوي ده خو هېڅ شی پرې نه شودل مګر زمونږ نه يې پکې مخالفت وکولو (يعني ده خو په هرڅه کې حتی چې اوس د خوشحالی په ورځو کې هم زمونږ نه مخالفت وکولو).

نو ددې نه ښکاره کيږي چې کفار پدې خفه کيږي چې مسلمانان ددوی نه مخالفت کوي او هم په هماغه وخت کې هم هغوی پدې خبره خفه شوي وو چې مسلمانان ولي په خپل اختر خوشحالي کوي .

## په عيد کې خوشحالي کول

[1] أبي داو

څرنګه چې اسلام په هرڅه کې د اعتدال لاره غوره کوي او مینځنی دین دی چې نه پکې تر چوکاټ بهر ازادي ته اجازه شته او نه پکې داسې سختي شته چې خلک ترینه تنګ شي او ددي دین تحمل او برداشت ورته سخت شي بلکه د دواړو په مینځ کې د انصاف او اعتدال په لاره تله کوي نو د هغه خلکو لپاره چې هغوی فکر کوي چې *اسلام یو سخت دین دی او هغه خپلو پیروانو ته د ازادي کولو اجازه نه ورکوي او هغه خپل پیروان لدې څخه منع کوي چې هغوی خوشحالي ښکاره کړي* د اختر ورځ یو ښکلی ځواب دی چې پدې ورځ ټول مسلمانان خوشحالي ښکاره کوي البته خوشحالي په اسلام کې دا نه ده چې څوک وګډیږي او د موسیقي پروګرامونه جوړ کړي بلکه د خوشحالي ښکاره کولو لپاره ډیرې لارې دي مسلمانان په مینه او محبت د یو بل کورونو ته ورځي د هغوی سره په خوشحالۍ کې کیني او په جمع سره په یو لوی جومات کې د اختر مونځ کوي نوې جامې آغوندې او ددې ورځې په اړوند یو بل ته د مینې ډکه مبارکي ورکوي او داسې نور .

نو دا ددې نښه ده چې په اسلام کې د خوشحالي ښکاره کولو ته اجازه ده اسلام صرف نا روا ، دروغ ، فحش او هغه شیان نه مني چې په هغې کې د انسان عزت پایمال کیږي او دا بې ځایه ټوکې ، ګډېدل او داسې نور کارونه همداسې وي هغوی ته چې حاضرین خاندي دا په اصل کې پدې کس پورې خاندي او هغه کس پدې وخت کې خپل عزت تر

پښو لاندې کوي او ترڅو چې داسې بې عزتي فحش او د اسلام مخالف اعمال پکې نه وي نو اسلام داسې خندا او خوشحالي او ټوکې کول نه منع کوي رسول الله ﷺ به هم کله کله ټوکې کولې حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله ﷺ ته صحابه وو ويل: **يا رسول الله، إنك تداعبنا** (اى رسول الله ﷺ ته له مونږ سره ټوکې هم کوې؟) رسول الله ﷺ ورته وويل **إني لا أقول إلا حقا** (زه صرف رښتيا وايم) او په داسې مزاح او ټوکه چې دروواغ پکې نه وي اسلام څه پابندي نه لګوي او په اسلام کې ناروا نه دي.

د ټوکو په اړه حضرت انس د رسول الله ﷺ يوه واقعه نقل کړېده چې هغه فرمايي:

يو صحابي وو زاهر نوم يې وو هغه به د بهر نه راتلو رسول الله ﷺ ته به يې د بهر علاقې نه (د کلي علاقې نه) د هغه ځاى مناسب څه تحفه راوړه او کله به چې تلو نو رسول الله ﷺ ددې ځاى نه (مکې د بازار حيثيت درلود) ددې ځاى اړوند څه تحفه برابره کړه او هغه ته به يې ورکړه چې له ځان سره يې يوسي نو رسول الله ﷺ به کله ويل **إن زاهرا باديتُنا، ونحن حاضروه** (زاهر زمونږ کلى (اطراف) او مونږ د هغه ښاريه يو) رسول الله ﷺ ورسره ډېره مينه کوله او هغه د رنګه تور وو

یوه ورځ چې هغه په مکه کې خپل څه شی خرڅول رسول الله ﷺ ورته راغلو رسول الله ﷺ یې له شانه سترګې وربانديْ ونیولې ده وویل : څوک ئې؟ پرې مې ږده .. چې کله یې رسول الله ﷺ وپېژندلو نو بیا یې چې شا د رسول الله ﷺ په سینه پورې لګېدلې وه هغه یې ورپورې مښله او لرې کېدلو ته یې نه پرېښوده پدې وخت کې رسول الله ﷺ ورسره ټوکې کولې او ویل یې دا غلام څوک اخلي؟ هغه ورته وویل : یا رسول الله ﷺ بیا به مې ردي پیدا کړې (څوک به مې نه اخلي ) رسول الله ﷺ ورته وویل لکن ته د الله په وړاندې ردي نه بلکه قیمتي یې . [1]

نو پدې ډول ټوکې خوش اخلاقي مزاح چې د شریعت خلاف پکې څه نه وي اسلام یې مخالف نه دی .

## نوې او یا وینځلې جامې آغوستل

په اخترونو کې نوې او که نه وي نو خپلې غوره جامې آغوستل مستحب دي عطر لګول ، ځان پاکول ، تر ممکنه حده پورې ځان تازه کول ترڅو چې اسراف پکې نه وي نو دا ټول مستحب دي د رسول الله ﷺ په اړه په احادیثو کې هم راغلي دي چې

**فقد كان للنبي صلى الله عليه وسلم جبة يلبسها للعيدين**

1 رواه الطبران

ويوم الجمعة ( د رسول الله یوه چوپانه وه چې رسول الله ﷺ به د جُمعې او اختر په ورځ آغوستله) .

په اخترونو کې د خپلوانو کورونو ته تلل هم مستحب دي مسلمانان چې کله د قرباني کولو نه فارغ شي نو باید د خپلوانو د زیارتونو او ملاقاتونو لپاره وخت ورکړي او د هغوی لیدلو ته ورشي هغوی ته ددې مبارکې ورځې مبارکي ورکړي او د هغوی سره په خوشحالیو کې شریک شي همدارنګه ترڅو چې کېدلی شي د ملګرو سره وګوري د همسایه ګانو کورونو ته ورشي او د عید د مقصدونو یو لوی مقصد هم همدا دی چې هغه خپلوان چې ډېر وخت یو له بل نه لرې وې نو پدې ورځ به سره وګوري او یو بل سره به په خوشحالیو کې شریکان شي او په قرآن کریم کې هم په احادیثو کې زیات تائید پدې شوی دی چې باید مسلمان له خپلو خپلوانو سره تعلق کلک وساتي رسول الله ﷺ فرمایي من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليصل رحمه.[1] (څوک چې په الله او د قیامت په ورځ ایمان لري هغه د له خپلوانو سره خپلولي تینګه ساتي) .

حضرت عبد الرحمن ابن عوف فرمایي ما له رسول الله ﷺ نه واوریدل چې هغه فرمایل :

[1] البخاري

قال الله عز وجل: أنا الله، وأنا الرحمن، خلقت الرحم، وشققت لها اسما من اسمي، فمن وصلها وصلته، ومن قطعها قطعته" [1]

ترجمه : الله فرمايي زه الله يم زه الرحمن يم رحم (خپلولي) ما پيدا کړېده او هغې ته مې نوم له خپل نوم نه ورکړی دی چا چې دا وساتله زه به يې د هغه سره وساتم او چا چې دا پرې کړه زه به يې د هغه کس سره پرې کړم .

نکته : د اختر په ورځ ځينې خلک د ځينې خپلوانو کور ته ددې امله نه ورځي چې هغه د دوی کور ته نه راځي او د نه ورتلو لپاره دا څه ښه دليل نه دی بلکه انسان بايد دهغه کسانو کور ته هم ورشي چې هغه د دوی کور ته نه راځي رسول الله پدې اړه فرمايي : ليس الواصل بالمكافئ، ولكن الواصل الذي إذا قطعت رحمه وصلها . [2]

ترجمه : د خپلولي ساتونکی هغه نه دی چې څوک بدله ورکوي بلکه د خپلولي ساتونکی هغه کس دی چې د هغه چا سره يې وساتي چې هغه يې دده سره ساتل نه غواړي .

---

1 الترغيب
2 صحيح البخار

# د اختر په ورځ د غریبانو سره مرسته کول

د عید په ورځ د غریبانو سره مرسته کول او هغوی ته موقع ورکول چې ددې ورځې خوشحالي ووینې هم مستحب دي او چې څومره کېدلی شي انسان به د غریبانو سره مرسته کوي دوړوکي اختر په ورځې خو یې که له مخکې نه صدقه فطر نه وي ورکړې نو هغه به اوس خامخا ورکوي او د لوی اختر په ورځ به د غوښې برخه ورکوي او نورې ښېګڼې به ورسره کوي او مالدار خلک به د هغوی پوښتنه کوي او د هغوی سره به خوشحالي کوي او هغوی ته به په ژوند کې حوصله ورکوي چې هغوی او د هغوی بچي دا محسوس نه کړي چې د پیسو د کم والي له امله هغوی اوس د مالدارو خلکو څخه کم دي او له دوی سره سیالي نشي کولی .

په خاصه توګه چې دا غریب زمونږ ګاونډي وي نو چې مونږ غواړو یو ښه مسلمان شو نو مونږ به د همسایه ګانو داسې خیال ساتو او هغوی ته به داسې توجه کوو لکه څنګه چې مونږ ته اسلام را ښودلي وي رسو ل الله ﷺ په یو ځای کې فرمایي :

والذي نفسي بيده، لا يؤمن عبد حتى يحب لجاره (أو قال لأخيه) ما يحب لنفسه. 1

ترجمه : زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی یو بنده تر هغه وخته پورې ښه مؤمن نشي کېدلی ترڅو چې د خپل ګاونډي لپاره هغه څه خوښ نه کړي کوم چې د ځان لپاره خوښوي په یو روایت کې د ګاونډي په ځای د ورور ټکی راغلی خو بیا آیة دی چې الله فرمایي مسلمانان تولـه سره ورونه دي .

ددې امله خو اسلام مونږ ته هدایت کوي چې کله د قربانـي غوښه تیاره شي نو هغه په دریو برخو تقسیم کړئ یوه برخه یې کور ته پرېږدئ یوه برخه یې مېلمنو ته کېږدئ او یوه برخه یې په غریبانو باندې تقسیم کړئ او الله هم فرمایي : فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ (تاسې د دې (قربانـي) نه خوراک وکوئ او د هغې نه غریب ته هم خوراک ورکړئ نو ددې امله ځینې علماء کرام فرمایي چې د قربانـي غوښه دې په دوه برخو تقسیم کړل شي یوه برخه دې په غریبانو وویشل شي او یوه برخه دې خپل خوراک ته حصاره کړل شي الحمد لله زمونږ په ساحو کې او مسلمانانو کلیو کې که دا طریقه تولو مسلمانانو نه ده عملي کړې نو اکثرو خو عملي کړېده ددې وجې نه د لوی

1 رواه مسلم

اختر په ورځ چې غریب نه غریب کور هم وي نو د غوښې پکې کمی نه وي .

## د اختر په ورځ عفو کول

د اختر په ورځ بل مستحب عمل دادی چې انسان د نورو خلکو سره موجوده اختلافات ختم کړي او په خوشحالي سره د خپلو ورونو سره مصافحه معانقه او مبارکي وکوي او که د هغوی سره خبرې هم نه کوي نو پدې ورځ یې ورسره شروع کړي او که په ده یې زیاتی کړی وي د هغه د بښنې کوښښ وکوي او اختلافات شا ته وغورځوي او حتی چې که هغه له ده سره بد کوي نو باید انسان له هغه سره د ښو کارونو کوښښ وکوي یو وخت به داسې راشي چې دده ښه به د هغه زړه هم نرم کړي او هغه به هم سمې لارې ته راشې پدې اړه د حضرت ابي بکر صدیق واقعه مشهوره ده چې هغه به یو کس ته چې مسطح نومیدو خوراک ورکولو او په خپل مصرف به یې هغه ته جامې کولې او له هغه سره به یې هر ډول نیکي کوله یو وخت داسې راغلو چې د حضرت ابي بکر صدیق په لور پسې د افک (دتهمت ) واقعه و تړل شوه او په قرآن کریم کې په سورة النور کې ددې واقعې رد او دروغ والی نازل شو او پدې واقعه کې د همدې مسطح ډیر دخل وو نو چې کله حضرت ابو بکر صدیق خبر شو نو مسطح ته چې ده به هرو خت ورسره مرسته کوله ډیر غصه وو او ویې ویله والله ددینه وروسته به زه

مسطح ته هېڅ شی هم نه ورکوم بیا الله آیة نازل کړو چې په تاسې کې د د فضل خاوندان په غریبانو باندې بندیز نه راولي نو حضرت ابو بکر صدیق بېرته په مسطح باندې خپل زاړه احسانات روان وساتل .[1]

دا د حضرت ابو بکر صدیق پرېکړه د یوې ډېرې لویې واقعې نه وروسته راغلې وه چې دده مبارک په لور پسې لوی تهمت ویل شوی وو او دا ډېره لویه خبره ده چې د چا د اولاد عزت څوک پایمال کړي لکن بیا هم الله حکم وکولو چې بښنه ورته کوئ او پاتې شوه د مسلمانانو په مینځ کې وړوکي اختلافات وي او دهغې له امله یې یو له بل سره خبرې پرې کړې وي نو هغه خو باید انسان زر هېر کړي رسول الله ﷺ د هغه دوو کسانو په اړه چې یو له بل سره خبرې نه کوي فرمایي :

لا يحل لرجل أن يهجر أخاه فوق ثلاث ليال، يلتقيان، فيعرض هذا، ويعرض هذا، وخيرهما الذي يبدأ بالسلام"[2]

ترجمه : یو سړي ته دا نه دي روا چې خپل ورور د دریو ورځو نه زیات ترک کړي (له هغه سره خبرې ونه کوي) چې سره مخامخ شي نو یو له بل نه مخ اړوي او په دوی کې غوره کس هغه دی چې اول سلام واچوي .

---

[1] متفق علیه
[2] متفق علیه

يعني هغه دوه کسان چې سره خفه وي په دوی کې غوره کس هغه دی چې دا د خفګان فضاء پای ته ورسوي او خپل مقابل لوري ته سلام واچوي او د هغه سره خبرې شروع کړي .

په يو بل حديث کې حضرت ابي الاحوص د خپل پلار نه روايت کوي هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته وويل :

## يا رسول الله، الرجلُ أمُرُّ به فلا يَقريني، ولا يُضيِّفُني، فيمُرُّ بي، أفأجزيه؟ قال":لا، أقْرِه ".[1]

ترجمه : يا رسول الله ﷺ يو سړی دی چې زه د هغه په خوا کې تېرېږم (د هغه ځای ته ورځم) هغه زما شه راغلاست او مېلمستيا نه کوي آيا چې هغه په ما تيريږي نو زه همداسې بدله ورکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وويل نه مېلمستيا يې کوه .

پدې اړه د حضرت ابو بکر صديق هم يوه واقعه ده حضرت ابو هريره فرمايي چې حضرت ابو بکر الصديق د رسول الله ﷺ په مجلس کې ناست وو او يو کس راغلو ده ته په څه خبره غصه وو نو ده ته يې ښکنځل شروع کړل رسول الله ﷺ به چې د هغه خبرې آورېدې وربانديې مسکی به شو خو کله چې د هغه کس ښکنځلې ډېرې زياتې شوې نو حضرت ابو بکر صديق يې د يو څو خبرو ځواب ور وګرځولو

[1] صحيح سنن الترمذي

رسول الله ﷺ غصه شو او له مجلس نه پاڅېدو روان شو حضرت ابو بکر صديق پسې ورغلو ورته يې وويل يا رسول الله ﷺ ستا په حضور کې هغه ماته ښکنځل کول او چې کله ما هغه ته ځواب ور وګرځولو ته غصه شوې او پاڅېدې ؟ رسول الله ﷺ ورته وويل هو! کله چې ته چُپ وې ستا سره يوه ملائکه وه ستا په ځای هغه ورته ځوابونه ور کول او کله چې تا ځواب ويل شروع کړل نو شيطان ستاسې مينځ ته راغلو بيا زما لپاره مناسبه نه وه چې له شيطان سره په يو مجلس کې کينم بيا يې حضرت ابو بکر صديق ته وويل ای ابا بکره درې شيان حق دي :

١. په چا باندې چې ظلم وشي هغه صبر وکوي الله به يې مرسته کوي .

٢. څوک چې ديو خير دروازه خلاصه کړي (د خير په کوم کار کې خپل مال مصرف کړي) او پدې سره يې مطلب د الله رضا وي الله به يې مال زيات کړي .

٣. هغه څوک چې سوال کول شروع کړي او پدې سره مال زياتول غواړي الله به يې ورته کم کړي .[1]

## د ايام بيض اهميت

[1] رواه أحمد

په هره مياشت کې درې ورځې روژه داسې وي لکه ټوله مياشت روژه نيول ځکه الله انسان ته د عمل ثواب په لس چنده ورکوي نو د دريو ورځو روژو ثواب د ديرشو ورځو روژې سره برابرېږي بيا په مياشت کې د ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم روژه غوره ده حضرت جرير بن عبد الله روايت کړی دی هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

# صِيَامُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ صِيَامُ الدَّهْرِ وَأَيَّامُ الْبِيضِ صَبِيحَةَ ثَلاثَ عَشْرَةَ وَأَرْبَعَ عَشْرَةَ وَخَمْسَ عَشْرَةَ .[1]

ترجمه : د هرې مياشتې څخه د دريو ورځو روژه نيول د ټول عمر د روژې د نيولو سره په ثواب کې برابر دي او درې سپينې ورځې د مياشتې د ديارلسم څوارلسم او پنځلسم ورځې دي . (ديته ايام بيض ويل کيږي ځکه پدې کې سپوږمۍ ډير سپين وي او پوره رڼا کوي) .

او په مياشت کې د دريو ورځو روژو په اړه رسول الله ﷺ فرمايي :

# صوم ثلاثة أيام من كل شهر صوم الدهر كله.[2]

ترجمه : له هرې مياشت نه د دريو ورځو روژه د ټول عمر روژه ده .

په بل حديث کې حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي :

---

[1] النسايي
[2] متفق عليه

أوصاني خليلي صلى الله عليه وسلم بثلاث: صيام ثلاثة أيام من كل شهر، وركعتي الضحى وأن أوتر قبل أن أنام. [1]

ترجمه : زما دوست (رسول الله ﷺ ) ماته په دریو شیانو باندې وصیت کړی دی له هرې میاشت نه درې ورځې روژه نیول ، د څاښت دوه رکعته مونځ ، او دا چې زه له ویده کېدلو وړاندې وتر وکوم .

[1] متفق علیه

# د جمعې د ورځې اهمیت

د هفتې په ورځو کې د جُمعې ورځ هغه یوازینۍ ورځ ده چې په نوم یې مکمل سورت نومول شوی دی هلته الله فرمایي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسَعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّه وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ .[1]

ترجمه : ای مؤمنانو کله چې د مانځه اواز وشي د جُمعې په ورځ نو په تیزۍ سره د الله ذکر ته لاړ شئ او تجارت پریږدئ دا ستاسې لپاره غوره خبره ده که تاسې پوهیږئ .

د جُمعې د ورځې د فضیلت په اړه حضرت ابي هریره فرمایي:

خير يوم طلعت فيه الشمس يوم الجمعة، فيه خلق آدم، وفيه أدخل الجنة وفيه أخرج منها .[2]

ترجمه : چې لمر پکې را خیږي په هغه ورځو کې غوره ورځ د جُمعې ده په همدې کې حضرت آدم پیدا کړل شوی دی په همدې ورځ جنت ته ننه

---

[1] سورة الجمعة آية ٩

[2] رواه مسلم

ايستل شوی دی او په همدې ورځ ورڅخه ويستل شوی دی .

د حضرت اوس بن اوس څخه روايت دی هغه فرمايي رسول الله فرمايل :

إن من أفضل أيامكم يوم الجمعة فأكثروا علي من الصلاة فيه فإن صلاتكم معروضة . [1]

ترجمه : ستاسې په ورځو کې غوره ورځ د جمعې ده پدې کې په ما باندې درود زياد واياست ځکه پدې ورځ کې ستاسې درود ماته را پيش کول کيږي .

د حضرت ابي هريره ❾ نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله فرمايي :

الصلوات الخمس والجمعة إلى الجمعة كفارات لما بينهن . [2]

ترجمه : پنځه مونځونه او د جمعې ورځ د يو نه تر بل پورې چې څومره ګناهونه شوې وي ختموي يې .

د حضرت فارسي نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله فرمايل :

لا يغتسل رجل يوم الجمعة ويتطهر ما استطاع من طهر ويدهن من دهنه أو يمس من طيب بيته ثم يخرج فلا يفرق

[1] رواه ابو داود

[2] رواه مسلم

بين اثنين ثم يصلي ما كتب له ثم ينصت إذا تكلم الإمام إلا غفر له ما بينه وبين الجمعة الأخرى.[1]

ترجمه : څوک په تاسې کې داسې نشته چې هغه د جُمعې په ورځ غسل وکوي او څومره چې د ځان صفايي کولی شي دومره صفايي وکوي او خپل وېښته غوړ کړي او د کور له عطرو څخه عطر ولګوي بيا له کور نه وزي بيا څومره مونځ چې الله ورته ليکلي وي هغه وکوي او کله چې امام خبرې شروع کړی دی چُپ پاتې شي مګر الله ورته ټول هغه ګناهونه معاف کوي چې ددې او د مخکنۍ جمعې په مينځ کې تېر شوي وي .

رسول الله د جُمعې د ورځې په اړه فرمايي:

إن من أفضل أيامكم يوم الجمعة فيه خلق آدم وفيه قبض وفيه النفخة وفيه الصعقة ، فأكثروا علي من الصلاة فيه فإن صلاتكم معروضة عليّ . قالوا : يا رسول الله وكيف تعرض صلاتنا عليك وقد أرِمْتَ ؟ - يقولون بليت - فقال : إن الله عز وجل حرّم على الأرض أجساد الأنبياء[2].

ترجمه : بېشکه ستاسې په ورځو کې غوره ورځ د جُمعې ده په همدې کې حضرت آدم پيدا شوی وو

---

[1] رواه البخاري
[2] رواه الإمام أحمد وأبو داود والنسائي وابن ماجه

او په همدې ورځ وفات شوی وو په همدې ورځ باندې به شپېلۍ پوه کول کیږي او په همدې ورځ به قیامت وي پدې ورځ باندې درود زیاد وایاست ځکه پدې ورځ ویل شوی درود ماته را وړاندې کول کیږي صحابه وو پوښتنه وکوله چې زمونږ درود به تاته څنګه در وړاندې کول کیږي پداسې حال کې چې ستا بدن خو به ریږیدلی وي؟ رسول ﷲ وفرمایل بېشکه ﷲ په زمکه باندې د انبیاوو د جسدونو خوراک حرام کړي دي (زمکه د انبیاوو جسدونه نشي خوړلی)

# د جُمعې په ورځ په يو ساعت کې دعا قبليږي

إن في الجمعة ساعة ، لا يوافقها عبد مسلم ، قائم يصلي يسأل الله عز وجل شيئا إلا أعطاه إياه.[1]

ترجمه : بېشکه په جُمعه کې يو ساعت دی (چې تعين يې نه دی شوی) کوم بنده چې په هغه ساعت کې مونځ کوي نو د الله نه چې هرشی وغواړي الله يې ورکوي .

په بل ځای کې رسول الله فرمايي :

يوم الجمعة اثنتا عشرة ساعة لا يوجد فيها عبد مسلم ، يسأل الله شيئا إلا آتاه إياه ، فالتمسوها آخر ساعة بعد العصر.[2]

ترجمه : د جُمعې ورځ دولس ساعته ده چې په دې کې کوم مسلمان بنده څه وغواړي الله ي ورکوي په هغې کې (د هغه ساعت چې په کوم کې دعا قبليږي) لټون وکوئ د مازيګر نه وروسته د ورځې په آخري ساعت کې .

اوس دا ساعت د جمعې په ورځ څه وخت وي؟ پدې اړه علماوو مختلف اقوال ذکر کړي دي امام ابن

---

1 صحيح النسائي
2 صحيح النسائي

قیم ددې ساعت په اړه د علماوو ۱۱ قولونه نقل کړي دي او امام شوکاني په نیل الاوطار کې د صحابه وو د وخت نه ددې ساعت په اړه اختلاف یاد کړی دی او شاوخوا ٤٣ نظریې یې ذکر کړې دي .

خو حضرت عمر فرمایي : چې د چا څه حاجت وي نو ټوله ورځ یې هم غوښتل اسانه دي .

خو د هغه ساعت په اړه ډېر تائید شوي قول دا دی چې دا د مازیګر د مانځه نه وروسته دی او پدې اړه یو بل حدیث هم دی چې په هغه کې تصریح شوې ده په همدې وخت باندې په هغه حدیث کې رسول الله فرمایي :

إن في الجمعة ساعة لا يوافقها عبد يسأل الله فيها خيرا إلا أعطاه إياه ، وهي بعد العصر.[1]

ترجمه : بېشکه په جمعه کې یو ساعت دی چې چې بنده په هغه کې د خیر سوال وکوي الله یې ورکوي او هغه وخت د مازیګر نه وروسته دی او په مخکني یو حدیث کې هم راغلي وو چې فالتمسو ها اخر ساعة بعد العصر.

په بل حدیث کې حضرت عبد الله بن سلام فرمایي ما پداسې حالت کې چې رسول الله ناست وو وویل چې مونږ د الله په کتاب (تورات) کې موندلي دي چې

[1] مسند امام احمد ابن حنبل

د جمعې په ورځ کې داسې يو ساعت دی چې بنده په هغه وخت کې دعا وکوي دعا ئې قبليږي او حاجت يې پوره کيږي .

حضرت عبدالله فرمايي بيا ماته رسول الله اشاره وکوله او راته يې وفرمايل بلکه يا د ساعت بعض برخه ما ورته وويل هو! يا رسول الله تا رښتا وويل يو ساعت او يا د يو ساعت بعض برخه لکن دا په څه وخت کې وي ؟

رسول الله راته وفرمايل د ورځې آخري ساعت .. ما ورته وويل يا رسول الله هغه خو د مانځه وخت نه وي رسول الله راته وويل هو! څوک چې مونځ وکوي او بيا په جومات کې کيني اوی دی صرف مانځه کېنولی وي (د يو مانځه نه وروسته د بل مانځه انتظار کوي) نو دا وخت يې هم په ما نځه کې دی .

يو بل قول هم دی د هغه هم تائيد شوی دی هغه د جُمعې د مانځه وخت دی د خطبې د شروع نه د جومات څخه بېرته تر تللو پورې .

## د جُمعې په ورځ سورة کهف خاص ثواب لري

بل ځای کې رسول الله ﷺ د جُمعې په ورځ د سورة کهف د لوستلو په اړه فرمايي :

**من قرأ سورة ( الكهف ) في يوم الجمعة أضاء له من النور ما بين الجمعتين** [1]

ترجمه : چا چې سورة کهف د جُمعې په ورځ ولوست نو الله ﷻ به داسې نور ورکړي چې د هغې په مرسته دده د دواړو جُمعو په مينځ کې تېر شوی وخت رڼا کړي .

## د جُمعې په ورځ جهنم تر نورو ورځو يخ وي

**أن جهنم تسجر إلا يوم الجمعة**

ترجمه : بېشکه د جهنم اور هره ورځ يو ځل ګرمول کيږي بغير د جُمعې د ورځې نه .

ددې حديث د مطلب په اړه حضرت ابن قيم فرمايي :

[1] صحيح الترغيب

پدې کې نکته داده چې دا د الله په وړاندې بهتره ورځ ده او پدې کې داسې عبادتونه کیږي چې هغه د جهنم د اور د ګرمېدلو مخه نیسي ددې امله د رښتینو مؤمنانو ګناهونه پدې ورځ کې له نورو ورځو څخه کمې وي تردې چې ګناه کاران (فاجران) پدې ورځ کې د ډېرو داسې کارونو څخه مخ اړوي چې د هفتې په نورو ورځو کې یې ورڅخه نه اړوي .

## د جُمعې په ورځ خاص مونځ دی

د هفتې په ورځو کې جمعه په یو خاص مانځه باندې خاصه کړل شوې ده چې مونږ ورته د جُمعې مونځ وایو او هغه مونځ د هفتې په نورو ورځو کې نشته او پدې مانځه کې الله داسې فضیلتونه ایښي دي چې په نورو مونځونو کې نشته او پدې مانځه باندې رسول الله داسې ټینګار کړی دی چې په نورو مونځونو باندې یې نه دی کړی رسول الله د جُمعې د مانځه په اړه فرمایي :

من ترك ثلاث جمع تهاونا طبع الله على قلبه .[1]

ترجمه : چا چې درې د جُمعې ورځې مونځ د سستیا له امله پریښود الله به یې په زړه باندې مهر ولګوي .

په بل ځای کې رسول الله فرمایي :

[1] مسند امام احمد ابن حنبل

من ترك ثلاث جمعات من غير عذر كتب من المنافقين .[1]

ترجمه : چا چې درى جُمعې پرېښودې بغير د عذر نه نو الله به يې د منافقينو په جم كې وليكي .

په بل ځاى كې رسول الله فرمايي :

ليمتنعن أقوام عن ودعهم الجمعات أو ليختمن على قلوبهم ثم ليكونن من الغافلين .[2]

ترجمه : دا قومونه دې د جُمعې د پرېښودلو څخه ځانونه منع كړي او كنه نو الله به يې په زړونو باندې مهر ولګوي بيا به له غافلينو څخه شي .

په بل ځاى كې رسول الله فرمايي :

من ترك الجمعة من غير عذر فليتصدق بدينار ، فإن لم يجد فبنصف دينار .[3]

ترجمه : چا چې بغير د عذر نه جُمعه ( د جُمعې مونځ) پرېښود نو هغه د يو دينار صدقه كړي او كه دينار يې نشواى پيدا كولى نو نيم دينار د صدقه كړي .

همدا حديث په بل روايت كې داسې نقل شوى دى .

1 رواه الطبران
2 رواه مسلم
3 ابن ماجه

أن من فاتته الجمعة من غير عذر فليتصدق بدرهم أو نصف درهم ، أو صاع حنطة أو نصف صاع .[1]

ترجمه : له چا څخه چې د جُمعې مونځ بغير د عذر نه پاتې شي نو يو درهم يا نيم درهم د صدقه کړي او يا يوه پېمانه غنم او يا نيمه پېمانه غنم .

[1] النسائي

# د جُمعې ورځ د هفتې عيد دی

رسول الله ﷺ د جُمعې ورځ ته عيد ويلي دي او په هفته کې يې دا ورځ د مسلمانانو لپاره د خير او برکت ورځ ګرځولې ده ځرنګه چې په اختر کې دوه شيان وي يو مونځ او او يوه قربانې نو په جُمعه کې خو مونځ د جُمعې مونځ شته او که ځوک د جُمعې مانځه ته وختي لاړ شي دغه وختي تلل يې ورته د قربانې په ځای دريږي رسول الله ﷺ پدې اړه فرمايي :

من اغتسل يوم الجمعة غسل الجنابة ثم راح في الساعة الأولى فكأنما قرب بدنة ، ومن راح في الساعة الثانية فكأنما قرب بقرة ، ومن راح في الساعة الثالثة فكأنما قرب كبشا ، ومن راح في الساعة الرابعة فكأنما قرب دجاجة ، ومن راح في الساعة الخامسة فكأنما قرب بيضة ، فإذا خرج الإمام حضرت الملائكة يستمعون الذكر .[1]

ترجمه : ځوک چې د جمُعې په ورځ داسې غسل وکوي لکه ځوک چې د جنابت غسل کوي بيا په اول ساعت کې جومات ته لاړ شي نو دا داسې ده لکه ده چې اوښ صدقه کړی وي او ځوک چې په دوهم ساعت کې لاړ شي دا داسې ده لکه ده چې غوايی صدقه کړی

[1] صحيح البخاري و مسلم

وي او هغه چې په دریم ساعت کې لاړ شي داسې ده لکه ده چې ګډ (پسه) صدقه کړی وي او هغه چې په څلورم ساعت کې لاړ شي دا داسې ده لکه ده چې چرګه صدقه کړې وي او هغه چې په پنځم ساعت کې لاړ شي داسې ده لکه ده چې هګۍ صدقه کړې وي کله چې امام خطبې ته پاڅیږي ملائکې حاضریږي او د الله ذکر ته غوږ نیسي .

په بل حدیث کې رسول الله فرمایي :

تقعد الملائكة يوم الجمعة على أبواب المسجد يكتبون الناس على منازلهم ، فالناس فيه كرجل قدم بدنة ، وكرجل قدم بقرة ، وكرجل قدم شاة ، ، وكرجل قدم دجاجة ، وكرجل قدم عصفورا ، وكرجل قدم بيضة .[1]

ترجمه : د جُمعې په ورځ ملائکې د جوماتونو په دروازو کې کیني د خلکو مرتبې لیکي په خلکو کې کوم سړی داسې وي لکه ده چې اوښ خیرات کړی وي یو سړی داسې وي لکه ده چې غوایی خیرات کړی وي او یو سړی داسې وي لکه ده چې پسه صدقه کړی وي او یو سړی داسې وي لکه ده چې چرګه خیرات کړې وي او یو سړی داسې وي لکه ده چې مرغۍ صدقه کړې وي او یو سړی داسې وي لکه ده چې هګۍ صدقه کړې وي .

## د جمعې په ورځ خیرات کول غوره دي

[1] صحیح النسائي

پدې ورځ باندې خیرات کول تر نورو ورځو څخه زیات ثواب لري او دومره غوره دی لکه چې په روژه کې خیرات کول د نورو میاشتو څخه څومره غوره وي .

پدې اړه رسول الله فرمايي :

## وحق على كل حالم أن يغتسل يومئذ كاغتساله من الجنابة ، والصدقة فيه أعظم من الصدقة في سائر الأيام ، ولم تطلع الشمس ولم تغرب على مثل يوم الجمعة .[1]

ترجمه : په هر بالغ سړي باندې پدې ورځ کې حق دي چې هغه داسې غسل وکوي لکه څوک چې د جنابت نه غسل کوي او پدې ورځ کې خیرات کول تر نورو ورځو څخه غوره دي او د جُمعې نه په غوره ورځ باندې نه لمر ختلی او نه پرېوتلی (د هفتې په ورځو کې تر جُمعې نه غوره ورځ نشته) .

## د دوشنبې او پنجشنبې د ورځو اهمیت

په هفته کې دا دواړه غوره ورځې دي او رسول الله ﷺ به اکثر پدې ورځو باندې روژه وو رسول الله ﷺ يې وجه هم فرمایلې ده په یو حدیث کې رسول الله ﷺ فرمايي :

1 مصنف عبد الرزاق

تعرض الأعمال يوم الاثنين والخميس، فأحب أن يعرض عملي وأنا صائم.[1]

ترجمه : د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د انسان اعمال الله ته وړاندې کيږي او زما خوښيږي چې الله ته زما اعمال پداسې حالت کې وړاندې شي چې زما روژه وي .

حضرت ابو قتاده الانصاري فرمايي له رسول الله ﷺ څخه د دوشنبې د ورځې په اړه پوښتنه وشوه رسول الله ﷺ ورته وويل :

فيه ولدتُ ، وفيه أُنزل عليَّ .[2]

ترجمه : په همدې ورځ زه پيدا شوی يم او پدې ورځ باندې په ما باندې وحی راغلې ده .

حضرت عائشه فرمايي :

كان النبي صلى الله عليه وسلم يتحرَّى صوم الاثنين والخميس.[3]

ترجمه : رسول الله به د دوشنبې او پنجشنبې د ورځو (د هفتې په ورځو کې) لټون کاوه (انتظار به يې ورته ويسته) .

1 ترمذي او ابن ماجه
2 رواه مسلم
3 رواه الترمذي

# د شپې د آخرې برخې اهميت

په وختونو کې يو داسې مبارک وخت دى چې انسان ورڅخه کار واخلي د دنيا او آخرت نيکبختي يې په برخه کيږي او يوازينى وخت دى چې الله (په بلا کيف) طريقې سره د زمکې اسمان ته را ښکته کيږي او اواز کوي چې داسې څوک شته چې سوال وکوي زه يې قبول کړم بښنه وغواړي زه يې وبښم رښتيا چې ډير مبارک او د خير وخت دى دا وخت د شپې آخر وخت دى هغه کسان چې پدې وخت کې پاڅيږي او د الله په عبادت مصروف شي هغوى په رښتيا ډول سره لدې وخت څخه کار واخيست او هغه کسان چې پدې وخت کې ويده پاتې شول په رښتيا چې د لوى خير څخه محروم پاتې شول ددې وخت په اړه يو حديث دى :

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله فرمايل :

**ينزل ربنا كل ليله إلى السماء الدنيا حين يبقى ثلث الليل الأخر فيقول: من يدعوني فأستجب له؟ من يسألني فأعطيه؟ من يستغفرني فأغفر له؟ .**

ترجمه : را ښکته کيږي زمونږ رب په هره شپه کې د دنيا اسمان ته کله چې د شپې آخري دريمه برخه شي او وايي : څوک زما نه دعا غواړي چې قبوله يې کړم؟ څوک لما څخه سوال کوي چې ور يې کړم؟ څوک لما څخه بښنه غواړي چې ويې بښم؟

ددې نه نور غوره اواز شته؟ ددېنه نور ښه زېرى شته؟ ستا ګناهونه بښل کيږي ، ستا سوال قبليږي او غوښتنه د منل کيږي په انسانانو کې څوک داسې شته چې ددې وخت نه فايدې پورته کولو ته يې ضرورت نه وي ؟ څوک داسې شته چې د الله نه څه نه غواړي او يا يې د هغه ورکړې او د هغه بښنې ته ضرورت نه وي؟

# د شپې د مانځه اهميت

د شپې د مانځه د فضيلت په اړه قرآني آيت هم دی او په حديثونو کې يې هم ذکر زيات راغلی دی حضرت عائشه فرمايي :

**كان النبي - صلى الله عليه وسلم - يقوم من الليل حتى تتفطر قدماه، فقلت له: لم تصنع هذا، يا رسول الله، وقد غفر لك ما تقدم من ذنبك وما تأخر؟ قال: أفلا أكون عبدا شكورا .** [1]

ترجمه : رسول الله به د شپې دومره اوږد مونځ کاوه چې پښې مبارکې يې و پړسېدې ما ورته وويل : ته داسې ولې کوې الله خو تاته ټول پخواني او وروستني بښلي دي (آية دی چې الله تاته ټول بښلي دي) ؟ نو رسول الله راته وويل چې ولي زه د الله د شکر کونکو بندګانو له جملې څخه نه شم؟ (يعني دا چې الله ماته هرڅه بښلي دي زه بايد اوس د شکر لپاره دومره اوږد مونځ وکوم) .

په پورتني حديث کې حضرت عائشه دا خبره ښکاره کوي چې رسول الله به تر دومره اوږده ساعته پورې په پښو باندې په مانځه کې ولاړ وو

---

[1] متفق عليه

چې هغه پښې مبارکې به يې يو ډول و پړسېدلې نو ځکه په تعجب کې د رسول الله نه پوښتنه کوي چې تاسې ته د دومره ډېر تکليف ويستلو څه ضرورت دی حال دا چې الله تاسې ته ستاسې ګناهونه بښلي دي رسول الله ورته ښکاره کوي چې دا عبادت زه الله ته د شکريې په ډول کوم د دوزخ او د خپل آخرت نه د ويرې په خاطر يې نه کوم .

حضرت علي فرمايي :

أن النبي - صلى الله عليه وسلم - طرقه وفاطمة ليلا، فقال: «ألا تصليان؟» .[1]

ترجمه : يوه شپه رسول الله زمونږ کور ته د شپې راغلو ما او حضرت فاطمې ته يې ويل : ولې تاسې مونځ نه کوئ؟ يعني رسول الله راغلو چې دوی دواړه د شپې مانځه ته پاڅوي يعني څرنګه چې د شپې مونځ کول ډېر غوره دي او په لږ وخت کې الله وربانديې ډېر ثواب ورکوي نو ځکه انسان بايد پدې وخت کې ويده پاتې نه شي بلکه پاڅيږي او د الله د رضا لپاره مونځ وکوي او که دا ډېر غوره نه وای نو بيا رسول الله په نيمه شپه کې د خپلې ګرانې لور او حضرت علي کور ته نه

[1] متفق عليه

ورتلو او هغوی به یې په نیمه شپه کې له خوب نه را پاڅول .

حضرت سالم د حضرت عبدالله بن عمر زوی وو دی د خپل پلار نه روایت کوي هغه فرمايي حضرت عبدالله بن عمر فرمایل چې رسول الله فرمایل :

## نعم الرجل عبد الله، لو كان يصلي من الليل. [1]

ترجمه : عبدالله ډیر ښه سړی دی کاش د شپې مونځ یې کولی یا معنی دا چې که عبدالله د شپې مونځ کولی نو نور به هم ډیر ښه سړی وو .

ددي خبرې د آورېدلو نه وروسته به حضرت عبدالله بن عمر ډیر لږ د شپې خوب کاوه او نوره شپه به یې په عبادت او مانځه کې تېروله .

ددې خبرې په اړه یوه واقعه ده حضرت عبدالله بن عمر فرمايي ما به لیدل چې د رسول الله صحابه وو به خوبونه لیدل او بیا به یې رسول الله ته ویل او رسول الله به د دوی د خوب په تعبیر کې یو څه ورته ویل نو زه پدې وخت کې ماشوم وم او تر واده مخکې زه په جومات کې اوسېدم نو مې له ځان سره ویل که ته چېرته څه ښه او غوره وای نو تا به هم داسې خوبونه کتلي وو لکه دوی چې ګوري نو بیګاه چې څملاستم نو مې وویل : ای الله که په ما کې څه خیر وي نو نن ماته یو خوب را ووینه نو په همدې وخت کې ویده شوم چې خوب

[1] متفق علیه

مې لیدو چې دوې ملائکې راغلې او په لاسونو کې یې د وسپنې نه جوړ د وهلو شیان وو یوه مې یوې خواته روانه وه او بله مې بلې خوا ته زه یې په مینځ کې روان وم زه یې جهنم ته روان کړی وم او زه په زړه کې وایم چې ای الله ما له جهنم نه وساته بیا مې یوه بله ملا ئکه ولیده چې د هغې په لاس کې هم همدا شی وو هغه راته وویل مه ډاریږه ته ډېرښه سړی یې که دې مونځ لږ زیات کولی زه یې بوتلم د جهنم په غاړه یې ودرولم لکه کوهی داسې ژور ځای وو او دوه ښکرونه (پاس یې دوه برجونه) لکه د کوهي داسې درلودل او د هغې سره هم ملائکې ولاړې وې چې د همدا د وهلو شیان یې په لاسونو کې وو جهنم ته مې ور وکتل هلته مې خلک پکې سر چپه ځړیدلي ولیدل چې سرونه یې ښکته وو د قریشو ځینې خلک مې پکې وپېژندل بیا یې زه ښي طرف ته بوتلم سحر چې را پاڅېدم دا خوب مې حضرت حفصه (د رسول الله میرمن او دده خور د حضرت عمر لور ده) ته وویل او هغې رسول الله ته وویل رسول الله وویل عبدالله صالح سړی دی او په یو روایت کې همدا پورتنی خبره ده چې رسول الله وویل عبدالله ښه سړی دی که ده د شپې مونځ کولی .

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص فرمایي رسول الله فرمایل :

يا عبد الله، لا تكن مثل فلان؛ كان يقوم الليل فترك قيام الليل .[1]

ترجمه : اى عبدالله لکه فلانى (د يو چا نوم يې واخيستو) داسې مه کيږه هغه به د شپې مونځ کولو بيا يې پريښودو .

د رسول الله په مجلس کې يو کس ياد کړل شو چې هغه د شپې ويده شو تردې چې سحر شو يعنې ټوله شپه ويده وو رسول الله د هغه په اړه وويل :

ذاك رجل بال الشيطان في أذنيه أو قال: «في أذنه» -2

ترجمه : شيطان دده په غوږونو (يا غوږ ) کې متيازې کړې دي .

پدې حديث کې رسول الله ښکاره کوي چې انسان بايد د شپې مانځه ته پاڅيږي لکن چې نه پا څيږي دا شيطان هغه نه پريږدي او پدې باندې د شيطان غلبه شويده ځکه هغه مانځه ته نه دى پاڅېدلى .

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله فرمايل :

يعقد الشيطان على قافية رأس أحدكم، إذا هو نام، ثلاث عقد، يضرب على كل عقدة: عليك ليل طويل فارقد، فإن

---

1 متفق عليه
2 متفق عليه

استيقظ، فذكر الله تعالى انحلت عقدة، فإن توضأ، انحلت عقدة، فإن صلى، انحلت عقده، فأصبح نشيطا طيب النفس، وإلا أصبح خبيث النفس كسلان .[1]

ترجمه : کله چې لتاسې نه څوک ويده وي نو شيطان د هغه د سر سره درى غوټې تړي د هرې غوټې سره واېي شپه اوږده ده ويده شه نو كه هغه را ويښ شي او الله ياد كړي يوه غوټه ورڅخه خلاصه شي او كه يې اودس وكولو نو بله غوټه هم ورڅخه خلاصه شي او كه يې اودس وكولو بيا يې مونځ وكولو نو بله غوټه هم خلاصه شي نو سحر چې را پاڅيږي نو تازه وي او خوشحال وي او كه د شپې مونځ او يا د الله ذكر ونه كوي نو سبا چې را ويښ شي سست وي او د لاسه يې څه نه كيږي او ښه احساس نه كوي .

حضرت عبدالله بن سلام فرمايي رسول الله فرمايل :

أيها الناس: أفشوا السلام، وأطعموا الطعام، وصلوا بالليل والناس نيام، تدخلوا الجنة بسلام .[2]

ترجمه : اى خلكو سلام خپور كړئ (يو بل ته سلام اچوئ ) په خلكو باندې خوراكونه وكوئ او د شپې په داسې حالت كې مونځ وكوئ چې خلك ويده وي تاسې به په امن سره جنت ته ننوزئ .

---

1 متفق عليه

2 رواه الترمذي

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله فرمايل :

أفضل الصيام بعد رمضان: شهر الله المحرم، وأفضل الصلاة بعد الفريضة: صلاة الليل .[1]

ترجمه : غوره روژه د رمضان نه وروسته د محرم د مياشتې روژه ده او د فرضو نه رووسته غوره مونځ د شپې مونځ دی .

نو رسول الله ورته په فرضو پسې دوهمه مرتبه ورکړېده او د فرض مانځه د غوره والي په اړه خو چا ته څه مشکل نشته او هرڅوک پدې پوه دي چې هغه څومره غوره عمل دی نو په هغه پسې دوهمه مرتبه د ډېر ثواب مونځ د شپې مونځ دی .

رسول الله په يو حديث کې د شپې په مانځه باندې مونږ ته امر کوي رسول الله فرمايي :

عليكم بقيام الليل فإنه دأب الصالحين قبلكم، وقربة إلى الله تعالى، ومكفرة للسيئات، ومنهاة عن الإثم،ومطردة للداء عن الجسد .[2]

ترجمه : تاسې د شپې مونځ کوئ دا ستاسې نه وړاندې د نيکانو طريقه ده او الله ته د نيږدې کېدلو لپاره وسيله ده او د ګناهونو دختمولو

---

1 رواه مسلم
2 رواه أحمد والترمذي

لپاره ذریعه ده او د ګناه نه منع کونکی عمل دی او د بدن نه د بیماري لرې کونکی کار دی .

په دې حدیث کې له یوه پلوه رسول الله د شپې په مانځه باندې خپلو امتیانو ته امر کړی دی چې دا کوئ او له بله پلوه یې په زړه پورې فایدې ورته بیان کړي دي چې څوک پکې فکر وکوي د هرچا زړه به وغواړي چې دا مونځ مې کولی د چا به نه خوښیږي چې د پخوانیو نېکانو په لاره لاړ شي او د چا به نه خوښیږي چې داسې عمل ونه کوي چې بنده الله ته نېږدې کړي بیا د ګناهونو څخه پاکونکی د ګناه نه منع کونکی او د بدن څخه د بیماري لرې کونکی عمل د هر چا خوښیږي .

په یوه حدیث کې رسول الله د هغه کسانو لپاره چې مونځ کوي نا اشنا ثواب بیان کړو رسول الله وفرمایل :

في الجنة غرفة يرى ظاهرها من باطنها، وباطنها من ظاهرها (په جنت کې داسې کوټې دي چې بهر یې له د ننه او د ننه یې له بهر څخه ښکاره کیږي ) فقيل: لمن يا رسول الله؟ (صحابه وو پوښتنه وکوله چې دا کوټې د چا لپاره دي یا رسول الله؟ رسول الله ورته وفرمایل دا د هغه کسانو لپاره دي لمن أطاب الكلام، وأطعم الطعام، وبات قائماً والناس

نیام .[1] (چې ښې خبرې کوي خلکو ته خوراکونه ورکوي او پداسې حالت کې د شپې مونځ کوي چې نور خلک ویده وي) .

په یو بل حدیث کې رسو ل الله د شپې د مانځه لپاره عجیب ثواب بیان کړی دی فرمايي :

أتاني جبريل فقال: يا محمد، عش ما شئت فإنك ميت، وأحبب من شئت فإنك مفارقه، واعمل ما شئت فإنك مجزي به، واعلم أن شرف المؤمن قيامه بالليل، وعزه استغناؤه عن الناس .[2]

ترجمه : ما ته حضرت جبریل راغلو راته یې وویل ای محمده څنګه د چې خوښه وي داسې ژوند وکوه بېشکه ته یو وخت مړ کېدونکی یې (نو چې یو څوک په یقیني توګه مړ کیږي که الله هغه ته سلیم عقل ورکړی وي هغه به څنګه ژوند کوي) له چا سره د چې زړه غواړي مینه ورسره وکوه بېشکه ته ترې جدا کیږي (له چا نه چې څوک جدا شي بیا یې ډېر ارمان وي چې هسې مې ورسره بد کول ..) چې څه د خوښه وي هغه عمل وکوه بېشکه تاته به یې جزا رسیږي (یو د سلیم عقل خاوند چې پدې پوه شي چې ماته د هر عمل جزا یا سزا راکول کیږي نو هغه به څنګه عمل کوي) او پدې پوه شه

[1] رواه الطبراني والحاكم
[2] رواه الحاكم والبيهقي

چې د سړي شرافت د هغه د شپې په مانځه کې دی او د هغه عزت په خلکو کې له استغنا څخه دی .

او د شپې مونځ هم د رسول الله دا مطلب نه دی چې یو څوک د ټولې ورځ کار کوي او بیا د هغه ټوله شپه مونځ هم کوي بلکه چې هرڅومره کولی شي اګر که لږ وخت هم وي ځکه رسول الله په بل حدیث کې فرمایي :

من قام بعشر آيات لم يُكتب من الغافلين، ومن قام بمائة آية كتب من القانتين، ومن قام بألف آية كتب من المقنطرين .[1]

ترجمه : چا چې د شپې لس آیتونه تلاوت کړل هغه له غافلینو څخه نه دی او چا چې سل آیتونه تلاوت کړل هغه له قانتیونو څخه دی او چا چې زر آیتونه تلاوت کړل هغه به له مقنطرینو څخه ولیکل شي مقنطرین هغه چاته وایي چې الله ورته ډیر زیات اجر ورکوي قنطار په عربي وزن کې ډیر زیات شی دی یعني په قنطارونو ثوابونه ورکول کیږي لکه زمونږ په پښتو کې چې د کوم شي د زیادت ښکاره کولو لپاره مونږ وایو په خرواررونو دي .

رسول الله یوازې مونږ ته پرې امر نه دی کړی رسول الله په خپله هم لکه مخکې چې د حضرت عایشې حدیث تیر شو د شپې مونځ ښه په اهتمام

[1] رواه أبو داود

سره کولو او په يو حديث کې حضرت حذيفه د رسول الله د شپې د مانځه په اړه فرمايي :

صليت مع النبي ذات ليلة، فافتتح البقرة، فقلت: يركع بها، ثم افتتح النساء فقرأها، ثم افتتح آل عمران فقرأها، يقرأ مُتَرَسلاً، إذا مرّ بآية فيها تسبيح سبّح، وإذا مرّ بسؤال سأل، وإذا مر بتعوّذ تعوذ... الحديث .[1]

ترجمه : ما له رسول الله سره يوه شپه مونځ کاوه سورة بقره يې پکې شروع کړه زما د اګمان وو چې دا ختم کړي بيا رکوع کوي بيا يې هغه چې ختمه کړه سورة النساء يې شروع کړه بيا يې سورة آل عمران شروع کړو هغه يې هم ولوستلو او په آرامي سره يې تلاوت کولو کله به چې په کوم آية باندې تېرېدو چې د تسبيح ذکر به پکې راغلی ووي هلته به يې سبحان الله ويل او په کوم ځای به چې تېرېدو هلته به د سوال او دعاء ذکر راغلی وو نو هلته به يې سوال کاوه او په کوم ځای کې به چې د پناه غوښتنې ذکر راغلی وو نو هلته به يې اعوذ ب الله ويله ...

په يو بل حديث کې حضرت عبدالله ابن مسعود فرمايي :

[1] رواه مسلم

صليت مع النبي ليلة، فلم يزل قائماً حتى هممت بأمر سوء. قيل: ما هممت؟ قال: هممت أن أجلس وأَدَعَهُ .[1]

ترجمه : يوه شپه مې د رسول الله سره مونځ کاوه هغه تر دومره وخته پورې ولاړ وو چې ما د يو بد شي اراده وکوله چا ورځخه پوښتنه وکوله د څه شي اراده د وکوله؟ ده ورته وويل اراده مې وکوله چې ورځخه کېنم او مونځ پرېږدم .

چې څومره سلف دي هغوى ټولو به د شپې مونځ د ښې پابندي سره کولو او کوښښ به يې کولو چې ورځخه پاتې نه شي حضرت ابو عثمان النهدي فرمايي :

تضيّفت أبا هريرة سبعاً، فكان هو وامرأته وخادمه يقسمون الليل ثلاثاً، يصلي هذا، ثم يوقظ هذا .

ترجمه : زه اوه ورځې د حضرت ابو هريره مېلمه شوم دى وو ښځه يې وه او خادم يې وو شپه به يې په دريو برخو تقسيم کوله په يوه برخه کې به يو مونځ کاوه په بله برخه کې بل او په بله برخه کې بل دې يوه به مونځ کاوه بيا به دا ويده کېدو بيا به يې هغه بل د مانځه لپاره را پاڅولو او بيا به چې هغه ويده کېدو هغه بل به يې را پاڅولو .

[1] متفق عليه

حضرت شداد بن اوس به چې کله بسترې ته لاړو نا ارامه به وو او په یو بل اړخ باندې به کېدو بیا به یې وویل :

## اللهم إن جهنم لا تدعني أنام

ترجمه : ای زما الله دا جهنم ما خوب ته نه پریږدي

دا خبره به یې وکوله بېرته به پاڅېدو او په مانځه به ودرېدو .

حضرت طاوس لوی عابد او بزرگ وو هغه به د لږ ساعت لپاره ویده شو او یو دم به را پاڅېدو او له بسترې نه به پورته شو او وبه یې ویل :

## طيّر ذكر جهنم نوم العابدين.

ترجمه : د جهنم یاد د عابدانو خوب تښتولی دی او ددېنه وروسته به بیا په مانځه و درېدو تر صبا پورې به یې مونځ کاوه .

امام عبد الرحمن الجوزي فرمایي د شپې په مانځه کې زمونږ سلف په اوه ډوله وو .

اول : داسې وو چې هغوی به ټوله شپه په مانځه ولاړ وو او تر سهاره به یې مونځ او عبادت کاوه او ځینو به د سحر مونځ د ماسخوتن په اوداسه سره کاوه.

دوهم : داسې وو چې د شپې په څه نا معلومه برخه کې به مانځه ته را پاڅېدل او مونځ به يې کاوه .

دريم : داسې وو چې د شپې دريمه برخه به يې په مانځه تېروله او رسول الله د همدې ډول صفت کړی دی رسول الله فرمايي :

أحب الصلاة إلى الله عز وجل صلاة داود؛ كان ينام نصف الليل، ويقوم ثلثه، وينام سُدسه .[1]

ترجمه : الله ته ډېر محبوب د حضرت داود مونځ وو نيمه شپه به ويده کېدو او د شپې په دريمه برخه کې به مانځه ته را پاڅېدو او بيا په شپږمه برخه کې به بېرته ويده کېدو .

څلورم : داسې وو چې د شپې شپږمه او يا پنځمه برخه به يې په مانځه تېروله او نور به يې مونځ کاوه .

پنځم : يوه ډله به داسې وو چې معلوم مقدار به يې نه درلود يو به را پاڅېدو تر هغه وخته به يې مونځ کاوه چې خوب به ورباندې غالب شو نو ويده به شو او چې کله به را ويښ شو بيا به يې عبادت کاوه .

شپږم : يوه ډله به داسې وو چې د شپې به يې خوب کاوه او چې کله به را ويښ شول نو دوه يا

[1] متفق عليه

څلور رکعته مونځ به يې وکاوه او بيا به ويده شو .

اوم : او يوه ډله سلف به داسې وو چې هغوی به د ماښام نه د ماسخوتن تر مانځه پورې عبادت کاوه او د ماسخوتن د ما نځه نه وروسته به ويده کېدل او يا به يې بل څه خپل کار کاوه بيا به د سحر نه د وړاندې دشپې په آخره برخه کې را پاڅېدل او تر سحر پورې به يې بيا مونځ کاوه .

او سلف علماء او زمونږ بزرگان ددې اوو حالتونو څخه خالي نه وو او چې هرڅنګه به وو پدې حالتونو کې به يې يو حال وو .

امام غزالي ددې لپاره څه اسباب ذکر کړي دي چې هغه انسان مراعات کړي انسان ته اسانيږي چې د شپې مانځه ته پاڅيږي .

اول : لږ خوراک کول

هغه کسان چې خوراک زيات وکوي د هغوی خوب کلک شي بيا هغوی نشي کولی د شپې مانځه ته را پاڅيږي .

دوهم : د ورځې د خپل ځان لحاظ کول

په ورځ کې ځان پداسې څه کې نه ستړی کول چې دده لپاره يې فايده نه وي نو چې انسان د ورځې ډير ستړی شي هغه ته د شپې پاڅېدل بيا سخت وي .

دريم : د ورځې قيلولة کول

قیلوله دغرمې خوب ته ویل کیږي نو چې انسان څه نا څه د ورځې په مینځ کې ویده شي نو دا د انسان سره مرسته کوي چې د شپې مونځ ته را پاڅیږي او چې انسان د ورځې ویده نه شي نو د شپې بیا ورته پاڅېدل سخت وي .

څلورم : د ورځې د ګناهونو څخه ځان ساتل

هغه کسان چې د ورځې ګناهونه کوي هغوی ته الله د شپې عبادت توفیق نه ورکوي نو چې څوک غواړي چې د شپې مانځه ته پاڅیږي نو د ورځې د ګناهونه ورته پریږدي .

پنځم : زړه د کینې نه پاکول

هغه څوک چې په زړه کې خلکو ته کینه ساتي او له دوی نه نفرت کوي نو هغه ته د شپې د پاڅېدلو توفیق نه په برخه کیږي د شپې مانځه ته پاڅېدل پاک زړه غواړي .

شپږم : په زړه کې د الله د عذاب نه ویره او ددنیا سره مینه نه کول

هغه څوک چې په زړه کې د الله د عذاب نه ویره ولري او له دنیا سره یې مینه کمه وي هغه کسان کولی شي د شپې مانځه ته د پابندي سره پاڅیږي .

اوم : د شپې د مانځه فضیلت پېژندل

هغه کسان چې د شپې د مانځه بهتري ورته معلومه وي هغه کولی شي چې د شپې مانځه ته پاڅیږي او

دا قیمتي وخت د څه د حاصلولو لپاره مصرف کړي .

آتم : د الله سره مینه او ټینګ ایمان

په زړه کې د الله سره مینه او په زړه کې ټینګ ایمان کولی شي څوک د بسترې نه را پورته کړي او الله ته یې ودروي هغه کسان چې د الله سره مینه ولري او په الله یې ټینګ ایمان وي هغه ددنیا په حقیقت او دلته په ژوند او دلته د ژوند په مطلب ښه پوهیږي نو هغه کسان کولی شي چې د شپې مانځه ته را پاڅیږي .

# د سحر وختي اهميت

د ورځې په شروع کې سحر وختي دا هم يو له مبارکو وختونو څخه دی او د برکت وخت دی هغه کسان چې خپل کارونه له سحر وختي نه شروع کوي الله ورته پکې برکت اچوي رسول الله د هغه کسانو لپاره د برکت دعاء کړېده چې خپلو کارونو ته سحر وختي ورځي حضرت صخر بن وداعة فرمايي رسول الله فرمايل :

## اللهم بارك لأمتي في بكورها.

ترجمه : ای الله زما د امت لپاره د هغوی په سحر وختي کې برکت واچوه .

دی فرمايي کله به چې رسول الله چېرته سريه يا د بل څه مقصد لپاره ملګري صحابه ليږل نو په سحر وختي کې به يې لېږل او صخر هم خپله د تجارت خاوند سړی وو او ده به هم کله چې تجارتي قافله لېږله نو کوښښ به يې کاوه چې سحر وختي يې وليږي ددې نه وروسته دده مال ډېر زيات شو او د زيات دولت خاوند شو او په مال کې يې زيات برکت راغلو .[1]

علماء فرمايي چې اکثر داسې خلک وي چې هغوی په خپل ژوند کې په تنګ وي له هېڅ شي نه خوند نشي اخستلی او په زړه کې يې سکون نه راځي ډېرې

[1] صحيح الترمذي

پیسې لري بیا هم سرګردان وي او زړه ته یې اطمنان نه ورځي او په هېڅ خوشحالي کې خوشحال نه ښکاره کیږي هغه د له ځان څخه پوښتنه وکوي چې دی داسې ولی دی ددې لپاره سببونه وي او لوی سبب پکې دسحر وختي خوب وي چې ځینې پکې د سهار مونځ هم ونه کوي او ځینې پکې مونځ وکوي لکن د مانځه نه وروسته تر ناوخته پورې ویده شي او دا یې ورځنی طریقه وي .

اکثر خلک چې د شپې تر ناوخته پورې بغیر د عبادت او دیني یا ضروري کار نه ویښ پاتې کیږي هغوی بیا د ورځې تر ناوخته پورې ویده وي دا د الله د نظام بدلول دي الله شپه ددې لپاره پیدا کړېده چې انسان پکې ارام وکوي او ورځ یې ددې لپاره پیدا کړېده چې انسان پکې حرکت وکوي او کارونه پکې وکوي او الله د ښه حکمت او پوره علم خاوند دی هغه چې داسې فیصله کړېده دا فیصله د انسانانو لپاره غوره ده او الله چې د انسانانو لپاره کومه فیصله کوي هغه خامخا د انسانانو لپاره بهترینه وي نو هغه کسان چې خپله شپه ویښه او ورځ په خوب تېروي هغوی د خپل صحت او ژوند نه پوره فایده نشي پورته کولی زمونږ ددې کتاب نه په وړاندې کتاب کې چې د آیتونو په رڼا کې یې د وخت د اهمیت په موضوع بحث کاوه متعدد ځله دا خبره تېره شوه چې الله په مونږ باندې د احسان ښکاره کولو په ځای کې فرمایي چې ما شپه ستاسې د ارام او سکون لپاره پیدا کړېده او ورځ مې ستاسې لپاره

د کار او د طلب د الله د فضل او د طلب رزق لپاره پيدا کړېده .

نو هغه کسان چې په سحر وختي کې خوب کوي هغوی په مالونو او کارونو کې د نعمت نه محروم وي او هغه کسان چې سحر وختي خپل کار شروع کوي هغوی به خامخا په برکت کې وي چې رسول الله ورته دعاء کړېده او فرمايلي يې دي (ای الله زما د امت لپاره د هغوی په سحر وختي کې برکت واچوه) او څرنګه چې شيطان د انسان حقيقي او رښتونی دښمن دی هغه نه غواړي چې انسان ته د خير ورسيږي او يا د برکت ور په برخه شي نو هغه نه غواړي او نه خوښوي چې انسان د سحر وختي کار شروع کړي نو ددې امله هغه د شپې نه دا کوښښ کوي چې انسان د شپې په څه نه څه باندې مصروف کړي او تر ناوخته پورې يې ويښ پاتې کړي او بيا سحر خوب ورولي او ويده يې کړي او له خير او برکت د ورځې نه يې محروم پاتې کړي.

ښه طريقه داده چې انسان سحر وختي خپل کار شروع کړي او که موقع ورته په لاس ورشي نو په غرمه کې د يو څه وخت لپاره ويده شي دې خوب ته قيلولة ويل کيږي رسول الله ددې خوب په اړه فرمايي :

قيلوا، فإن الشياطين لا تقيل.

ترجمه : قیلوله کوئ ځکه شیطان قیلوله نه کوي .

او بیا هغه بختور کسان چې د سحر مونځ په جمع سره وکوي او بیا په جومات کې تر لمر ختلو پورې کیني نو هغوی په رښتیا معنی کې او په سمه توګه لدې مبارک وخت څخه فایده پورته کړه حضرت انس ابن مالک فرمایي

رسول الله فرمایي :

## من صلى الصبح في جماعة، ثم قعد يذكر الله حتى تطلع الشمس، ثم صلى ركعتين، كانت له أجر حجة وعمرة: تامة، تامة، تامة .[1]

ترجمه : چا چې د سحر مونځ په جمع سره وکولو او بیا کېناستلو د الله ذکر یې کاوه تردې چې لمر را پورته شو بیا یې دوه رکعته مونځ وکولو ده ته به ورکړل شي ثواب د حج او عمرې پوره پوره پوره .

پدې حدیث کې د هغه کس لپاره چې د سحر د مانځه نه وروسته په جومات کې تر لمر ختلو پورې کیني او بیا چې لمر را وخیږي نو دوه رکعته مونځ وکوي بیا کور ته لاړ شي د حج او عمرې ثواب یاد کړل شوی دی او په بل ځا کی ورته ویل شوي دي :

---

[1] رواه الترمذي

يدخل الجنة، ويحرم على النار، ويغفر ذنبه، وإن كان مثل زبد البحر.

ترجمه : جنت ته به ننه ايستل شي ، په اور باندې به حرام کړل شي ، ګناهونه به يې وبښل شي اګر که د سمندر د ځګ په اندازه وي .

دا ټول انعامونه ددې لپاره ياد کړل شوي چې يو انسان دېته وهڅوي چې لدې وخت نه فايده پورته کړي او کار پکې وکوي ترڅو يې دنيا او آخرت ښايسته شي .

د سحر د مانځه په اړه رسول الله  فرمايي :

يتعاقبون فيكم ملائكة بالليل وملائكة بالنهار، ويجتمعون في صلاة الصبح وصلاة العصر، ثم يعرج الذين باتوا فيكم فيسألهم الله وهو أعلم بهم - كيف تركتم عبادي؟ ، فيقولون: تركناهم وهم يصلون، وأتيناهم وهم يصلون.[1]

ترجمه : لتاسې سره موجوده ملائکې په شپه او ورځ کې بدليږي او دوی دواړه د مازيګر او سحر په مانځه کې جمع کيږي بيا (د سحر مانځه نه وروسته) هغه ملائکې چې شپه يې لتاسې سره کړې وه هغه خيږي الله  ورځخه پوښتنه کوي پداسې حال کې چې الله  د دوی نه د بندګانو په حال باندې

[1] متفق عليه

ښه خبر دی تاسې زما بندګان په څه ډول حالت کې پرېښودل؟ دوی به ورته ووايي چې پداسې حالت کې مو پرېښودل چې دوی مونځ کاوه او په داسې حالت کې مونږ ورغلو چې دوی مونځ کاوه .

ددې امله به رسول الله د سحر مونږ لږ اوږد کاوه او تقريباً تر سلو آيتونو پورې به يې پکې لوستل صحابه کرام فرمايي چې پداسې وخت کې به يې مونځ شروع کاوه چې د شپې تياره به خپره وه او پداسې حالت کې به له مانځه نه را ګرځېدو چې رڼا به را خپره شوې وه او رسول الله تقريباً د سلو آيتونو په اندازه تلاوت پکې کاوه .

رسول الله په خپله هم د سحر مونځ ډېر په اهتمام سره کاوه او څرنګه به چې رسول الله په سفر کې که سنت نه کول لکن د سحر سنت يې کله هم نه پرېښودل .

امام ابن قيم فرمايي چې په جنت کې به رڼا د اسفار د وخت (په کوم وخت کې چې سحر رڼا خپرېږي) رڼا وي او پدې وخت کې انسان بايد ويښ وي او دا وخت په عبادت سره ژوندی کړي که چېرته مونږ ته څوک ووايي چې د فلاني په کور کې د جنت يو شی دي او يا د جنت کومه مېوه ده نو خلک به په څومره رش او بېړ بار سره هلته ورځي چې هغه مېوه وګوري نو په کار ده چې ددې وخت

هم همداسې قدر وکوي او فايده ورڅخه پورته کړي[1].

له بله پلوه د سحر وخت د ورځې شروع ده او د هر کار په شروع کې توجه کول او په ښه طريقه سره شروع کول ددې کار په ښه طريقه سره په ختمولو کې مرسته کوي او د کوم کار چې په ښه ډول سره شروع وشي هغه په ښه ډول سره ختمېدلی شي هغه څوک چې د خپلې ورځې شروع په ښه او غوره عبادت او ښې توجه سره وکوي او بيا د کار په وخت کې خپلو دنيايي کارونو او ضرورياتو ته مخه کړي نو هغه به هغه برکت لاس ته راوړي چې دده نه بغير څوک به يې نشي راوړلی او هغه څوک چې په سحر وختي کې ويده شي او د ځينو نه خو د سحر مونځ هم پاتې شي هغه چې را پاڅيږي سست او لټ وي په زړه کې يې زور نه وي په دماغو يې بوج وي د هغه کسانو په څېر چې هغوی وختي را پاڅېدلي وي تازه نه وي نو په ټوله ورځ کې به ددې کس ګټه تر هغه کسانو څخه کمه وي چې هغوی سحر وختي د الله عبادت کړی وي او وختي يې په کار پيل کړی وي او بيا د کارونو او د يوې مصروفي ورځي په اخر کې زمونږ د ما زيګر مونځ دی چې د ورځې په اوږدو کې د الله د حفاظت او د هغه د توفيق او مرستې شکريه هم پکې اداء کيږي زمونږ ورځ بايد په هغه سره ختمه شي او هغه کسان چې د سحر مونځ په سمه طريقه وکوي او بيا د ورځې اخري مونځ (د مازيګر) مونځ هم په سمه

---

[1] حادي الأرواح إلی بلاد الأفراح

توګه اداء کړي نو د الله توفیق او مرسته به په هر کار کې دده ملګري وي او دی به د الله د رحمت تر سیوري لاندې ګرځي ددې دواړو مونځونو (د سحر او مازیګر) په اړه رسول الله فرمایي :

( من صلى البردين دخل الجنة )[1]

ترجمه : چا چې دواړه د یخ مونځونه وکول هغه به جنت ته ننوزي (او بردین د سحر او مازیګر مونځونه دي)

په بل ځای کې حدیث دی :

لن يلج النار أحد صلى قبل الشمس وقبل غروبها يعني صلاة الفجر والعصر.[2]

ترجمه : رسول الله فرمایي هېڅوک چې به دوزخ ته نه ننوزي چې د لمر د را ختلو او لوېدلو نه وړاندې مونځ وکوي یعني د سحر او مازیګر مونځ .

پدې حدیثونو کې د سحر او مازیګر مونځونو ته د دومره لوی ثواب د حکمت په اړه علماء فرمایي :

---

1 متفق علیه

2 رواه مسلم

أن صلاة الفجر في وقت النوم، وصلاة العصر في وقت العمل، فمن ترك نومه لله تعالى، ولم يلهه عمله عن ذكر الله تعالى، فهو حري بأن يدخل الجنة، ويحرم على النار.[1]

ترجمه : د سحر مونځ د خوب په وخت کې وي او د مازیګر مونځ د کار په وخت کې وي چا چې خوب د الله لپاره پرېښودو او هغه کس چې دده کار دی د الله له ذکر نه مصروف نه کړي نو دا کس ددې لائق دی چې دی باید جنت ته ننوزي او په دوزخ باندې دده بدن حرام شي .

همدارنګه هغه کسان چې پدې دوو وختونو کې د مانځه ساتنه کوي هغوی ته به د الله (بلا کیف) مخ ته د کتلو نعمت ور په برخه شي حضرت جریر بن عبدالله البجلي فرمايي :

كنا عند النبي صلى الله عليه وسلم، فنظر إلى القمر ليلة البدر، فقال: إنكم سترون ربكم، كما ترون هذا القمر، لا تضامون في رؤيته، فإن استطعتم أن لا تغلبوا على صلاة قبل طلوع الشمس، وقبل غروبها، فافعلوا.[2]

ترجمه : مونږ د رسول الله سره وو هغه د بدر په شپه (چې سپوږمۍ ښه رڼا کوله او پوره وه)

---

1 دلیل الفالحین شرح ریاض الصالحین
2 متفق علیه

سپوږمۍ ته وکتل او ويې ويل : بېشکه تاسې به خپل رب داسې وینئ لکه دا سپوږمۍ او د هغه په کتلو کې به تاسې ته څه تکلیف نه وي نو که تاسې کولی شول چې تر لمر ختلو او لمر لوېدلو وړاندې مونځ وکوئ نو کوئ يې .

او په احادیثو کې ددې دوو وختونو لپاره (سحر او بېګاه) لپاره ډېر اذکار یاد شوي دي علماء ورته (اذکار الصباح و المساء) د سحر او ماښام اذکار وايي د نمونې په ډول يې يو څو لتاسې سره شریکوم .

## آیة الکرسي

ترجمه :

د آیة الکرسي په اړه رسول الله فرمايي :

چا چې په سحر کې آیة الکرسي ولوسته تر ماښام پورې به له جنیاتو څخه وساتل شي او چا چې په ماښام کې وویله تر سحر پورې به له جنیاتو څخه وساتل شي .

## سورة الاخلاص او معوذتین

رسول الله ددې په اړه فرمايي :

چا چې په سحر او ماښام کې دا سورتونه وویل دا يې له هرشي نه بس دي .

حضرت عبدالله بن حبیب فرمايي :

خرجنا في ليلة مطر وظلمة شديدة نطلب النبي صلى الله عليه وسلم ليصلي لنا فأدركناه فقال قل فلم أقل شيئا ثم قال قل فلم أقل شيئا ثم قال قل فقلت يا رسول الله ما أقول قال قل قل هو الله أحد والمعوذتين حين تمسي وحين تصبح ثلاث مرات تكفيك من كل شيء .

ترجمه : مونږ په تياره شپه کې را ووتلو په رسول الله پسې ګرځېدو چې له مونږ سره مونځ وکوي (جمع راکړي) مونږ چې رسول الله پيدا کړو هغه راته وويل : ووايه ! ما هېڅ هم ونه ويل رسول الله بيا راته وويل ووايه ! ما بيا هېڅ هم ونه ويل په دريم ځل يې راته وويل ووايه ! ما ترې پوښتنه وکوله څه ووايم؟ رسول الله وويل په سحر او ماښام کې **قل هو الله احد** او معوذتين درى ځله وايه له هرشي نه د بس ده .

اللّهـمَّ أَنْتَ رَبِّـي لا إلهَ إلاّ أَنْتَ ، خَلَقْتَنـي وَأَنا عَبْـدُك ، وَأَنا عَلـى عَهْـدِكَ وَوَعْـدِكَ ما اسْتَـطَعْـت ، أَعـوذُبِكَ مِنْ شَـرِّ ما صَنَـعْت ، أَبـوءُ لَـكَ بِنِعْـمَتِـكَ عَلَـيَّ وَأَبـوءُ بِذَنْـبي فَاغْفـِرْ لي فَإِنَّـهُ لا يَغْـفِرُ الذُّنـوبَ إِلاّ أَنْتَ.[1]

---

1 رواه ابو داود و الترمذي

ترجمه : اى الله ته زما رب يې لتا نه سوا بل معبود (بر حق) نشته مګري يوازې ته يې تا زه پيدا کړى يم او زه ستا بنده يم او زما چې څو پورې وس وي زه ستا په عهد او وعده باندې يم هغه څه چې ما کړي دي زه د هغه د شر نه په تا باندې پناه غواړم او زه تاته ستا په ما باندې کړي نعمت سره رجوع کوم او زه تاته په خپلو ګناهونو د اعتراف سره رجوع کوم ماته زما ګناهونه وبښه او ګناهونه يوازې ته بښې .

رسول الله ددې دعاء په اړه فرمايي :

څوک چې دا دعاء په ماښام کې پداسې حالت کې ووايي چې دده وربانډې يقين وي نو که پدې شپه کې وفات شي جنت ته به ځي او که چا په سحر کې له يقين سره وويله نو که پدې ورځ کې مړشو جنت ته به ځي .

رَضيتُ بِالله رَبّاً وَبِالإسْلامِ ديناً وَبِمُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم نَبِيّاً.

ترجمه : زه په الله باندې راضي يم چې هغه زما رب دى او پدې راضي يم چې اسلام زما دين دى او پدې هم راضي يم چې محمد زما نبي دى .

رسول الله ددې دعاء په اړه فرمايي : څوک چې دا دعاء په سحر او ماښام کې وايي نو د قيامت

په ورځ به په الله باندې دده حق وي چې دی به رضا کړي .[1]

اللّهُـمَّ إِنِّـي أَصْبَـحْتُ أُشْـهِدُك ، وَأُشْـهِدُ حَمَلَـةَ عَـرْشِـك ، وَمَلائِكَتِك ، وَجَميعَ خَلْـقِك ، أَنَّـكَ أَنْـتَ الله لا إلهَ إلاّ أَنْـتَ وَحْـدَكَ لا شَريكَ لَـك ، وَأَنَّ ُ مُحَمّـداً عَبْـدُكَ وَرَسـولُـك[2].

ترجمه : ای الله ما صبا کړو (په ما صبا شو) زه تا ګواه کوم او هغه ملائکې ګواه کوم چې ستا عرش یې پورته کړی دی او ستا ټول مخلوق ګواه کوم بېشکه ته الله یې لتا نه بغیر بل (رښتونی) معبود نشته ته یوازې یې لتا سره شریک نشته او محمد ستا بنده او رسول دی .

رسول الله فرمایي څوک چې دا دعاء په سحر او ماښام کې وایي نو الله به ده ته له اور نه نجات ورکړي .

اللّهُـمَّ ما أَصْبَـحَ بي مِـنْ نِعْـمَةٍ أَو بِأَحَـدٍ مِـنْ خَلْـقِك ، فَمِـنْكَ وَحْـدَكَ لا شريكَ لَـك ، فَلَـكَ الْحَمْـدُ وَلَـكَ الشُّكْـر.

ترجمه : ای الله کوم نعمت چې په ما باندې پدې صبا کې دی او که ستا په کوم مخلوق باندې دی دا ستا له لوري دی ته یو یې شریک نه لرې نو ثناء ستا لره ده او ستا لره شکر دی .

[1] رواه الإمام أحمد وأبو داود وابن ماجة
[2] رواه أبو داود

رسول الله ددې دعاء په اړه فرمايي چا چې په سحر کې دا دعاء ولوسته نو ددې ورځې شکر يې پوره کړو .

حَسْبِيَ الله لا إلهَ إلاّ هُوَ عَلَيهِ تَوَكَّلتُ وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظيم.

ترجمه : الله زما بس دی نشته په حقه معبود مګر همدی دی زه په هغه باندې توکل کوم هغه د عرش عظيم رب دی . دا دعاء چې څوک په سحر او ماښام کې وايي الله به يې د دنيا او آخرت کارونه ورته سم کړي .

اللهم إني أسألك العفو والعافية في الدنيا والآخرة ، اللهم إني أسألك العفو والعافية في ديني ودنياي وأهلي ومالي ، اللهم استر عوراتي وآمن روعاتي ، اللهم احفظني من بين يدي ، ومن خلفي ، وعن يميني ، وعن شمالي ، ومن فوقي ، وأعوذ بعظمتك أن أغتال من تحتي.

ترجمه اى الله زه لتا څخه د عفو او عافيت سوال کوم په دنيا او آخرت کې اى الله زه لتا څخه د عفوي او عافيت سوال کوم زما په دين کې زما په د نيا کې او زما په اهل او مال کې اى الله زما عورتونه (پټې خبرې) پټ کړه زما وېره په امن کړه اى الله ما د هغه آفت او مصيبت نه وساته

چې زما له مخې نه راځي ای الله زما د شا لخوا ، زما د ښي طرف نه زما د چپ طرف نه او زما د پورته خوا نه زما حفاظت وکوه او ما لدېنه وساته چې له ښکته خوا نه په ما حمله وشي .

هغه څوک چې په سحر او ماښام کې دا دعا لولي الله به یې له هر لوري نه حفاظت او ساتنه کوي .

حضرت ابو هریره فرمایي :

من قال حين يصبح وحين يمسي سبحان الله وبحمده مائة مرة لم يأت أحد يوم القيامة بأفضل مما جاء به إلا أحد قال مثل ما قال أو زاد عليه.[1]

ترجمه: چا چې د سحر په وخت کې او دماښام په وخت کې وویل : ( پاکي ده الله تا لره او حمد دی تا لره) سل ځله نو د قیامت په ورځ به لده څخه غوره شی بل څوک را نه وړي (د آخرت په ورځ به دا دده لپاره ډېر لوی شي وي چې له بل چا سره به نه وي) .

حضرت ابن مسعود فرمایي :

كان نبي الله صلى الله عليه وسلم إذا أمسى قال أمسينا وأمسى الملك لله والحمد لله لا إله إلا الله وحده لا شريك

---

[1] رواه مسلم

له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير رب أسألك خير ما في هذه الليلة وخير ما بعدها وأعوذ بك من شر ما في هذه الليلة وشر ما بعدها رب أعوذ بك من الكسل وسوء الكبر رب أعوذ بك من عذاب في النار وعذاب في القبر وإذا أصبح قال ذلك أيضا أصبحنا وأصبح الملك لله .[1]

ترجمه : رسول الله به په ماښام کې ويل : په مونږ باندې بيګاه شو او په ملک باندې بېګاه شو چې الله ته ثابت دی او ثناء ده الله لره نشته په حقه معبود مګر يوازې الله دی الله لره شريک نشته ده لره بادشاهي ده او هغه په هرشي باندې قادر دی ای ربه زه لتا څخه سوال کوم د خير د هغه څه چې په دې شپه کې دي او د خير د هغه څه چې لدې شپې نه وروسته دي ای الله زه لتا څخه پناه غواړم له سستيا نه او له بد کبر نه ای ربه زه پناه غواړم په تا باندې له عذاب نه په اور کې او له عذاب نه په قبر کې او کله به چې سحر شو نو همدا دعا به يې لوسته او د امسينا په ځای به يې اصبحنا ويل او د امسی په ځای به يې اصبح ويل .

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله خپلو صحابه وو ته ور زده کول او فرمايل يې :

[1] رواه مسلم

إذا أصبح أحدكم فليقل اللهم بك أصبحنا وبك أمسينا وبك نحيا وبك نموت وإليك النشور وإذا أمسى فليقل اللهم بك أمسينا وبك أصبحنا وبك نحيا وبك نموت وإليك المصير. [1]

ترجمه : كله چې په تاسې كې يو صبا كړي (په صبا كې داخل شي) نو داسې دې ووايي اى الله ستا په نوم مو صبا كړو او په تا باندې مونږ ژوند كوو او مړه كيږو او ستا لور ته به جمع كيږو او كله چې بيګاه كړي نو و د وايي اى الله په تا باندې مونږ بېګاه كړو او په تا باندې مو صبا كړو (دا هرڅه ستا په مرسته سره كيږي) او په تا باندې مړه كيږو او ستا لور ته زمونږ در تلل دي .

حضرت ابو هريره فرمايي حضرت ابن عباس رسول الله ته وويل :

يا رسول الله مرني بكلمات أقولهن إذا أصبحت وإذا أمسيت قال قل اللهم فاطر السموات والأرض عالم الغيب والشهادة رب كل شيء ومليكه أشهد أن لا إله إلا أنت أعوذ بك من شر نفسي وشر الشيطان وشركه وأن أقترف على

[1] ابو داود او ترمذي

نفسي سوءا أو أجره إلى مسلم قال قلها إذا أصبحت وإذا أمسيت وإذا أخذت مضجعك.[1]

ترجمه : ای رسول الله ما ته په داسې کلمو باندې امر وکوه چې زه يې په سبا او بېګاه کې وايم رسول الله ورته وويل : ووايه ای الله د اسمانونو او زمکې مالکه په غيبو او حاضرو شيانو باندې عالمه د هرشي ربه او بادشاه زه ددې ګواهي ورکوم چې نشته رښتونی د عبادت لا ئق مګر ته يې زه په تا باندې پناه غواړم له شر د خپل ځان نه او د شر د شيطان نه او د هغه د شرک نه او دا چې خپل ځان ته د بدو سبب شم او يا بل مسلمان ته د بدو سبب شم رسول الله ورته وويل دا دعاء په سحر کې هم وايه په ماښام کې يې هم وايه او کله چې بسترې ته تلې نو هم وايه .

حضرت عثمان فرمايي رسول الله فرمايل :

ما من عبد يقول في صباح كل يوم ومساء كل ليلة بسم الله الذي لا يضر مع اسمه شيء في الأرض ولا في السماء وهو السميع العليم ثلاث مرات فيضره شيء.[2]

---

1 رواه الامام احمد و ابو داود
2 رواه الامام احمد و الترمذي

ترجمه : داسې بنده نشته چې په هر سحر او هر ماښام کې وو ایي شروع کوم د الله په نوم هغه چې د هغه د نوم سره هېڅ شی په زمکه او اسمان کې ضرر نشي رسولی او هغه آورېدونکی او د ښه علم خاوند دی دری ځله چې بیا هغه ته کوم شی ضرر ورسوي (یعني دې کس ته بیا هېڅ شی ضرر نشي رسولی) .

حضرت ابو هریره فرمایي رسول الله فرمایل :

من قال لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير من قالها عشر مرات حين يصبح كتب الله له مائة حسنة ومحا عنه مائة سيئة وكانت له عدل رقبة وحفظ بها يومئذ حتى يمسي ومن قالها مثل ذلك حين يمسي كان له مثل ذلك .[1]

ترجمه : چا چې (لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير) لس ځله په سحر کې وویل الله به ورته سل نېکۍ ورکړي او سل ګناهونه به ترېنه ختم کړي او د یوه غلام د ازادي ثواب به ورکړي او پدې ورځ کې به دده حفاظت وکوي تردې چې ماښام شي او چا چې په همدې ترتیب په ماښام کې وویل نو په همدې ډول

[1] رواه الإمام أحمد في مسنده

دي (تر صبا پورې به دده حفاظت کوي او سل نیکی به ورته لیکل کیږي او سل گناهونه به ترې ختمول کیږي) .

# د سحر د مونځ اهميت

د سحر په وخت کې الله په مسلمانانو باندې دسحر مونځ فرض کړی دی ډېر غوره عبادت دی او په احاديثو کې يې هم زيات فضائل ذکر کړل شوي دي د حضرت ابي ذر نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله فرمايل :

مَن صلَّى العشاء في جماعة، فَكَأَنَّما قام نصف الليل، ومَن صلَّى الفجر في جماعة، فكأنما قام الليل كله. [1]

ترجمه : چا چې د ماسخوتن مونځ په جمع سره وکولو داسې ثواب يې دی لکه نيمه شپه يې چې مونځ کړی وي او چا چې د سحر مونځ په جمع سره وکولو داسې دی لکه چې ټوله شپه يې په عبادت کې تېره کړې وي .

ځوک چې د سحر مونځ په جمع سره وکوي د هغه ورځ د الله په ذمه ده الله به د هغه ساتنه کوي او آيا د يو مسلمان لپاره ددېنه هم څه غوره خبره شته؟ رسول الله پدې اړه فرمايي :

مَن صلَّى الصُّبح في جماعة، فهو في ذمَّة الله . [2]

ترجمه : چا چې د سحر مونځ په جمع سره وکولو دا د الله په ذمه کې دی .

---

1 رواه مسلم
2 رواه مسلم

# د سحر مونځ منافقینو ته ډېر سخت دی

رسول الله ﷺ فرمايي چې د سحر او ماسخوتن مونځونه منافقينو ته ډېر سخت دي دا نور د ورځې مونځونه خو چې هرڅنګه وي د ځان ښکاره کولو لپاره د مسلمانانو سره جومات ته راځي او مونځ کوي لکن دا دوه ورته ډېر سخت دي رسول الله ﷺ فرمايي :

**ليس صلاة أثقل على المنافقينَ من صلاة العشاء والفجر، ولو يعلمون ما فيهما لأتوهما ولو حبْوًا.** [1]

ترجمه : د ماسخوتن او سحر مونځ نه ګران مونځ د منافقينو لپاره نشته او که چېرته دوی ته دا معلومه وی چې پدې کې څومره ثواب دی نو دوی ورته راغلی وی اګر که په خاپوړي باندې هم وای .

---

[1] متفق عليه

# د سحر مونځ كونكو ته زيرى

هغه كسان چې د سحر مونځونه كوي د هغوى لپاره په احاديثو كې په مختلف ډول نعمتونو او انعامونو باندې زيرى وركړل شوى دى چې زه ترينه لس زيري د نمونې په ډول را ټولوم .

## لمړى زيرى

په قيامت كې به د دوى لپاره يو خاص نور وي او د لرې به ښكاره كيږي او په هغه ورځ چې د چا سره به هيڅ ډول رڼايي نه وي صرف هغه رڼا به وي چې چا ته الله په خپل رحمت وركړې وي نو د سحر د مونځ كونكو سره به خپله رڼا وي حضرت بريدة الاسلمي فرمايي رسول الله فرمايل:

بَشِّرِ الْمَشَّائِينَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ ، بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .[1]

ترجمه : هغه كسان چې په تيارو كې جوماتونو ته ځي هغوى ته د قيامت په ورځ د پوره رڼا زيرى وركړه .

يعني هغه كسان چې د سحر مانځه ته په تياره كې ځي الله به ورته يو ډول نور وركړي او هغه كسان چې په تياره كې ددې تلو نه محروم وي په آخرت

[1] رواه أبو داود والترمذي

کې به ددې نور نه محروم وي چې رسول الله یې په اړه خلکو ته زیری ورکول غواړي .

## دوهم زیری

د سحر دوه رکعته سنت له ټولې دنیا او له هغه څه چې پدې کې دي غوره دي پدې اړه رسول الله فرمایي :

رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا .[1]

ترجمه : د سحر دوه رکعته (سنت) مونږ له ټولې دنیا او له هغه څه نه چې په دنیا کې دي غوره دي .

یعني هغه کسان چې د سحر دوه رکعته سنت کوي الله ورته دومره څه ورکوي چې دا ټوله دنیا او هغه څه چې په دینا کې دي له هغه نه زیات دي خو صرف فرق یې دا دی چې دا دنیا خلک اوس موجودهویني او هغه څه چې الله یې بنده ته ددې دوو رکعتونو په بدل کې ورکوي دا به ده ته په اخرت کې ورکول کیږي هغه اوس مونږ ته نه ښکاره کیږي لکن په حقیقت کې ډیر غوره څه دي او هغه کسان چې په خوب ویده پاتې شي او دا مونځ ونه کوي هغوی ددومره لوی خیر نه محروم او بې برخې پاتې شي .

[1] رواه مسلم عن عائشة

او په دنيا کې هم هغه کس چې د سحر مونځ د ښه طبيعت او ښې طريقې سره وکوي چې بل څوک له هغه سره خبرې کوي د خبرو نه يې خوشحاليږي او د انسانانو زړه غواړي له هغه سره ډيرې خبرې وکوي او هغه څوک چې د سحر مونځ يې نه وي کړی بل ډول معلوميږي پخپله هم د ورځې تر ډيره وخته پورې نه په سور کيږي او نه د خپل ژوند څخه هغه خوند اخيستی شي کوم چې مناسب وي او چې بل څوک هم ورسره خبرې کوي دده خبرې يې زړه ته په هغه ډول نه ننوزي لکه د هغه کس چې مونځ يې کړی وي .

## دريم زيری

هغه کس چې د سحر مانځه ته لاړ شي الله ورته ډير اجرونه ورکوي او هغه چې جومات ته ځي او بيرته راځي دا وخت يې هم او هلته چې په جومات کې مانځه ته انتظار وباسي هغه وخت يې هم په مانځه کې ورته حسابيږي رسول الله فرمايي :

مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ إِلَى الْمَسْجِدِ كُتِبَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا عَشْرُ حَسَنَاتٍ ، وَالْقَاعِدُ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُ الصَّلاَةَ كَالْقَانِتِ ، وَيُكْتَبُ مِنَ الْمُصَلِّينَ ، حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى بَيْتِهِ . [1]

ترجمه : هغه کس چې له کور نه جومات ته وزي په هر قدم چې دی يې د جومات په لوري اخلي لس

---

[1] أخرجه أحمد

نیکی لیکل کیږي او هغه کس چې په جومات کې ناست وي د مانځه انتظار کوي د عبادت کونکو له جملې نه حسابیږي او ترڅو چې کور ته نه وي را ستون شوی د مونځ کونکو له جُملې نه حسابیږي (دا ټول وخت ورته هغه ثواب لیکل کیږي لکه مونځ کونکي ته چې لیکل کیږي) .

رښتیا چې د خوشحالي او زیري خبره ده د هغه کس لپاره چې هغه د سحر د مانځه نه وړاندې جومات ته ځي او هلته د مانځه تر وخته پورې په تلاوت یا بل څه عبادت باندې ځان مصروف کوي او په هره ثانیه او دقیقه کې د الله له لوري نه ده ته نیکی لیکل کیږي او ترڅو چې بېرته کور ته نه وي راغلی نو ده ته مسلسل د مانځه د وخت ثواب ورکول کیږي .

په بل ځای کې د حضرت ابي هریره نه یو روایت شوی دی هغه فرمایي رسول الله فرمایل :

إِنَّ أَحَدَكُمْ مَا قَعَدَ يَنْتَظِرُ الصَّلاَةَ فِي صَلاَةٍ مَا لَمْ يُحْدِثْ ، تَدْعُو لَهُ الْمَلاَئِكَةُ : اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ . [1]

ترجمه : په تاسې کې یو چې ترڅو ناست وي د مانځه د پا ره انتظار کوي هغه په مانځه کې شمارل کیږي ترڅو یې چې خبرې نه وي کړې ملائکې ورته دعا کوي ای الله ده ته بښنه وکوه په ده باندې رحم وکوه .

[1] رواه أحمد

# څلورم زيرى

هغه كسان چې د سحر مانځه ته ځي نو د ملائكو سره په يو مجلس كې شريكيږي الله فرمايي :

أَقِمِ الصَّلاَةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوداً.[1]

ترجمه : قائموه (سم و دروه له ټولو حقونو سره) لمونځ وروسته له زواله د لمر تر تيارې د شپې پورې (يعني د ظهر، عصر، مغرب، او عشاء، لمونځونه اداء كړه!) او د سحر په وخت كې قرآن (تلاوت) بېشكه د سحر قرآن مشهود دى (چې ملائكې ورته حاضريږي) .

مخكې هم پدې اړه خبره تېره شوې وه چې رسول الله فرمايلي وو چې د سحر په مانځه كې دوه ډلې ملائكې د انسانانو سره په عبادت كې شريكيږي يوه ډله هغه وي چې د شپې په دنيا كې وې او اوس بېرته اسمان ته ځي او يوه ډله هغه دي چې اوس له اسمان نه زمكې ته را ښكته كيږي او د ورځې تر آخره به دلته وي نو دواړه ډلې په جومات كې له مسلمانانو سره شريكې شي او د شپې ملائكې اسمان ته لاړې شي سره ددې چې الله د انسانانو په حالت باندې ښه خبر دى بيا هم له دوى نه پوښتنه كوي چې زما بندگان مو په څه حالت كې پرېښودل ملائكې به ورته ووايي چې

[1] سورة الاسراء آية ٧٨

مونږ ورغلو (د ماښام په وخت کې) نو دوی مونځ کاوه او چې مونږ ترې راتلو هم (د سحر په وخت کې) نو دوی مونځونه کول .

نو هغه کسان چې د سحر مانځه نه پاتې شي نو د داسې شریف مخلوق (ملائکو) له صحبت نه بې برخې پاتې شي له یوې خوا به د لوی برکت نه محروم شي او له بلې خوا اکثر خلک چې ویده پاتې شي نو د سحر مونځ بالکل ونه کوي نو چې د قیامت په ورځ الله ورځخه د مانځه د نه کولو د وجې پوښتنه وکوي نو د الله په وړاندې به د دوی څه عذر وي؟ څه جواب به وایي؟ چې دوی د سحر مونځ ولې نه کولو .

## پنځم زیری

هغه کسان چې د سحر مونځ کوي رسول الله ورته د جنت زیری ورکړی دی رسول الله فرمايي :

**مَن صلَّی البردَینِ دخل الجنة والبردان هما الفجر والعصر[1].**

ترجمه : چا چې دوه یخ مونځونه وکول الله به یې جنت ته داخل کړي او دوه یخ مونځونه د سحر او مازیګر دي .

په بل ځای کې رسول الله فرمايي :

[1] متفق علیه

لن يلجَ أحد النار صَلَّى قبل طلوع الشمس وقبل غروبها.[1]

ترجمه : هېڅ کله به اور ته داخل نشي هغه کس چې د لمر ختلو نه وړاندې (د سحر) او د لمر لوېدلو نه وړاندې (د مازیګر) مونځ وکوي .

نو دا زیری رسول الله د هغه کسانو لپاره ورکړی دی چې هغوی د سحر مونځ کوي او هغه کسان چې دا مونځ نه کوي نو جنت ته د ننه ایستلو یې څه ذمه واري نشته الله به یې په اړه فیصله کوي چې جنت او که دوزخ ته یې لیږي .

او دا هغه کسان وو چې نور خو هرڅه په خپل ځای د خپل مؤذن (اذان کونکي) خبره یې هم په غور سره وانه وریده چې هغه دوی ته چغه کوله چې (حی علی الصلاة حی علی الفلاح) راشئ مانځه ته راشئ کامیابي ته رښتیا چې یوازینی لاره د انسان د کامیابي لپاره د الله په احکامو عمل کول دي او همدا د کامیابي رښتونې ذریعه ده .

## شپږم زیری

هغه کسان چې د سحر مونځ کوي هغوی ته به د الله دیدن په برخه کیږي رسول الله فرمایي :

إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ لاَ تُضَامُّونَ تضارون فِي رُؤْيَتِهِ ، فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لاَ تُغْلَبُوا عَلَى

[1] رواه مسلم

صَلاَةٍ قَبْلَ طلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا فَافعَلُوا " يعني الفجر والعصر ، ثُمَّ قَرَأَ : وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ . [1]

ترجمه : بېشکه تاسې به خپل رب داسې وينئ لکه دا سپوږمۍ چې تاسې وينئ او په ليدلو کې به يې تاسې ته هېڅ ډول تکليف نه وي که تاسې کولی شول چې خامخا د لمر ختلو نه وړاندې او د لمر لوېدلو نه وړاندې مونځ وکوئ نو ويې کوئ يعني د سحر او مازيګر مونځ بيا يې دا آيت تلاوت کړو چې الله فرمايي ته د رب خپل تسبيح وايه مخکې د لمر ختلو او مخکې له پرېوتلو .

حضرت امام ابن حجر فرمايي چې علماوو ددې وجه ويلې ده چې د الله د ليدلو سره رسول الله دا دوه وخته مونځ ولي ياد کړل ځکه چې مونځ بهترين عبادت دی او دا دوه وخته مونځ يو خاص غوره والی لري لکه مخکې چې تېر شول چې پدې وختونو کې ملائکې د انسانانو سره په عبادت او مانځه کې شريکېږي نو دا داسې شو چې په منځونو کې غوره مونځونه شول نو مونځ غوره عبادت وو او دا په غوره کې بيا غوره شول نو ځکه رسول الله په نعمتونو کې له غوره نعمت يعني د الله له ليدلو سره ياد کړل .

[1] متفق عليه

## اوم زیری

لکه مخکې چې هم تېر شول څوک چې د سحر مونځ په جمع سره وکوي داسې دي لکه ده چې ټوله شپه مونځ او عبادت کړی وي پدې اړه حدیث دی .

عن عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رضي الله عنه قال : سَمِعْتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم يَقُولُ : " مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ ، وَ مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ . [1]

ترجمه : د حضرت عثمان بن عفان نه روایت دی هغه فرمایي ما له رسول الله نه واورېدل چې هغه فرمایل چا چې د ماسخوتن مونځ په جمع سره وکولو نو داسې ثواب یې دی لکه ده چې نیمه شپه په عبادت کې تېره کړه او چا چې د سحر مونځ په جمع وکولو داسې دی لکه ټوله شپه یې چې په عبادت کې تېره کړې وي .

د شپې عبادت چې څرنګه سخت دی هرڅوک یې نشي کولی نو همداسې د هغه ثواب هم ډېر زیات دی او هغه کس چې د سحر مونځ په جمع سره وکوي الله ورته د ټولې شپې د عبادت ثواب ورکوي او لدې ثواب نه هغه کسان محروم وي چې هغوی د سحر مانځه نه پاتې وي او دا ډېر بد محرومیت دی .

[1] رواه مسلم

# آتم زیری

ملائکې ورته دعاء کوي

هغه کس چې د سحر مونځ وکوي د هغوی لپاره ملائکې دعا ګانې کوي پدې اړه حديث دی :

**عَنْ علي بن أبي طالب رضي الله عنه قَالَ : سَمِعْتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم يَقُولُ : " مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ ثُمَّ جَلَسَ فِي مُصَلاَّهُ ، صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلاَئِكَةُ ، وَصَلاَتُهُمْ عَلَيْهِ : اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ .** [1]

ترجمه : د حضرت علي بن ابي طالب نه روايت دی هغه فرمايي ما له رسول الله نه واورېدل چې هغه فرمايل چا چې د سحر مونځ وکولو او د مانځه په ځای کې کېناستو په هغه باندې ملائکې درود وايي (د هغوی لپاره د خير دعا ګانې غواړي) او د هغوی دعا دا ده چې هغوی فرمايي ای الله ده ته بښنه وکوه ای الله په ده باندې رحم وکوه .

د ملائکو دعاء چې هر وخت قبلېږي تاسې ولېدل چې دا دعاء د چا لپاره کوي؟ يوازې او يوازې د هغه کسانو لپاره چې د سحر مونځ وکوي په رښتيا چې دا دومره ښه خبره ده چې ددې قابل ده چې څوک يې په چا زيری وکوي .

---

[1] رواه أحمد

# نهم زیری

د حج او عمرې ثواب

هغه کس چې د سحر مونځ وکوي الله ورته د حج او عمرې ثواب ورکوي د الله د رحمت په خزانو کې د ثوابونو هېڅ ډول کمی نشته چې چا ته د الله خوښه شي چې هرڅنګه او هر څومره یې خوښه شي په هغه اندازه ثواب ورکوي او د هېچا د اعتراض ځای پکې نشته او نه وربانديې څوک اعتراض کولی شي نو چې الله له چا نه رضا شي چې څومره ډېر ثواب وغواړي الله یې ورکولی شي نو کوم بختور انسان چې د سحر مونځ وکوي الله ورته د حج او پوره عمرې ثواب ورکوي پدې اړه حدیث دی :

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم : " مَنْ صَلَّى الْغَدَاةَ الفجر فِي جَمَاعَةٍ ، ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ ، كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ . [1]

ترجمه : د حضرت انس بن مالک نه روایت دی هغه فرمایي رسول الله فرمایل : چا چې د سحر مونځ وکولو په جمع سره بیا کېناستو د الله ذکر یې کاوه تردې چې لمر را وختلو بیا یې دوه

[1] رواه الترمذي

رکعته مونځ وکولو ده ته د حج او عمرې ثواب ورکول کیږي پوره پوره .

د یو حج او عمرې په کولو انسان څومره تکلیف او څومره مصارف کوي او رښتوني مسلمانان دا هرڅه صرف د الله د رضا لپاره کوي او ډېر داسې رښتوني مسلمانان شته چې د هغوی وس نه رسیږي او په زړه یې دا ارمان وي چې کاش الله دوی ته دومره وس ورکړی وی چې حج او عمره یې یوازې او یوازې د الله د رضان لپاره کړي وای پدې حدیث کې د هغه خلکو لپاره زیری دی چې الله دوی ته په خپل ځای او کلي کې د حج او عمرې ثواب ورکوي خو که انسان یې حاصلول غواړي .

## لسم زیری

لکه مخکې چې تېر شول هغه کس چې د سحر مونځ وکوي هغه د الله په ذمه او حفاظت کې شي هغه څوک چې د الله په ذمه کې وي د یو مسلمان انسان لپاره همدومره ښه قسمت بس دی پدې اړه حدیث مخکې هم تېر شو :

عن جندب بن عبدالله رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم : " مَنْ صَلَّى صَلاَةَ الصُّبْحِ فَهْوَ فِي ذِمَّةِ اللهِ.[1]

---

[1] رواه مسلم

ترجمه : د حضرت جندب نه روایت دی هغه فرمايي رسول الله فرمايل : چا چې د سحر مونځ وکولو هغه د الله په ذمه کې شو .

الله به د هغه حفاظت او ساتنه کوي دده لپاره دا عزت او اکرام او د فخر خبره ده او هغه کس چې د سحر مونځ نه کوي تول ورځ د شیطان وربانديې غلبه وي او د هغه خوشه وي چې پدې انسان باندې څه کارونه کوي او د هلاکت کومې کندې ته يې ور غورځوي .

هغه څوک چې د سحر مونځ نه کوي د هغوی لپاره ډېره بده خبره ده د ښه مسلمان کېدو لپاره پنځه وخت مونځ کول ضروري دي الله په مونږ باندې فرض کړي دي او الله چې کوم حکم فرمايلی دی د هغه په پوره کولو کې زمونږ کاميابي ده او د سحر مونځ هم يو له فرايضو څخه دی او هغه کسان چې دا فريضه پوره کوي د هغوی نه الله راضي کيږي او سر بېره پردې وربانديې دا فايدې هم مرتبې کيږي .

## لمړی فايده

څوک چې د سحر مونځ کوي هغه له نفاق نه لري وي ځکه د سحر مونځ يوازې د منافقينو لپاره ډېر سخت وي پدې اړه مخکې يو حديث تېر شو رسول الله فرمايل :

ليس صلاة أثقل على المنافقين من صلاة العشاء والفجر ولو يعلمون ما فيهما لأتوهما ولو حبواً .[1]

ترجمه : د سحر او ماسخوتن مانځه نه په منافقينو باندې درووند مونځ نشته .

ددې حديث نه وروسته حضرت عبدالله ابن مسعود فرمايي : د سحر مانځه ته به صرف منافقين هغه چې نفاق به يې هرچا ته ښكاره وو نه راتلل .

حضرت عبدالله ابن عمر ددې حديث نه وروسته فرمايي : څوک به چې د سحر مانځه ته را نغلل زمونږ به وربانديې شک شو (هسې نه چې دا منافق شوی نه وي) .

## دوهمه فايده

هغه کسان چې د سحر مونځ يې کړی وي طبيعت يې جوړ او په شونډو يې ټوله ورځ قدرتي مسکا او تبسم وي تندی يې فراخ وي غصه نه وي او ټوله ورځ له خلکو سره سمه رويه کوي او له هغوی سره يې خبرې راکړه ورکړه ټول عملونه په خوشحالۍ او ښه وضعه سره تېرېږي او هغه کسان چې د سحر مونځ يې نه وي کړی په خبرو کې يې له خلکو سره لانجې راځي او ښه اخلاق يې نه وي ټوله ورځ يې

[1] رواة الشيخان عن أبي هريرة .

په غصه کې وي او په مخ کې یې خوشحالي نه ښکاره کیږي .

## دریمه فایده

د شیطان له ولکې نه خلاص شي

هغه کس چې د سحر په وخت کې ویده وي او دسحر مونځ ونه کوي هغه مکمل د شیطان په ولکه کې وي او هغه یې نه پریږدي چې د سحر مونځ وکوي او هغه کس چې د سحر مونځ وکوي نو معنی یې دا ده چې په ده باندې د شیطان دومره غلبه نه وه چې دی یې له مانځه نه ویستلی وی او پدې اړه یو حدیث هم دی :

عَنْ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قَالَ : ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم رَجُلٌ ! فَقِيلَ : مَا زَالَ نَائِماً حَتَّى أَصْبَحَ ، مَا قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ ، فَقَالَ : " بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنِهِ "[1]

ترجمه : د حضرت عبدالله ابن مسعود نه روایت دی هغه فرمایي د رسول ﷺ په مجلس کې یو کس یاد کړل شو وویل شول چې هغه ویده پاتې شو تردې چې سبا شو (د ځینې اقوالو له مخې د سحر او یا د شپې مونځ یې ونه کولو) رسول ﷺ د هغه په اړه وفرمایل : شیطان د هغه په غوږ کې متیازې

1 متفق علیه

کړې وي (یعني په هغه باندې یې پوره واک وو او هغه یې پرې نه شود چې هغه مانځه ته پاڅیږي) .

د سحر په مانځه باندې لکه مخکې چې تېر شول په احادیثو کې ډېر زیات ټینګار راغلی دی او ډېره لویه خبره خو داده چې د رښتیني مسلمان او منافق په مینځ کې فرق هم همدا د سحر او ماسخوتن مونځ دی ددې امله پخوانیو نیکانو ، علماوو په ټولو مونځونو په خاصه توګه د سحر په مانځه ډېر زیات ټینګار کاوه .

د حضرت سعید بن مسیب یو مولی فرمایي :

## ما نودي بالصلاة منذ أربعين سنة إلا وسعيد في المسجد.

ترجمه : څلوېښت کاله کیږي چې اذان نه دی شوی مګر حضرت سعید بن مسیب په جومات کې وي (تر اذان د مخه به جومات ته رسېدلی وو) .

حضرت وکیع بن الجراح د حضرت اعمش سلیمان بن مهران په اړه فرمایي :

## كان الأعمش قريباً من سبعين سنة لم تفته التكبيرة الأولى.

ترجمه : پداسې وخت کې چې اعمش شاخوا اویا کلن هم وو د جَمعې لمړی تکبیر ورڅخه نه پاتې کیدو .

حضرت محمد بن المبارک الصوري فرمایي :

كان سعيد بن عبد العزيز التنوخي إذا فاتته صلاة الجماعة بكى .

ترجمه : حضرت سعيد بن عبد العزيز التنوخي نه به چې كله د جَمع مونځ تېر شو نو ژړل به يې .

حضرت عامر بن عبدالله بن الزبير بيمار وو د مؤذن اواز يې واورېدو اراده يې وكوله چې روان شي لكن وس يې ونشو چا ته يې وويل : تر لاس مې ونيسه (جومات ته مې بوزه) چا ورته وويل : ته په تكليف كې يې .. ده ورته وويل : د الله غوښتنه (د مؤذن اواز) مې واورېد چې ويې نه منم نشم كولى.

خلكو تر لاس ونيولو جومات ته يې بوتلو له امام سره يې يو ركعت وكولو په دوهم ركعت كې وفات شو .

# د څاښت د وخت اهمیت

په ورځ کې د سحر وختې نه وروسته چې کله لمر را وخیږي پدې وخت کې د څاښت وخت هم له غوره وختونو څخه دی پدې وخت کې په مانځه کولو باندې رسول الله تائید کړی دی او پدې وخت کې د مانځه د فضیلت په اړه زیات احادیث موجود دي رسول الله ددې مانځه په اړه وصیت کړی دی حضرت ابو هریره فرمایي :

أوصاني خليلي صلى الله عليه وسلم بثلاث : " صيام ثلاثة أيام من كل شهر ، وركعتي الضحى ، وأن أوتر قبل أن أنام[1]

ترجمه : ماته زما دوست په دریو شیانو باندې وصیت کړی دی ، په هره میاشت کې دری ورځې روژه نیول ، د څاښت دوه رکعته مونځ کول او دا چې زه به د شپې وتر د ویده کېدلو څخه وړاندې کوم .

د حدیث په تفسیر کې یو عالم امام ابن دقیق العید فرمایي :

پدې حدیث کې دلیل موجود دی چې د څاښت مونځ مستحب دی او دا دوه رکعته دی او یا کېدای شي

[1] صحيح البخاري

رسول الله حضرت ابو هریره ته لېږ تر لږه اندازه یاده کړې وي .[1]

په همدې مضمون بل حدیث هم راغلی دی :

وعن أبي الدرداء - رضي الله عنه - قال : أوصاني حبيبي بثلاث لن أدعهن ما عشت : بصيام ثلاثة أيام من كل شهر ، وصلاة الضحى ، وأن لا أنام حتى أوتر.

ترجمه : د حضرت ابئ الدرداء نه روایت شوی دی هغه فرمایي ماته زما دوست ( رسول الله ) په دریو شیانو باندې وصیت کړی دی ترڅو چې ژوندی وم زه یې نه پرېږدم دا چې د هرې میاشتې نه دری ورځې روژه ونیسم ، د څاښت په مانځه او او ترڅو مې چې وتر نه وي کړي زه به نه ویده کیږم .[2]

رسول الله به هر وخت د څاښت مونځ خپله هم کولو پدې اړه حضرت عائشه فرمایي :

كَانَ رسول الله صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي الضُّحَى أرْبَعاً ، وَيَزِيدُ مَا شَاءَ اللهُ .[3]

---

1 احکام الاحکام شرح عمدة الاحکام
2 صحیح مسلم
3 صحیح مسلم

ترجمه : رسول الله به وو چې د څاښت مونځ به يې څلور رکعته کاوه او بيا به څومره چې د الله خوښه وه نور هم پسې زياتولو .

رسول الله کله د څاښت مونځ آته رکعته هم کړی دی پدې اړه يو حديث دی .

وعن أُمِّ هَانِىءٍ فاختة بنت أَبي طالب رضي الله عنها ، قالت : ذَهَبْتُ إِلَى رسول الله صلى الله عليه وسلم ، عَامَ الفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ ، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ ، صَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ، وَذَلِكَ ضُحىً.[1]

ترجمه : د حضرت ام هاني فاخته بنت ابي طالب نه روايت دی هغه فرمايي زه د رسول الله خوا ته د فتح په ورځ ورغلم هغه پدې وخت کې غسل کولو کله چې د غسل نه فارغ شو نو بيا يې آته رکعته مونځ وکولو او دا د څاښت وخت وو .

د څاښت مانځه ته صلاة الاوابين ويل شوی دی او اوابين الله ته رجوع کونکو او توبه ايستونکو ته وايي پدې اړه حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله فرمايل :

صلاة الضحى صلاة الأوابين .[2]

---

1 صحيح البخاري

2 اخرجه الديلمي في المسند الفردوس

ترجمه : د ځاښت مونځ د توبه کونکو مونځ دی .

پدې وخت کې چې څوک مونځ وکوي نو د هغه ټوله ورځ به غوره وي په يو حديث کې حضرت ابو ذر فرمايي رسول الله فرمايل :

قال الله تبارك وتعالى : ابن آدم اركع لي أربع ركعات في أول النهار أكفك آخره.[1]

ترجمه : الله فرمايي اى د آدم زويه زما لپاره څلور رکعته د ورځې په اول کې وکوه د ورځې تر آخره دې بس دي .

## د ځاښت مونځ لويه صدقه

په يو حديث کې د ځاښت مونځ ته لويه صدقه ويل شويده حضرت بريدة فرمايي رسول الله فرمايل :

في الإنسان ثلاثمائة وستون مفصلا فعليه أن يتصدق عن كل مفصل منه بصدقة قالوا ومن يطيق ذلك يا نبي الله؟ قال النخامة في المسجد تدفنها والشىء تنحيه عن الطريق فإن لم تجد فركعتا الضحى تجزئك.[2]

ترجمه : په انسان کې درى سوه شپېته بندونه دي ده ته په کار دي چې (هره ورځ) د هر بند نه

---

1 صحيح الترمذي
2 رواه الامام احمد

صدقه وکوي (چې هغه په سمه توګه کار کوي) صحابه وو ورته وویل : یا رسول الله دا د چا په وس کې شته؟ رسول الله ورته وویل یوه وړه (تف کړې ګندګي) چې په جومات کې وي خښه کړل شي او یو ضرر ناک شی چې د لارې نه لرې کړل شي دا ټول صدقات دي او ددې ټولو نه درته د څاښت د وخت دوه رکعته مونځ کفایت کوي .

## د څاښت مانځه ته لوی غنیمت ویل شوی دی

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص فرمايي :

بعث رسول الله صلى الله عليه و سلم سرية فغنموا وأسرعوا الرجعة فتحدث الناس بقرب مغزاهم وكثرة غنيمتهم وسرعة رجعتهم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ألا أدلكم على أقرب منهم مغزى وأكثر غنيمة وأوشك رجعة من توضأ ثم غدا إلى المسجد لسبحة الضحى فهو أقرب منهم مغزى وأكثر غنيمة وأوشك رجعة .[1]

ترجمه : رسول الله يوه سريه ولېږله (يوه ډله صحابه يې غزا ته ولېږل) هغوی غنيمت ونيولو او څه کسان يې اسيران کړل او زر بېرته راغلل

[1] اخرجه احمد في مسنده

خلکو خبري کولې چې څومره ښه قسمت يې وو نيږدې ځای ته لېږل شوي وو او څومره ډېر غنيمت يې واخيستو او څومره زر بېرته راغلل (هر چا دا خواهش وو کاش چې زه هم په همدې ډله کې وای) رسول الله ورته وويل ددېنه هم نيږدې د جنګ ځای درته وښيم چې غنيمت يې هم ترې زيات وي او رجوع يې هم زياته ممکنه وي چا چې اودس وکولو او جومات ته لاړو د څاښت په وخت کې نو ددې کس د غزا ځای له دوی نه نيږدې دی او غنيمت به هم ډېر راوړي او را ګرځېدل به يې هم له دوی نه يقيني وي .

پدې اړه يو بل حديث هم دی .

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال بعث رسول الله صلى الله عليه و سلم بعثا فأعظموا الغنيمة وأسرعوا الكرة فقال رجل يا رسول الله ما رأينا بعثا قط أسرع كرة ولا أعظم غنيمة من هذا البعث فقال ألا أخبركم بأسرع كرة منهم وأعظم غنيمة رجل توضأ فأحسن الوضوء ثم عمد إلى المسجد فصلى فيه الغداة ثم عقب بصلاة الضحوة فقد أسرع الكرة وأعظم الغنيمة.[1]

---

[1] اخرجه ابن حبان

ترجمه : د حضرت ابي هریره نه روایت دی هغه فرمايي رسول الله یوه ډله صحابه چېرته ولېږل هغوی بېرته را وګرځېدل ښه غنیمت یې راوړو په مجلس کې یو صحابي وویل یا رسول الله مونږ ددېنه تېز راتلونکی او ښه غنیمت راوړونکی ډله ونه لیده رسول الله ورته وویل زه تاسې ته ددېنه زر را ګرځېدل او لوی غنیمت در ونه ښیم؟ یو کس چې اودس وکوي او ښه اودس وکوي او بیا جومات ته لاړ شي او مونځ پکې وکوي د سحر او بیا پکې د څاښت مونځ هم وکوي دا ډېر زر هم را وګرځېدو او ښه غنیمت یې ورسره راوړو .

حضرت ابي امامة فرمايي رسول الله فرمایل :

من خرج من بيته متطهراً إلى صلاة مكتوبة فأجره كأجر الحاج المحرم ومن خرج إلى تسبيح الضحى لا ينصبه إلا إياه فأجره كأجر المعتمر وصلاة على إثر صلاة لا لغو بينهما صلاة في كتاب العليين .[1]

ترجمه : څوک چې د کور نه د پاکي سره فرض مانځه ته وزي ثواب یې داسې وي لکه د حاجي او محرم او څوک چې د څاښت مانځه ته وزي او صرف د همدې لپاره وتلی وي نو ثواب یې د عمره کونکي دی او چې د یو مانځه نه تر بل مانځه پورې د مانځه په ځای انتظار وویستل شي ترڅو چې د

---

[1] أخرجه أبو داود فى سننه

دواړو په مينځ کې بې ځايه خبرې نه وي نو دا د عليينو په کتاب کې مونځ ګڼل کيږي (داسې ثواب يې وي لکه دا ټول وخت يې چې په مانځه کې تېر کړی وي).

په پورتني حديث کې يې د هغه کس چې اودس وکوي او مانځه ته روان شي تشبيه د هغه حاجي سره ورکړې ده چې د احرام په حالت کې روان شي يعني لکه څنګه چې حاجي تر ميقات وړاندې احرام واچوي نو ثواب يې پوره وي نو همداسې اودس کونکی چې تر روانېدو مخکي اودس وکوي نو چې مانځه ته ځي ثواب يې پوره وي د محرم سره يې مشابه کړو ځکه د مانځه لپاره اودس همدومره ضروري دی لکه د حج لپاره چې احرام ضروري دی لکه مونځ چې د اوداسه نه بغير نه کيږي په همدې ډول حج د احرام نه بغير نه کيږي .

## د څاښت د مانځه وخت

د څاښت مونځ څه وخت غوره دی؟ پدې اړه رسول الله ﷺ فرمايي چې د څاښت د مانځه وخت هغه دی کله چې زمکه سره شي او لمر زمکه ګرمه کړي رسول الله ﷺ پدې اړه په یو حدیث کې فرمايي :

صلاة الأوابين حين ترمض الفصال ( یعني د اوابینو د مانځه (د څاښت د مانځه ) وخت هغه وخت دی چې پکې د اوښانو د وړو بچیانو پښې په زمکه سوزیږي) یعني چې زمکه ګرمه شي .

امام طحاوي فرمايي چې د څاښت د مانځه صحیح وخت دادی چې د ورځې څلورمه برخه تېره شي .

د جمهورو علماوو له نظره د څاښت د مانځه وخت د لمر د را پورته کېدلو نه شروع کیږي تر زوال پورې ترڅو چې مکروه وخت نه وي داخل شوی .

## د څاښت د مانځه رکعتونه

د څاښت مونځ څو رکعته وي ؟ د امام مالک او امام احمد ابن حنبل د مذهب له مخې آته رکعته مونځ دی او د دوی دلیل لږ مخکې د حضرت ام هانئ تېر شوی حدیث دی هغه حدیث په لاندې ډول دی :

وعن أُمِّ هَانِىءٍ فاختة بنت أَبي طالب رضي الله عنها ، قالت : ذَهَبْتُ إِلَى رسول الله صلى الله عليه وسلم ، عَامَ الفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ ، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ ، صَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ، وَذَلِكَ ضُحىً.[1]

ترجمه : د حضرت ام هاني فاخته بنت ابي طالب نه روايت دی هغه فرمايي زه د رسول الله خوا ته د فتح په ورځ ورغلم هغه پدې وخت کې غسل کولو کله چې د غسل نه فارغ شو نو بيا يې آته رکعته مونځ وکولو او دا د ځاښت وخت وو .

د امام ابي حنيفه او امام شافعي د مذهب له مخې د ځاښت مونځ ۱۲ رکعته دی او د دوی دليل د رسول الله يو حديث دی رسول الله فرمايي :

من صلى الضحى ثنتي عشرة ركعة بنى الله له قصرا من ذهب في الجنة .[2]

ترجمه : چا چې د ځاښت مونځ دولس رکعته وکولو الله به ورته په جنت کې د سرو زرو بنګله جوړه کړي .

1 صحيح البخاري
2 سنن الترمذي

خو دا مونځ نفل دی او د هرو دوو رکعتونو څخه به وروسته سلام ګرځول کيږي نو چې مونځ څومره زياتوي نو ثواب يې زياتيږي لکن دا به يې عقيده نه وي چې دا سنت دي او زيات چې څومره نفل کوي نو هيڅ ډول کراهيت پکې نشته زيات مونځ د زيات ثواب خبره ده .

## د ماسپښين د وخت اهميت

د ځاښت د مانځه نه لږ وروسته د ماسپښين وخت وي په احاديثو کې ددې فضيلت هم راغلی دی رسول الله ددې وخت په اړه ويلي دي چې پدې وخت کې د اسمان دروازې خلاصيږي نو د ماسپښين د فرض مانځه نه وړاندې به يې څلور رکعته سنت کول او بيا به يې فرمايل چې پدې وخت کې د اسمان دروازې خلاصيږي او زما خوښيږي چې د دروازو د خلاصېدو په وخت کې زما نېک عمل پورته شي پدې اړه حضرت عبدالله ابن سائب فرمايي :

كان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يصلي أربعا بعد أن تزول الشمس قبل الظهر وقال : إنها ساعة تفتح فيها أبواب السماء ، وأحب أن يصعد لي فيها عمل صالح.[1]

ترجمه : رسول الله به څلور رکعته مونځ وروسته د هغه کولو چې لمر زوال وکوي تر ماسپښين وړاندې او ويل به يې دا داسې وخت دی چې د

[1] سنن الترمذي

اسمان دروازې پکې خلاصيږي او زما خوښيږي چې پدې وخت کې زما نېک عمل پورته شي .

حضرت انس ابن مالک د رسول الله د ماسپښين د مانځه د وخت په اړه فرمايي :

كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا اشتد البرد بكر بالصلاة ، وإذا اشتد الحر أبرد بالصلاة . [1]

ترجمه : رسول الله به وو چې کله به يخني وه نو د ماسپښين مونځ به يې وختي کولو او کله به چې ګرمي وه نو صبر به يې کاوه چې د غرمې سخته ګرمي به کمه شوه بيا به يې مونځ کاوه .

## د ماسپښين د مانځه نه وروسته دعا قبليږي

حضرت جابر فرمايي :

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا فِي مَسْجِدِ الْفَتْحِ ثَلَاثًا يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الثُّلَاثَاءِ وَيَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ فَاسْتُجِيبَ لَهُ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فَعُرِفَ الْبِشْرُ فِي وَجْهِهِ، قَالَ

[1] رواه البخاري

جَابِرٌ: "فَلَمْ يَنْزِلْ بِي أَمْرٌ مُهِمٌّ غَلِيظٌ إِلَّا تَوَخَّيْتُ تِلْكَ السَّاعَةَ فَأَدْعُو فِيهَا فَأَعْرِفُ الْإِجَابَةَ . [1]

.ترجمه : رسول الله ﷺ په مسجد فتح كې درى ځله د ددوشنبې ، سه شنبې او چهار شنبې په ورځ دعاء كوله خو دا دعاء يې د چهار شنبې په ورځ قبوله شوه د دوو مونځونو (ماسپښين او مازيگر) په مينځ كې بيا به چې ما ته كله هم كوم مهم كار را مخې ته شو نو پدې وخت كې به مې دعا وكوله او هغه به قبوله شوه .

## د مازيگر نه وړاندې وخت

د مازيگر د مانځه نه وړاندې څلور ركعته مونځ كول د زيات ثواب لامل گرځي پدې اړه حضرت علي فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي قبل العصر أربع ركعات يفصل بينهن بالتسليم على الملائكة المقربين ومن تبعهم من المسلمين والمؤمنين . [2]

ترجمه : رسول الله ﷺ به مونځ كولو د مازيگر د مانځه نه وړاندې څلور ركعته او د دوه ركعتونو

---

[1] رواه احمد و البزار
[2] سنن الترمذي او ابن داود

څخه به یې وروسته په ملائکو مقربینو او له ده سره په موجوده مسلمانانو باندې سلام اچولو .

حضرت عبدالله ابن عمر فرمايي رسول الله فرمایل :

رحم الله امرءاً صلى قبل العصر أربعا .[1]

ترجمه : الله د په هغه کس باندې رحم وکوي چې د مازیګر د مانځه نه وړاندې څلور رکعته (نفل) مونځ وکوي .

## د مازیګر د وخت اهمیت

د مازیګر وخت هم د عبادت لپاره يو مبارک وخت دی الله په قرآن کري کې فرمايلي دي :

حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلاَةِ الْوُسْطَى وَقُومُواْ لِلّهِ قَانِتِينَ.[2]

ترجمه : ساتنه کوئ تاسې ! پر (ټولو) مونځونو باندې او (خصوصاً) په لمانځه د منځني باندې (چه مازیګر دی) او درېږئ تاسې الله ته وېرېدونکي (په ادب سره) .

1 سنن الترمذي
2 سورة البقرة آية ٢٣٨

مخکې د سحر د مانځه او د سحر د وخت په اړه په حدیثونو کې تېر شول چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې د مازیګر په وخت کې هغه ملائکې سره را ټولیږي چې کومې د ورځې لپاره په زمکه کې وې او کومې د شپې لپاره زمکې ته راځي او همدارنګه رسول الله ﷺ مخکې فرمایلي وو چې تاسې به خپل رب داسې وینئ لکه دا سپوږمی چې وینئ خو تاسې د مازیګر او د سحر د مانځه په کولو کې کوښښ کوئ چې درنه پاتې نه شي .

په بل ځای کې رسول الله ﷺ فرمایي :

من صلى البردين دخل الجنة .[1]

ترجمه : چا چې دوه یخ مونځونه وکوله هغه به جنت ته ننوزي .

او دوه یخ مونځونه یو د سحر او بل د مازیګر وخت دی .

مخکې د سحر د مانځه په اړه یو حدیث تېر شو دلته یې بیا را ګرځوم :

هغه کسان چې د سحر او مازیګر مونځ کوي هغوی ته به د الله ﷻ دیدن په برخه کیږي رسول الله ﷺ فرمایي :

إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ لاَ تُضَامُّونَ تضارون فِي رُؤْيَتِهِ ، فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لاَ تُغْلَبُوا عَلَى

---

[1] متفق علیه

صَلاَةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا " يعني الفجر والعصر ، ثُمَّ قَرَأَ : وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ .[1]

ترجمه : بېشکه تاسې به خپل رب داسې وينئ لکه دا سپوږمۍ چې تاسې وينئ او په ليدلو کې به يې تاسې ته هېڅ ډول تکليف نه وي که تاسې کولی شول چې خامخا د لمر ختلو نه وړاندې او د لمر لوېدلو نه وړاندې مونځ وکوئ نو ويې کوئ يعني د سحر او مازيگر مونځ بيا يې دا آيت تلاوت کړو چې الله فرمايي ته د رب خپل تسبيح وايه مخکې د لمر ختلو او مخکې له پرېوتلو .

په بل ځای کې رسول الله فرمايي :

لن يلجَ أحد النار صَلَّى قبل طلوع الشمس وقبل غروبها.[2]

ترجمه : هېڅ کله به اور ته داخل نشي هغه کس چې د لمر ختلو نه وړاندې (د سحر) او د لمر لوېدلو نه وړاندې (د مازيگر) مونځ وکوي .

په بل حديث کې رسول الله فرمايي :

يتعاقبون فيكم ملائكة بالليل وملائكة بالنهار ويجتمعون في صلاة الصبح وصلاة العصر ثم يعرج الذين باتوا فيكم

1 متفق عليه
2 رواه مسلم

فیسألهم الله وهو أعلم بهم: کیف ترکتم عبادي؟ فیقولون ترکناهم وهم یصلون وأتیناهم وهم یصلون.[1]

ترجمه : لتاسې سره بېلې بېلې ملائکې د شپې او ورځې پاتې کیږي او هغه دواړه ډلې د سحر او مازیگر په مانځه کې سره جمع کیږي بیا هغه ډله چې له مانځه نه وړاندې لتاسې سره وې هغه اسمان ته ځي الله ورڅخه پداسې حالت کې پوښتنه کوي چې هغه له دوی نه د بندگانو په حال باندې ښه خبر وي : تاسې زما بندگان په څه ډول حالت کې پرېښودل (چې تاسې ورڅخه راتلی هغوی څه کول او په څه حال کې وو؟) دوی به ورته وایي مونږ چې هغوی ته ورغلو هم هغوی مونځونه کول او مونږ چې اوس ورڅخه راتلو هم دوی مونځونه کول .

رسول الله چې یو وخت د مازیگر مونځ وکولو نو بیا یې صحابه وو ته مخ واوړولو او ورته یې وفرمایل :

أن هذه الصلاة عرضت علی من کان قبلکم فضیعوها فمن حافظ علیها کان له أجره مرتین.

ترجمه : بېشکه دا مونځ (د مازیگر) ستاسې نه وړاندې کسانو ته هم ورکړل شو لکن هغوی ضائع

[1] متفق علیه

کړو نو چا چې وساتلو الله يې ورته غبرګ (دوه چنده) ثواب ورکوي .

حضرت عبدالله ابن عمر فرمايي رسول الله فرمايل :

الذي تفوته صلاة العصر، كأنما وتر أهله ومال .[1]

ترجمه : د چا نه چې د مازيګر مونځ پاتې شي داسې ده لکه ټول اهل او مال يې چې تباه شي .

د حضرت بريدة نه روايت شوى دى چې هغه د وريځ په ورځ ويل :

بكروا بصلاة العصر، فإن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من ترك صلاة العصر فقد حبط عمله .[2]

ترجمه : د مازيګر مونځ لږ وختي وکوئ ځکه رسول الله فرمايل : چا چې د مازيګر مونځ پريښود د هغه عمل ضائع او بې کاره شو .

## د ماښام د وخت اهميت

د مازيګر وخت چې ختم شي لمر پريوزي دا د ماښام د مانځه وخت دى د نوې شپې شروع ده پدې وخت کې هم عبادت کول د زيات ثواب لامل ګرځي او پدې وخت کې هم په مسلمانانو باندې يو مونځ

1 صحيح البخاري
2 صحيح البخاري

فرض دى او دا څه وخت وي رسول الله د ماښام د وخت په اړه فرمايي :

وقت صلاة المغرب إذا غابت الشمس ما لم يسقط الشفق.[1]

ترجمه : د ماښام د مانځه وخت د لمر د غيب كېدلو نه د شفق تر غورځېدلو (پټېدلو) پورې دى .

په بل ځاى كې د حضرت ابي موسى اشعري نه روايت دى چې يو كس له رسول الله نه د ماښام د مانځه د وخت په اړه پوښتنه وكوله نو بيا يې يو حديث ذكر كړى دى چې د هغه په يوه برخه كې دا خبره ده چې رسول الله زمونږ سره پداسې وخت كې مونځ وكولو چې لمر پرېوتلو او كله چې سبا شو نو رسول الله مونځ وروسته كړو تردې چې د شفق د پټېدلو وخت را نېږدې شو او بيا پاڅېدو له مونږ سره يې مونځ وكولو او بيا يې وفرمايل د ماښام د مانځه وخت ددې دوو وختونو په مينځ كې دى .

## د ماسخوتن د وخت اهميت

د ماښام د وخت نه لږ وروسته چې تياره را خپره شي پدې وخت كې الله په مسلمانانو باندې يو بل مونځ فرض كړى دى چې د ماسخوتن مونځ ورته وايي

---

[1] رواه مسلم

پدې وخت کې هم عبادت کول د لوی او زيات ثواب لامل ګرځي او ددې وخت هم په احاديثو کې ډېر فضائل راغلي دي او رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ صَلَّى العِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيلَ كُلَّهُ [1].

ترجمه : چا چې د ماسخوتن مونځ په جمع سره وکولو داسې ده (په ثواب کې) لکه ده چې نيمه شپه په عبادت کې تېره کړې وي او هغه چا چې د سحر مونځ په جمع سره وکولو داسې ده لکه ده چې ټوله شپه په عبادت کې تېره کړې وي .

په بل حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي :

ما صلاة أثقل على المنافقين من صلاة العشاء وصلاة الفجر، ولو يعلمون ما فيهما من الفضل لأتوهما ولو حبوا.[2]

ترجمه : د منافقينو لپاره د ماسخوتن او سحر مونځ نه سخت مونځ بل نشته او که دوی په هغه څه پوه شوی وای چې پدې کې دي نو دوی به ورته په خاپوړي سره راغلي وو .

## ددعاء د قبلېدلو وختونه

### ۱. د اذان او اقامت په مينځ کې

---

1 أخرجه مسلم
2 طحاوي

د اذان او اقامت په مينځ کې دعاء قبليږي پدې

حضرت انس ابن مالک فرمايي رسول الله فرمايل :

## لا يرد الدعاء بين الأذان والاقامة

ترجمه :د اذان او اقامت په مينځ کې دعا نه رد کيږي (خامخا قبليږي)

صحابه وو ورڅخه پوښتنه وکوله :

پدې وخت کې به مونږ څه وايو يا رسول الله ؟

رسول الله ورته وفرمايل :

## سلوا الله العفو والعافية فى الدنيا والآخرة

ترجمه : په دنيا او آخرت کې د عفو او عافيت صحت او پاکي سوال وکوئ .

د حضرت عبدالله ابن عمر نه روايت دى يو سړي

وويل : يا رسول الله **ان المؤذنين يفضلوننا** (يعني

اذان کونکي له مونږ نه غوره دي) رسول الله ورته وويل :

## قل كما يقولون فاذا انتهيت فسل تعطه .[1]

ترجمه : څنګه چې هغه وايي ته هم ورسره وايه او کله چې ختم شو نو څه شى وغواړه دربه کړل شي (سوال وکوه قبول به شي) .

[1] رواه احمد وابوداود

## ۲. د شپې مینځ

بل هغه وخت چې دعاء پکې قبلیږي هغه د شپې مینځ دی په شپه کې داسې یو وخت دی چې په هغه وخت کې څوک خپل لاسونه پورته کړي او دعاء وکوي دعاء یې نه رد کیږي او هغه د زیاتو اقوالو له مخې د شپې په آخره برخه کې دی د شپې د آخرې برخې په اړه یو حدیث مخکې هم تېر شو رسول ﷲ فرمایل :

**ینزل ربنا إلی سماء الدنیا کل لیلة حین یبقی ثلث اللیل الآخر فیقول من یدعوني فأستجیب له من یسألني فأعطیه من یستغفرني فأغفر له حتی ینفجر الفجر...**

ترجمه : زمونږ رب را ښکته کیږي د دنیا اسمان ته په هره شپه کې چې دریمه آخري برخه یې پاتې شي او وایي څوک چې رانه دعاء وغواړي دعاء به یې قبوله کړم څوک چې رانه څه سوال وکوي ورېه یې کړم څوک چې را نه بښنه وغواړي بښنه به ورته وکوم او همدا وایي تردې چې سبا شي .

د شپې چې هرڅوک دعاء وکوي ﷲ هغه دعاء قبلوي لکن چې له دعاء سره نور داسې شیان نه وي ملګري شوي چې هغه د دعاء قبلېدل منع کوي لکه حرام خوراک لباس او څښاک او داسې نور او د دعاء د قبلېدلو معنی هم یوازې دا نه ده چې

هغه شی ورکړل شي چې کوم بنده غوښتي وي لکه رسول الله چې فرمايي :

ما من مسلم يدعو الله بدعوة ليس فيها إثم ولا قطيعة رحم إلا أعطاه الله بها إحدى ثلاث: إما أن تعجل له دعوته في الدنيا، وإما أن يدخرها له في الآخرة، وإما أن يصرف عنه من السوء مثلها، قالوا: يا رسول الله إذاً نكثر؟ قال: الله أكثر.

ترجمه : هر مسلمان چې د الله نه دعاء غواړي هغه داسې دعاء وي چې څه ګناه پکې نه وي او نه پکې د څه خپلولي پرې کېدل وي الله هغه دعاء په يو د دريو ډولونو سره قبلوي :

الف : يا خو ورته په دنيا کې هماغه څه ورکړي چې دی يې غواړي .

ب : يا دغه دعاء د بنده د آخرت لپاره ذخيره کړي او ددې دعاء په بدل کې ورته ثواب ورکړي .

ج: يا ددې دعاء له امله د هغه نه کوم بد شی منع کړي (د کومې بلا په مخ کې يې ورته ودروي) .

نو صحابه وو وويل چې بيا به مونږ ډېرې دعاګانې کوو؟ رسول الله ورته وويل له الله سره ډېر دي (د هغه سره هېڅ شی کم نه دي) .

## ۳. د سجدې په وخت کې

د سجدې په حالت کې هم دعا قبليږي لکن په مانځه کې به هغه دعا ګاڼې غوښتل کيږي د کوم شي ورکول چې يوازې او يوازې د الله په وس کې وي د سجدې په حالت کې د دعاء د قبلېدلو په اړه فرمايي :

أقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد فأكثروا الدعاء.[1]

ترجمه : له ټولو حالتونو څخه بنده په سجده کې الله ته ډير نيږدې وي نو په سجده کې دعاء ډيره کوئ .

په بل ځای کې د حضرت عبدالله ابن عباس نه روايت دی چې هغه فرمايي رسول الله زه ددېنه منع کړم چې په رکوع او سجده کې تلاوت وکوم او مخکې بيا فرمايي :

أما الركوع فعظموا فيه الرب عز وجل، وأما السجود فاجتهدوا في الدعاء فقمن أن يستجاب لكم .[2]

ترجمه : هر چې رکوع ده په هغې کې د رب عز وجل تعظيم وکوه او په سجده کې په دعاء کې کوښښ وکوئ ډير ه نيږدې ده چې قبوله شي .

1 رواه مسلم
2 صحيح مسلم

په بل ځای کې حضرت عائشه فرمايي رسول الله د شپې رانه ورک شو (د خوب په ځای کې يې نه وو) زه پسې وګرځېدم چې په جومات کې مې پيدا کړو د سجدې په حالت کې يې دعاء کوله او فرمايل يې:

اللَّهُمَّ إنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ ، وبمُعافاتِكَ مِنْ عُقوبتِكَ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ ، لا أُحْصِي ثَنَاءً عليكَ أَنْتَ كما أثنيتَ على نَفْسِكَ . [1]

ترجمه : ای الله زه پناه غواړم ستا په رضا باندې ستا له قهر نه او ستا په بښنه باندې ستا له عفوې نه او پناه غواړم په تا باندې ستا له قهر نه زه په تا باندې ثناء نشم پوره کولی (لما سره داسې الفاظ نشته چې ستا هغه شان ثناء ووايم څنګه چې مناسبه ده ستا دشان سره) تاته هغه ثناء ثابته ده چې تا په خپل ځان ويلې ده .

## ٤. د مانځه په اخر کې

د تشهد نه وروسته په مانځه کې هم انسان دعاء کولی شي او پدې وخت کې هم دعاء قبول ته ډېره نېږدې وي پدې اړه حضرت عبدالله ابن مسعود فرمايي چې رسول الله مونږ ته تشهد (التحيات لله) را وښوده بيا يې راته وويل :

---

[1] رواهُ مسلم

ثم ليتخير من المسألة ما شاء .[1]

ترجمه : بيا د تشهد نه وروسته څه مو چې خوښه وي سوال غوره کړئ (څه مو چې خوښ وي هغه وغواړئ) .

په يو حديث کې رسول الله فرمايي چې د تشهد نه وروسته تاسې د څلورو شيانو څخه پناه وغواړئ ددې هم معنی داده چې پدې وخت کې دعاء قبول ته نيږدې ده او دعاء وکوئ هغه حديث دادی چې رسول الله فرمايي :

إذا فرغ أحدكم من التشهد الأخير فليتعوذ ب الله من أربع يقول : اللهمّ إني أعوذ بك من عذاب جهنم ومن عذاب القبر ومن فتنة المحيا والممات ومن شر فتنة المسيح الدجال .[2]

ترجمه : کله چې په تاسې کې کوم يو د آخري تشهد نه فارغ شي نو بيا د له څلورو شيانو څخه پناه وغواړي او و د وايي ای الله زه په تا باندې د عذاب د جهنم نه پناه غواړم او د عذاب د قبر نه پناه غواړم او د مرګ او ژوند د فتنې نه پناه غواړم او د مسيح دجال د شر نه په تا باندې پناه غواړم .

حضرت علي فرمايي :

---

1 رواه مسلم
2 رواه البخاري

كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا قام إلى الصلاة، يكون آخر ما يقول بين التشهد والتسليم : اللهم اغفر لي ما قدمت وما أخرت، وما أسررت وما أعلنت، وما أسرفت وما أنت أعلم به مني، أنت المقدم وأنت المؤخر: لا إله إلا أنت. [1]

ترجمه : رسول الله به چې كله مانځه ته پاڅېدو په آخر كې به يې د تشهد او سلام په مينځ كې دا ويل : اى الله ماته هغه څه چې ما مخكې كړي او يا وروسته دي وبښه هغه څه چې ما پټ كړي دي او يا ښكاره كړي دي هغه وبښه او هغه چې ما پكې اسراف (له حد نه تېرى كړى دى) او هغه څه چې ته وربانديې زما نه ښه عالم يې ته مخكې يې او ته هغه ذات يې چې هرڅه به پناه شي او ته به نه پناه كيږي وروسته به هم ته پاتې وې نشته په حقه لا ئق د عبادت مگر يوازې هم ته يې .

د حضرت حنظلة بن علي نه روايت دى هغه فرمايي :

أن محجن بن الادرع حدثه قال: دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم المسجد فإذا هو برجل قد قضى صلاته وهو يتشهد ويقول: اللهم إني أسألك يا الله الواحد الاحد الصمد

[1] رواه مسلم

الذي لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفوا أحد، أن تغفر لي ذنوبي إنك أنت الغفور الرحيم، فقال النبي صلى الله عليه وسلم قد غفر ثلاثا.[1]

ترجمه : محجن بن ادرع ده ته قصه کړېده هغه وايي رسول الله جومات ته ننوت يو کس مونځ کولو او د تشهد نه وروسته يې دعاء ويله : اى الله زه لتا نه سوال کوم يا الله واحد او احد ذاته ته بې نيازه يې ته هغه ذات يې چې نه له چا نه پيدا شوى او نه ورڅخه څوک پيدا شوي دي او د هغه هېڅوک سيال نشته ته زما ګناهونه وبښه ته بښونکى او مهربان يې رسول الله دغه دعا واورېده او بيا يې درى ځله وويل : ده ته بښنه وشوه .

حضرت انس ابن مالک فرمايي :

كنت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم جالسا ورجل قائم يصلي، فلما ركع وتشهد قال في دعائه: اللهم إني أسألك بأن لك الحمد لا إله إلا أنت المنان، بديع السموات والأرض يا ذا الجلال والاكرام يا حي يا قيوم إني أسألك. فقال النبي صلى الله عليه وسلم لاصحابه أتدرون بم دعا؟ قالوا: الله

---

[1] رواه أحمد وأبو داود

ورسوله أعلم.

قال والذي نفس محمد بيده لقد دعا الله باسمه العظيم، الذي إذا دعي به أجاب، وإذا سئل به أعطى .[1]

ترجمه : زه د رسول الله سره ناست وم او یو کس ولاړ وو مونځ یې کولو کله یې چې مونځ وکولو او تشهد یې وویلو بیا یې په دعاء کې وویل ای الله زه لتا نه سوال کوم (او دا اقرار کوم چې) حمد او ثناء تا لره دي نشته لا ئق د عبادت مګر ته یې احسان کونکی پیدا کونکی د اسمانونو او زمکې یې ای د جلال او اکرام (دبدبې او عزت) خاونده ای هغه ذاته چې همېشه ژوندی یې مرګ درلره نشته ای همېشه پاتې کېدونکیه ذاته زه لتا نه سوال کوم ... رسول الله خپلو صحابه وو ته وویل تاسې پوه شوئ چې دا دعاء یې په څه وکوله؟ صحابه وو ورته وویل الله او د هغه رسول وربانديِ ښه خبر دي بیا رسول الله وویل زما د قسم وي په هغه ذات چې د محمد نفس د هغه په لاس (د قدرت) کې دی ده په اسم اعظم سره دعاء وکوله هغه چې هرڅوک په هغه باندې دعاء وکوي قبلیږي او چې څوک وربانديِ هرشی وغواړي ورکول کیږي .

حضرت عمیر ابن سعد فرمایي :

---

[1] رواه النسائي

كان ابن مسعود يعلمنا التشهد في الصلاة ثم يقول: إذا فرغ أحدكم من التشهد فليقل اللهم إني أسألك من الخير كله ما علمت منه وما لم أعلم، وأعوذ بك من الشر كله ما علمت منه وما لم أعلم، اللهم إني أسألك من خير ما سألك منه عبادك الصالحون، وأعوذ بك من شر ما استعاذك منه عبادك الصالحون، ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الاخرة حسنة وقنا عذاب النار.

قال: لم يدع نبي ولا صالح بشئ إلا دخل في هذا الدعاء. رواه ابن أبي شيبة وسعيد بن منصور.

ترجمه : حضرت ابن مسعود مونږ ته تشهد را زده کولو بيا يې ويل : کله چې يو د ستاسې د تشهد نه فارغ شو نو بيا دې ووايي اى الله زه لتا نه سوال کوم له ټول خير نه هغه چې زه وربانديې پوهېږم او چې نه وربانديې پوهېږم او زه په تا بانديې له شر نه پناه غواړم د ټول نه چې زه وربانديې پوهېږم او چې نه وربانديې پوهېږم اى الله زه لتا نه سوال کوم د خير د هغه څه نه چې ستا نېکانو بندګانو لتا څخه سوال کړى دى او زه په تا بانديې پناه غواړم له شر د هغه نه چې ستا نېکانو بندګانو ترې پناه غوښتې ده اى الله راکړې مونږ ته په دنيا کې

نېکي او په آخرت کې نيکي او مونږ وساته د عذاب د اور نه .

بيا يې وفرمايل چې تر اوسه پورې کوم نبي او کوم صالح انسان څه قسم دعاء کړېده پدې دعاء کې هغه هر څه داخل دي .

## ٥. د جُمعې د خطبې د شروع نه د مانځه تر ختم پورې

کله چې امام د جُمعې خطبه شروع کړي پدې وخت کې دعاء زر قبلیږي او دا وخت تر هغه وخته پورې دی چې ترڅو مونځ ختم شوی نه وي .

د حضرت امام شعبي نه روایت دی چې حضرت عون ابن حصیرة فرمایي : **الساعة التي ترجى في يوم الجمعة ما بين خروج الإمام إلى انقضاء الصلاة.**

ترجمه : د جُمعې په ورځ هغه ساعت چې پکې د دعاء د قبول امید کیږي هغه د امام له وتلو نه د مانځه تر خلاصېدلو پورې دی .

د حضرت ابي برده نه روایت دی هغه فرمایي :

**كنت عند ابن عمر ، فسأل عن الساعة التي في يوم الجمعة ؟ قال : قلت : هي الساعة التي اختار الله فيها الصلاة ، قال : فمسح رأسي ، وبرك علي ، وأعجبه ما قلت .**

ترجمه : زه د حضرت عبدالله ابن عمر سره وم هغه لما څخه د جُمعې په ورځ کې د هغه ساعت پوښتنه وکوله چې د کوم په اړه رسول الله ویلي دي چې په هغه کې دعاء قبلیږي ما ورته وویل هغه ساعت هغه وخت دی چې الله پکې مونځ غوره کړی دی

ده مبارک زما په سر باندې لاس را کش کړو او زما د پاره يې برکت وغوښت او ما چې څه ورته وويل هغه يې خوښ شول .

## ٦. د جُمعې د ورځې اخري ساعت

د جُمعې د ورځې په آخره برخه کې يو ساعت دی چې په هغه کې انسان دعاء وکوي دعاء يې قبليږي پدې اړه رسول الله فرمايي :

يَوْمُ الجُمُعة ثِنْتَا عَشْرَةَ سَاعَةً ، لاَ يُو جَد فِيهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ الله شَيْئاً إِلاَّ آتَاهُ إِيَّاهُ ، فَالْتَمِسُو هَا آخِرَ سَا عَةٍ بَعْدَ العَصْر.[1]

ترجمه : د جُعمې ورځ دولس ساعته ده (په دې کې يو داسې ساعت دی چې) داسې يو مسلمان بنده نه پيدا کيږي چې د الله نه څه سوال وکوي مګر الله هغه ورکوي او دا وخت په آخر ساعت کې ولټوئ د مازيګر نه وروسته .

په بل حديث کې د حضرت ابي سعيد الخدري او حضرت ابي هريره نه روايت دی چې رسول الله فرمايي :

إن في الجمعة ساعة لا يوافقها عبد مسلم يسأل الله عز وجل فيها خيرًا إلا أعطاه إياه، وهي بعد العصر.[1]

---

[1] رواه أبو داود

ترجمه : بېشکه په جمعه کې يو ساعت دی د هغه سره مسلمان بنده نه مخامخ کيږي چې د الله نه سوال کوي د خير مګر الله يې ورکوي او هغه ساعت د مازيګر نه وروسته دی .

د حضرت ابي هريره نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله فرمايل :

خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ فيه الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فيه خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيهِ أُهْبِطَ منها وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يُصَلِّي فَيَسْأَلُ الله فيها شيئا إلا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ. قال أبو هُرَيْرَةَ: فَلَقِيتُ عبدالله بن سَلَامٍ فَذَكَرْتُ له هذا الحديث فقال أنا أَعْلَمُ بِتِلْكَ السَّاعَةِ فقلت أَخْبِرْنِي بها ولا تَضْنَنْ بها عَلَيَّ قال هِيَ بَعْدَ لْعَصْرِ إلى أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فقلت كَيْفَ تَكُونُ بَعْدَ الْعَصْرِ وقد قال رسول الله لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وهو يُصَلِّي وَتِلْكَ السَّاعَةُ لَا يُصَلَّى فيها فقال عبدالله بن سَلَامٍ أَلَيْسَ قد قال رسول الله من جَلَسَ مَجْلِسًا يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ فَهُوَ في صَلَاةٍ قلت بَلَى قال فَهُوَ ذَاكَ[2].

ترجمه : ښه ورځ هغه چې لمر پکې ختلی وي د جُمعې ورځ ده په همدې کې آدم پيدا شوی دی او

---

1 رواه أحمد

2 سنن الترمذي

په همدې کې جنت ته ننه ایستل شوی دی او په همدې کې له جنت نه را ښکته کړل شوی دی او پدې کې داسې یو ساعت دی چې مسلمان له هغه سره پداسې وخت کې برابر شي چې مونځ کوي چې په هغه کې هرڅه وغواړي الله یې ورکوي بیا حضرت ابو هریره فرمايي زه د عبدالله بن سلام سره مخامخ شوم او دا حدیث مې ورته یاد کړو هغه وویل زه پدې پوه یم چې هغه ساعت په څه وخت کې دی ما ورته وویل نو بیا ماته ووایه او د هغه ساعت په اړه په مابانديې بخیلي مه کوه هغه راته وویل هغه ساعت د مازیګر نه وروسته دی تردې چې لمر پریوزي ... ما ورته وویل چې په هغه وخت کې څنګه کېدای شي رسول الله خو فرمایلي دي چې بنده له هغه سره داسې مخامخ شي چې دی مونځ کوي او د مازیګر نه وروسته خو مونځ نه کیږي بیا ده راته وویل ولې رسول الله دا نه دي ویلي چې څوک په یو ځای کې کیني او د مانځه انتظار وباسي دا کس پدې حالت کې هم په مانځه کې دی ما ورته وویل هو رسول الله خو همداسې ویلي دي ده راته وویل د هغې دا مطلب دی .

نو پدې حدیث کې هغه خبره یو ځل بیا تکرار شوه چې څوک مانځه ته انتظار کوي دا داسې دی لکه په مانځه کې چې وي او دا خبره مخکې هم تېره شویده چې د مانځه انتظار کونکی تر هغه وخته پورې په مانځه کې ګڼل کیږي چې ده خبرې نه وي کړې نو هغه کسان چې د جُمعې په ورځ د

مازیګر مونځ وکوي او د ماښام د مانځه لپاره انتظار وباسي دا داسې دی لکه مونځ چې کوي او پدې وخت کې چې هره دعاء کوي هغه قبول ته ډېره نیږدې وي .

# ۷. د شپې آخري برخه

د شپې په آخري برخه کې چې انسان را پاڅیږي او عبادت وکوي دا وخت هم دعاء قبول ته ډېره نیږدې وي لکه مخکې هم یو حدیث پدې اړه تېر شو چې رسول الله فرمایل :

ينزل ربنا تبارك وتعالى كل ليلة الى السماء الدنيا حين يبقى ثلث الليل الاخير فيقول: من يدعوني فأستجيب له من يسألني فأعطيه من يستغفرني فأغفر له ..[1]

ترجمه : الله په (بلا کیف ډول سره) د دنیا اسمان ته را ښکته کیږي په هره شپه کې چې کله د شپې آخري دریمه پاتې شي نو بیا وایي داسې څوک شته چې لما څخه دعا وغواړي زه به یې دعاء ورته قبوله کړم لما څخه څه شی وغواړي زه به یې ورکړم زما نه بښنه وغواړي زه ورته بښنه وکوم ؟

نو پدې وخت کې چې هرڅوک ویښ وي او دعاء کوي نو الله ورته دعاء قبلوي لکن مخکې یوه خبره تېره شوه زه یې تاسې ته در په زړه کوم چې د دعاء قبول معنی دا نه وي چې خامخا به بنده ته هغه شی ورکول کیږي چې کوم دی غواړي بلکه کله کله چې دعاء قبوله شي نو هغه د انسان لپاره ذخیره شي الله یې ورته په آخرت کې اجر ورکوي

[1] البخاري

او چې کله د قیامت په ورځ انسانان د دوی د دعا ګانې دومره ډېر اجرونه ووینې چې د دوی لپاره ذخیره شوې وي نو انسان به ووایې چې کاش په دنیا کې زما یوه دعاء هم داسې نه وای قبوله شوې چې ماته په دنیا کې راکړل شوې وای بلکه هرڅه راته دلته ذخیره شوې وای او کله کله چې دعاء قبوله شي نو د هغې دعا په واسطه د انسان له کوم مصیبت نه حفاظت وشي او دده دعاء د هغه بلا او مصیبت چې په ده باندې نازلېدونکی وي مخه ونیسي او کله کله چې دعاء قبوله شي نو انسان ته په دنیا کې هغه څه ورکړل شي چې ده غوښتي وي .

ددې حدیث نه وروسته امام ابو بکر الطرطوشي فرمایي :

## ليس بفقيه من كانت له الى الله حاجة نام عنها في الاسحار.

ترجمه : هغه کس پوه نه دی (کم عقل دی) د چا چې الله ته څه ضرورت وي او دی د سحر په وخت کې ویده شي او په هغه وخت کې یې له الله څخه ونه غواړي .

## ۸. د شپې د را ویښېدلو په وخت

هغه کس چې پروت وي او د شپې را ویښ شي او پاڅېدو ته یې هم له لاسه ونه شي پدې وخت کې هم چې دعاء وکوي نو دعاء یې قبول ته ډېره نېږدې وي ددې وخت په اړه یوه دعاء ده په یو حدیث کې رسول الله ﷺ فرمايي :

من تعار من الليل فقال : لا اله الا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمدوهو على كل شيئ قدير ,الحمد لله, وسبحان الله , ولا اله الا الله , و الله اكبر , ولا حول ولا قوة الا ب الله , ثم قال : اللهم اغفر لي . او دعا . استجيب له فان توضأ وصلى قبلت صلاته.

ترجمه : څوک چې د شپې را ویښ شي او وايي : نشته رښتونی لائق د عبادت مګر الله دی یو دی هغه لره شریک نشته او هغه لره ملک او بادشاهي ده او همده لره ثناء ده او هغه په هرشي باندې قادر دی ثناء ده الله لره ، پاکي ده الله لره ، او نشته رښتونی لائق د عبادت مګر الله دی الله لوی دی او نشته آوښتل له یو حالت نه بل ته او نه قوت په عبادت مګر د الله له لوري دی ای الله ماته بښنه وکوه ) او یا یې بله دعاء وکوله نو دعاء به یې قبوله شي او

که پاڅېدو اودس او مونځ يې وکولو نو مونځ به يې قبول شي .

## ۹. د چا په غياب کې ورته دعاء کول

هغه کس چې د چا په غياب کې چا ته دعاء کوي د هغه دعاء هم قبول ته ډېره نېږدې وي ددې امله ښه خبره ده چې څوک له چا نه دعاء غواړي او يا څوک چا ته دعاء کوي او دا دعاء چې په هر وخت کې وي او په هر حالت کې وي قبول ته ډېره نېږدې وي پدې اړه رسول ﷲ فرمايي :

ما من مسلم يدعو لاخيه بظهر الغيب الا قال الملك : ولك بمثل .[1]

ترجمه : هر بنده چې يو مسلمان ورور ته د هغه په غياب کې دعاء کوي د هغه سره ملک وي هغه دده د دعاء نه وروسته وايي ﷲ د تاته هم همداسې درکړي .

نو کوم انسان چې بل انسان ته دعاء کوي ملائک ده ته دعاء کوي او د ملائک دعاء قبليږي نو د ښه قسمت خبره ده چې چا ته ملائک دعاء وکوي نو زما پدې وخت کې د خپل لوستونکي نه دا تمه ده چې دا خبره ولولي نو ددې الفاظو ليکونکي ته به د ښائسته آخرت دعاء وکوي .

[1] صحيح مسلم

## ۱۰. د باران په وخت کې او د جهاد په وخت کې

په کوم وخت کې چې باران را ښکته کیږي دا د الله د رحمت د نازلېدلو وخت دی پدې وخت کې هم دعاء قبول ته ډېره نږدې وي او زر قبلیږي همدارنګه کله چې مجاهدي په جهاد کې وي او جنګ شروع شي او یو مسلمان یوازې د الله د رضان لپاره دې حالت ته ور وړاندې شوی وي او پخوا وخت کې به چې مخامخ جنګ کېدو هغه وخت وو چې کله به صفونه سره مخامخ شول نو پدې وخت کې په مسلمانانو باندې د الله د رحمت دنازلېدلو وخت وي رسول الله پدې اړه فرمایي :

اطلبوا إجابة الدعاء عند التقاء الجيوش وإقامة الصلاة ونزول الغيث[1].

ترجمه : د دعاء قبول وغواړئ په هغه وخت کې چې کله لښکرې سره مخامخ شي (په جهاد کې) او کله چې مونځ ودریږي او کله چې باران وریږي .

## ۱۱. د رمضان په میاشت کې

[1] السلسلة الصحيحة 1469

د رمضان مبارکه مياشت هم د الله د رحمت د نازلېدلو مياشت ده پدې مياشت کې هم دعاء قبول ته ډېره نېږدې وي هغه کسان چې د خپلې دعاء قبلېدل غواړي هغوی بايدې پدې مياشت کې ډېرې دعا ګانې وغواړي او پدې مياشت کې هر وخت دعاء قبلېږي رسول الله پدې اړه فرمايي :

إن لله تبارك وتعالى عتقاء في كل يوم وليله وان لكل مسلم في كل يوم وليله دعوة مستجابة .[1]

ترجمه : بېشکه الله (د رمضان په مياشت کې) عتقاء (له اور نه ازاد خلک) لري په هره ورځ او شپه کې او بېشکه د مسلمان دعاء په هره ورځ او شپه کې قبلېږي .

[1] مسند الإمام احمد

# ۱۲. د روژه ماتي وخت

هغه کس چې روژه يې نيولې وي (که په رمضان کې وي که بغير د رمضان نه ) کله چې روژه ماتوي پدې وخت کې دعاء قبول ته ډيره نيږدې وي ځکه روژه الله ته يو منلى عبادت دى او پدې سره الله له بنده نه ډير زيات خوشحاليږي نو ددې عبادت په آخر وخت کې په بنده باندې د الله رحمت نازليږي نو چې کومه دعاء کوي هغه قبول ته نيږدې وي

**ثلاث لا ترد دعوتهم الإمام العادل والصائم حتى يفطر ودعوة المظلوم يرفعها الله عز و جل دون الغمام يوم القيامة وتفتح لها أبوب السماء ويقول بعزتي لننصرنك و لو بعد حين .**

ترجمه : درى کسان دي چې د هغوى دعاء نه رد کيږي (خامخا قبليږي) عادل امام روژه دار ترڅو يې چې روژه نه وي ماته کړې او د مظلوم دعاء چې په خپله دعاء سره د الله نه مرسته او د هغه نصرت غواړي الله د هغه دعاء تر وريځې هم پورته کوي (ډير قدر ورکوي) د قيامت په ورځ او د هغه دعاء ته د اسمان دروازې خلاصيږي او الله (د هغه د دعاء په ځواب کې) فرمايي : زما

د په خپل عزت قسم وي زه به ستا مرسته وکوم اګر که څه وخت وروسته وي.

په بل ځای کې رسول الله فرمايي :

للصائم عند فطره دعوة لاترد.

ترجمه : د روژه دار سړي د روژه ماتي په وخت کې دعاء ده چې نه رد کيږي (خامخا قبليږي) .

## ۱۳. د فرض مانځه نه وروسته

کله چې فرض مونځ اداء کړل شي د هغه نه په وروسته وخت کې هم دعاء قبول ته ډيره نيږدي وي پدې وخت کې هم د عبادت د ختم وخت وي او پدې وخت کې په بنده باندې د الله رحمت وريږي پدې اړه حضرت ابي همامة فرمايي رسول الله ته وويل شول :

أي الدعاءاسمع قال: جوف الليل الأخر ودبر الصلوات المكتوبات.[1]

ترجمه : کومه دعاء ډيره ښه اوريدله کيږي (قبليږي)؟ رسول الله ورته وويل د شپې په آخره برخه کې او د فرض مونځونو څخه وروسته .

[1] سنن الترمذي

## ۱٤. د اوداسه او دوه ركعته مونځ نه وروسته

كله چې يو بنده اودس وكوي او بيا دوه ركعته مونځ وكوي ددې مانځه نه وروسته هم چې كومه دعاء غواړي قبول ته ډېره نېږدې وي پدې اړه رسول الله فرمايي :

**من توضأ فأسبغ الوضوء ثم صلى ركعتين يتمهما أعطاه الله ما سأل معجلا أو مؤخرا .**

ترجمه : چا چې اودس وكولو او ښه اودس يې وكولو بيا يې دوه ركعته مونځ په ښه توګه وكولو الله به هر هغه څه وركړي چې او س يې دى غواړي كه زر او كه په ځنډ سره وي .

## ۱٥. د زم زم اوبو د څښلو په وخت كې

د زم زم اوبه مباركې اوبه دي چې كله هغه بنده وڅښي چې پدې وخت كې هر سوال وكوي قبليږي پدې اړه رسول الله فرمايي :

**ماء زمزم لما شرب له .** [1]

[1] سنن ابن ماجه وصححه الألباني

ترجمه : د زمزم اوبه د هر هغه څه لپاره دي چې د کوم شي لپاره وڅښل شي .

## ١٦ . په اوداسه ويده کېدلو او د شپې د را پاڅېدلو په وخت

څوک چې د شپې په اوداسه سره او د الله د ذکر سره ويده شي نو دا کس چې د شپې را ويښ شي دعاء وکوي هغه دعاء الله قبلوي رسول الله پدې اړه فرمايي :

ما من المسلم يبيت على ذكر طاهرا فيتعار من الليل فيسأل الله خيرا من الدنيا و الأخيرة إلا أعطياه . [1]

ترجمه : کوم بنده چې څملي د ذکر سره د پاکي په حالت کې او بيا د شپې را ويښ شي چې هرنېک شی له دنيا او آخرت نه د الله څخه وغواړي الله يې ورکوي .

## ١٧. په لا اله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين سره دعاء کول

هغه کس چې په پورتنۍ کلمه سره کومه دعاء وغواړي هغه دعاء هم قبول ته نېږدې وي او دا هغه دعاء ده چې حضرت يونس د ماهي په ګېډه

1 صحيح في سنن ابن داوو

کې ويله او الله هغه د ماهي په ګېډه کې سلامت وساتلو رسول الله پدې اړه فرمايي :

**دعوة ذي النون وهو في بطن الحوت لا اله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين لم يدعو بها رجل مسلم في شئ قط إلا استجاب الله له .[1]**

ترجمه : د حضرت يونس دعاء کله چې هغه د ماهي په ګېډه کې وو **لا اله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين** پدې باندې هېڅ مسلمان سړی دعاء نه کوي بالکل مګر هغه قبليږي .

## ١٨ . د بيمار د پوښتنې يا مړي ته د ورتلو په وخت

څوک چې د کوم بيمار پوښتنې ته ورشي هلته چې وي نو پدې وخت کې هم دده دعاء قبول ته ډېره نېږدې وي دا دعاء چې هر چا ته کوي د ځان لپاره او که د بيمار لپاره يې کوي قبليږي همدارنګه څوک چې مړي ته ورشي په هغه وخت کې هم دده دعا زر قبليږي رسول الله فرمايي :

[1] صحيح سنن الترمذي

إذا حضرتم مريضا أو ميتا فقولوا خيرا فان الملائكة يؤمنون على ما تقولون .[1]

ترجمه : کله چې تاسې يو بيمار ته او يا مړي ته ورشئ نو هلته د خير خبرې کوئ (نېکه دعاء وغواړئ) ځکه ملائک ستاسې په دعاء باندې آمين وايي .

## ١٩. د حمد او ثناء او درود نه وروسته

کله چې انسان د الله حمد او ثناء ووايي او په رسول الله باندې درود ووايي د هغه نه وروسته چې دعاء وغواړي دا دعاء قبول ته ډېره نېږدې وي پدې وخت کې دعا قبليږي يو وخت چې رسول الله د يو کس اواز آورېدو چې هغه په مانځه کې دعاء کوله نه يې د الله حمد او نه يې په رسول الله باندې درود ووايه او دعاء يې شروع کړه نو رسول الله وويل ده بيړه وکوله بيا يې را وغوښت ده ته او يا بل چاته يې وويل :

إذا صلى أحدكم فليبدأ بتمجيد ربه عز وجل وثناء عليه ثم يصلي على النبي صلى الله عليه وسلم ثم يدعو بعده بما شاء .[1]

---

[1] صحيح مسلم

ترجمه : کله چې په تاسې کې يوه مونځ کولو نو اول د د الله حمد او لويي بيان کړي په هغه د ثناء ووايي بيا د په نبي باندې درود ووايي بيا يې چې هره دعاء خوښه وي هغه د وغواړي .

## ٢٠. د عرفات ورځ

د عرفات په ورځ هم دعاء قبول ته نيږدې وي څوک چې غواړي چې د دوی دعاء د قبوله شي نو د عرفات ورځ د له لاسه نه ورکوي او کوشش د وکوي چې پدې ورځ زياتې دعا ګانې وکوي رسول الله د عرفات د ورځې په اړه فرمايي :

ما من يوم أكثر إن يعتق الله به عبد من النار من يوم عرفة [2].

ترجمه : د عرفات د ورځې نه زيات د الله په وړاندې د اور نه ازاديدونکي نشته (پدې ورځ الله ډيرو کسانو ته بښنه کوي)

په بل حديث کې رسول الله فرمايي :

خير الدعاء دعاء يوم عرفة وخير ما قلت أنا و النبيون من قبلي لا اله إلا الله وحده لا شريك له وهو على كل شئ قدير.

---

1 سنن ابن داوود

2 صحيح مسلم

ترجمه : غوره دعاء د عرفات د ورځې دعاء ده او په هغه څه کې چې ما او زما نه وړاندې انبياوو ويلي دي هغه دا دعاء ده ( نشته په حقه معبود مګر يوازې الله دى شريک نه لري او هغه په هرشي باندې قادر دى) .

## ٢١ . د ذکر په مجلس کې

په کوم مجلس کې چې د الله ذکر کيږي په هغه مجلس کې چې څوک دعاء کوي نو هغه دعاء قبول ته ډيره نيږدې وي او الله هغه دعاء قبلوي پدې اړه يو اوږد حديث دى چې ټول پند او عبرت دى رسول الله فرمايي :

إن لله تبارك وتعالى ملائكة سيارة يتبعون مجالس الذكر فإذا وجدوا مجلس في ذكر قعدوا معهم وحف بعضهم بعضا بأجنحتهم حتى يملئوا ما بينهم وبين السماء كله فإذا تفرقوا عرجوا وصعدوا الى السماء فيسألهم الله عز وجل وهو أعلم بهم من أين جئتم فيقولون جئنا من عند عباد لك في الأرض يسبحونك ويكبرونك ويهللونك ويحمدونك ويسألونك قال سبحانه وتعالى هل رأوني فيقولون لا و الله ما رأوك فيقول وكيف لو رأوني قالوا لو رأوك كانواأشد لك عباده واشد لك تمجيدا و أكثر لك تسبيحا قال وماذا يسألون يسألونك جنتك قال: وهل رأوا جنتي؟ قالوا: لا أي رب! قال: فكيف لو رأوا جنتي؟ ! قالوا: ويستجيرونك، قال: ومم يستجيرونني؟ قالوا: من نارك يا رب! قال: وهل رأوا ناري؟ قالوا: لا، قال: فكيف لو رأوا ناري؟! قالوا: ويستغفرونك، فيقول: قد غفرت لهم، أعطيتهم

ما سألوا، وأجرتهم مما استجاروا، فيقولون: رب! فيهم فلان عبد خطاء -أي: كثير الخطايا والذنوب- إنما مر فجلس معهم -أي: كأن له حاجة عند أحدهم، أو هو عابر سبيل، ولم يقصد التواجد في مجلس الذكر لأجل الذكر- فيقول: وله غفرت، هم القوم لا يشقى بهم جليسهم. [1]

ترجمه : بېشکه د الله لپاره ملائکې دي چې هغه ګرځي د مجلس ذکر لټوي کله چې د ذکر مجلس پیدا کړي ورسره کیني او بعضې یې په بعض باندې وزرونه ور خپاره کړي تردې چې د زمکې او اسمان مینځ ډک کړي کله چې سره بېل شي نو اسمان ته وخیږي الله ورڅخه پداسې حال کې پوښتنه کوي چې هغه د دوی په حال باندې ښه خبر دی له کوم ځای نه راغلئ؟ دوی ورته وایي مونږ ستا له بندګانو څخه راغلو چې په دنیا کې وو ستا تسبیح یې ویله ستا لویي یې بیانوله او ستا حمد یې ویلو او ستا نه یې سوالونه کول الله ورته وایي آیا زه دوی لیدلی یم؟ دوی ورته وایي نه و الله ته یې لیدلی نه یې الله ورته وایي که دوی ما ووینې بیا به یې څه حال وي؟ دوی ورته وایي که دوی تا ووینې نو دوی به لا زیات ستا عبادت وکوي او ډېره لویي به ستا بیان کړي او ستا به ډېره تسبیح ووایي او بیا الله ورته وایي لما څخه یې څه شی غوښتل؟ دوی ورته وایي لتا نه یې جنت غوښتلو الله ورته

---

1 متفق علیه

وايي آيا دوی زما جنت لیدلی دی؟ ملائک ورته وايي نه ربه بیا الله وايي که دوی زما جنت ووینيي بیا به یې څه حال وي؟

ملائک ورته وايي په تا باندې یې پناه غوښته الله به ورځخه پوښتنه وکوي له څه شي نه یې پناه غوښته دوی به ورته وايي ستا د اور له عذابه الله پوښتنه کوي آیا دوی زما اور لیدلی دی؟ ملائک ورته وايي نه الله ورته وايي که دوی زما اور ووینيي بیا به د دوی څه حال وي؟ ملائک بیا فرمایي دوی لتا نه بښنه غوښته الله وايي ما دوی ته بښنه وکوله او دوی ته مې ورکړل هغه څه چې دوی غوښتل او له کوم شي نه چې دوی پناه غوښته ما پناه ورکړه دوی ورته وايي ای ربه په دوی کې فلاني ګنهکار هم دی یعني ډېرې ګناهونه او خطاګانې یې کړې دي هغه په لاره تېرېدو له دوی سره کېناستلو لکه په دې ناستو خلکو کې یې له چا سره چې کار وو او یا مسافر وو په لاره تېرېدو له دوی سره کېناستلو او له دوی سره یې د ذکر په مجلس کې د شرکت اراده نه وه الله ورته وايي ده ته مې هم بښنه وکوله دا (ذکر کونکي) یو داسې قوم دی چې له دوی سره ناست کس نه بد بخته کیږي .

یعني هغه کس چې له دوی سره صرف د کوم شي لپاره د انتظار لپاره او یا هسې پدې مجلس کې له دوی سره ناست وو او مقصودي پدې مجلس کې دشرکت لپاره هم نه وو راغلی نو الله وايي دې

کس ته مې هم ددې ذکر د مجلس د شريکانو له مخه بښنه وکوله دوی يو داسې قوم دی چې څوک د دوی د مجلس شريک شي هغه بيا نه بد بخته کيږي بلکه هغه هم بختور وي .

## ۲۲. د مصيبت په وخت کې

کله چې په انسان باندې کوم مصيبت نازل شي او دی په هغه مصيبت باندې صبر وکوي نو پدې انسان باندې هم د الله د رحمت دروازې را خلاصي شي ځکه په مصيبت باندې صبر د الله په فيصله باندې راضي کېدل او هغه له خوشحالي سره په سترګو منل دي نو پدې وخت کې چې څوک دعاء وکوي دا دعاء هم قبول ته ډيره نيږدې وي .

پدې اړه رسول الله فرمايي :

ما من مسلم تصيبه مصيبة فيقول كما أمره الله أنا لله وأنا إليه راجعون ، اللهم أجرني في مصيبتي واخلف لي خيراً منها إلا أخلف الله له خيراً منها.[1]

ترجمه : کوم مسلمان ته چې مصيبت ورسيږي او هغه داسې ووايي لکه الله چې ده ته امر کړی وي (مونږ ټول الله لره يو او مونږ ټول هغه ته رجوع کونکي يو) ای الله ماته زما په مصيبت کې اجر راکړه او لدې ضائع شوي شي نه ماته غوره څه راکړه الله به ورته له هغه ضائع شوي شي نه غوره شی ورکړي .

## ۲۳. د پوره يقين په وخت کې

---

[1] صحيح مسلم

هغه وخت چې کله د زړه نه څوک الله ته راجع شي او په الله یې یقین راشي پدې وخت کې هم دعاء قبول ته نیږدې شي او هر وخت چې انسان دعاء کوي نو دعاء به یې هم په هغه وخت کې قبلیږي چې دده په زړه کې دا خبره وي چې الله زما دعاء قبلوي او که دده په زړه کې دا یقین په پوره توګه نه وي ځای په ځای شوی نو بیا یې دعاء قبول ته نه نیږدې کیږي رسول الله هم پدې اړه فرمایي :

ادعوا الله وأنتم موقنون بالإجابة واعلموا أن الله لا يستجيب دعاء من قلب غافل لاه.

ترجمه : د الله نه پداسې حال کې سوال کوئ چې ستاسې یقین وي چې الله زمونږ غوښتنه مني او پدې پوه شئ چې الله د هغه زړه دعاء نه قبلوي چې هغه غافل او لهو کونکی وي .

## ۲٤. د مظلومیت په وخت کې

هغه مظلوم چې هغه چا ته شېرا کوي چې په ده باندې یې ظلم کړی وي د هغه دعاء هم قبول ته ډیره نیږدې وي او زر قبلیږي لدې امله رسول الله هم خپلو امتیانو ته فرمایي چې د مظلوم له شیرا نه ځان وساتئ رسول الله فرمایي :

اتقوا دعوة المظلوم فانه ليس بينه و بين الله حجاب .[1]

د مظلوم له ښيرا نه ځان وساتئ ځکه د هغه او د الله په مينځ کې هېڅ حجاب نشته ( د هغه دعاء د قبول ځای ته زر رسيږي) .

په بل حديث کې رسول الله فرمايي :

اتقوا دعوة المظلوم فان دعوة المظلوم مستجابة .

ترجمه : د مظلوم له ښيرا نه ځان وساتئ ځکه د مظلوم ښيرا قبليږي .

1 صحيح البخاري

## ۲۵. د پلار دعاء زوی ته

په کوم وخت کې چې پلار د خپل زوی په حق کې لاس پورته کړي هغه دعاء هم قبول ته ډېره نیږدي وي رسول الله پدې اړه فرمايي :

**ثلاث دعوات مستجابات لا شك فيهن دعوة الوالد ودعوة المسافر ودعوة المظلوم .[1]**

ترجمه : درې دعا ګانې قبولې دي هېڅ شک پکې نشته د پلار دعاء ، د مسافر دعاء ، د مظلوم دعاء .

دا دعاء که د زوی په حق کې وي هم ډېره زر قبلېږي او که خدای مه کړه پلار له خپل زوی نه نا راضه وي او زوی ته شیرا کوي هم ډېره قبول ته نېږدې وي او زر قبلیږي .

[1] سنن ابن داوو

## ٢٦. د زوی دعاء پلار ته

په کوم وخت کې چې يو نېک عمل زوی د خپل پلار په حق کې د دعاء لاسونه پورته کړي دا دعاء هم زر قبلېږي رسول الله ﷺ فرمايي :

**إذا مات الإنسان انقطع عنه عمله إلا من ثلاثة صدقة جارية أو علم ينتفع به أو ولد صالح يدعو له.** [1]

ترجمه : کله چې انسان مړ شي د هغه څخه د هغه عمل قطع شي مګر د دريو شيانونه (دا دری شيان نه قطع کيږي) صدقه جاريه ، هغه علم چې فايده ترينه اخيستل کيږي او نېک زوی چې په ده پسې دعا ګانې کوي .

## ماخذونه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة،

[1] صحيح مسلم

الإسكندرية.
2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.
3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.
4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.
5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.
6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412ه مكتبة الملك فيصل.
7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .
8-القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.
9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.
10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ
11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.
12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة،

1408هـ -1998م.
13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.
14- على خطى الحبيب :عمرو خالد
17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م
18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.
19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة المكرمة.
20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ
21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.
22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.
23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ- 1982م.
24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ
25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.
26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.
27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28-السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ - 1996م.

٢٩-المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.

3٠- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

3١- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

3٢- القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ-1990م.

3٣- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.

# د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد ☸ د نبوت معجزې
پښتو
2. ړنګه ځاله
پښتو
3. آشیانه سوخته
فارسي
4. په اسلام کې د انسان حقوق
انګلیسي
5. دین یې دام دی ددنیا په لار کې اېښی
پښتو
6. فرار از کزار
فارسي
7. له کزاره تېښته
پښتو
8. زوړ دین نوی مسلمان
پښتو
9. ډم ډمکو جي او لیکوال
پښتو
10. ادیان پشت در
فارسي
11. له دروازې تر شا دینونه
پښتو

12. د انصاف او اعتدال لاره
پښتو
13. کفري الفاظ
پښتو
14. کل بچه فارسي
15. معلومات عمومي
فارسي
16. د حج لارښود پښتو
او انګلیسي
17. محمد رسول الله سیرت اخلاق او پېژندنه
پښتو
18. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه اول
پښتو
19. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه دوهم
پښتو
20. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه دریم
پښتو
21. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه څلرم
پښتو
22. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه پنځم
پښتو
23. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه شپږم
پښتو
24. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه اوم
پښتو
25. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه آتم
پښتو

26. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه نهم پښتو
27. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه لسم پښتو
28. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه اول پښتو
29. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه دوهم پښتو
30. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه دریم پښتو
31. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه څلورم پښتو
32. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه پنځم پښتو
33. د علم حدیث مطالعه پښتو او انګلیسي
34. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه شپږم پښتو
35. کلمه طیبة پښتو
36. الدعاء پښتو
37. اللهم عربي، پښتو، انګلسي
38. المسجد پښتو
39. قرآني معلومات لمړی برخه پښتو

40. سلام پښتو
41. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه اومه برخه پښتو
42. د وخت اهمیت (لمړی برخه) پښتو
43. د وخت اهمیت (دوهمه برخه) ستاسې په لاس کې